د ابتدائي طالبانو لپاره د تقرير د صلاحيت
پيدا کولو زبردسته تحفه



# د انجمن
# علمي تقريرونه


مؤلف
ابن جابر
فاضل جامعه فاروقيه کراچي

ترجمه کونکي
نيک زاده حقاني



جديد مكتبه رشيديه
قصه خوانی بازار محله جنگی پشاور 091-2580074



Maktaba Tul Ishaat.com

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

رحیم علی محمدالہی

د ابتدائي طالبانو لپاره د تقرير د صلاحيت
پيدا كولو زبردسته تحفه

# د انجمن تقريرونه


مؤلف

ابن جابر

فاضل جامعه فاروقيه كراچي

ترجمه كونكي

نيك زاده حقاني

فاضل دار العلوم حقانيه اكوره ختك



جدید

مکتبہ رشیدیہ

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور 2580074-091



Maktaba Tul Ishaat.com

## فهرست مضامین


| مضمون | صفحه |
|---|---|
| پیش لفظ | ۷ |
| د مُرتب عرض! | ۸ |
| انتساب | ۹ |
| حق دین | ۱۰ |
| د حضرت محمد ﷺ ولادت(پیدائښ) | ۱۲ |
| د حضور ﷺ مبارک راتلل | ۱٤ |
| د حضور ﷺ انقلاب | ۱۷ |
| د شهادت شوق | ۱۹ |
| حضور ﷺ سره د مسلمانانو مینه | ۲۲ |
| سیرت النبی ﷺ | ۲٤ |
| جهاد او دجهاد فائدی | ۲۷ |
| د علم فضیلت | ۲۹ |
| اتحاد او ایثار | ۳۱ |
| د سلام اهمیت | ۳٤ |
| د محنت انعام او بدله | ۳٦ |
| د دنیا حقیقت | ۳۸ |
| د قرآن فضیلت | ٤۰ |
| د لمونځ اهمیت | ٤۲ |
| د مونځ فضیلت | ٤٤ |
| د ټولو نه لوی عقلمند څوك دی؟ | ٤٦ |
| په اسلام کښې د ښځې مقام | ٤۹ |

د زړه سکون ..... ٥٢
علم د نور مینار دی ..... ٥٤
د جهاد جذبه ..... ٥٧
د محسنِ اعظم ﷺ سیرت ..... ٦١
د الله ﷻ وجود ..... ٦٤
تقوی ..... ٦٦
قرآن مجید د انقلاب والا کتاب دی ..... ٦٩
د دعوت او تبلیغ اهمیت ..... ٧١
د تولونه اوچت نبی ﷺ ..... ٧٣
د صدیق اکبر رضي الله عنه شان ..... ٧٦
دارالعلوم دیوبند او د اسلام خدمات ..... ٧٩
حاضر وخت کښې د جهاد اهمیت ..... ٨٢
د علم دولت څنګه ملاویږی؟ ..... ٨٥
امانتداری ..... ٨٧
د استقامت حقیقت ..... ٨٩
د تکبر انجام ..... ٩١
د قرآن کریم په ژبه سیرت النبی ﷺ ..... ٩٣
د مصطفی ﷺ مقام ..... ٩٦
د دینی مدرسو اهمیت ..... ٩٨
قتال فی سبیل الله ..... ١٠١
د غیبت حقیقت او نقصانات ..... ١٠٣
د درود شریف فضائل ..... ١٠٥
د جهاد اعلان ..... ١٠٨
ختم نبوت ..... ١١١

Maktaba Tul Ishaat.com

د رمضان المبارک فضائل ..... ۱۱۳
د گناهونو نقصانات ..... ۱۱۵
د نوبې اهمیت ..... ۱۱۷

## دویمه حصه

د مرتب عرض ..... ۱۲۱
انتساب ..... ۱۲۳
د کلمې طیبې مقصد ..... ۱۲٤
سیرت النبی المعلم ﷺ ..... ۱۲۷
د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ..... ۱۲۹
اسلامی انقلاب او جهاد ..... ۱۳۱
د علم مقام ..... ۱۳٤
د معلم مقام ..... ۱۳۷
مسلمان ولی مغلوب دی؟ ..... ۱٤۰
د نبی کریم سیرت ﷺ ..... ۱٤۲
د بدعت حقیقت ..... ۱٤۵
په سُنتو عمل وکړی ..... ۱٤۸
حقوق العباد ..... ۱۵۱
حقوق الوالدین ..... ۱۵۳
د نبی آخرزمان ﷺ سیرت ..... ۱۵٦
عظمت صحابه رضی الله عنهم ..... ۱۵۹
د ټولو پریشانو حل لمونځ ..... ۱٦۲
مشکل کُشا څوک ..... ۱٦٤
د جهاد د پرینښودو سزا ..... ۱٦۷

د نبی کریم ﷺ بعثت یو لوی نعمت ........ ١٦٩
اسلام په توره خپور شوي یا په اخلاق ........ ١٧٢
د تقوی ثمرات ........ ١٧٦
د پردي اهمیت ........ ١٧٨
د ګانو نقصانات ........ ١٨١
ښکلی اخلاق ........ ١٨٣
صفائی او پاکیزګی ........ ١٨٥
پیغمبر صلی الله علیه وسلم رحمة للعالمین ........ ١٨٧
د نبی اکرم ﷺ عزت او ناموس ........ ١٨٩
د عمر فاروق رضی الله عنه سیرت ........ ١٩٢
د ژبی حفاظت ........ ١٩٧
د والدینو مرتبه د قرآن او حدیث په رڼا کښي ........ ١٩٩

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# پیش لفظ

حامداً ومصلیاً ومسلماً

امابعد: مدرسه انوار العلوم د اکابرو په نګرانی او د علامه بنوری ټاون زیرپرستی کښی د ماشومانو په دینی تعلیم او تربیت کښی مصروف ابتدائی مدرسه ده او د دی په شعباتو کښی یوه شعبه بزم علامه انور شاه کشمیری رحمه الله علیه ده. او دا د طلباء کرامو بزم دې. او په دی کښی طلباء شریك کیږی او قراءت، نعت او تقریرونو د زده کولو مشق کوی. او خپل ځان کښی د صلاحیت او خود اعتمادی پیدا کولو کوشش کوې. مولانا زاهد عالم جابر صاحب (فاضل دار العلوم کراچی او ناظم تعلیمات مدرسه انوار العلوم) او مولوی محمد سلیمان رحمانی (فاضل علامه بنوری ټاون او مدرس مدرسه انوار العلوم) د بزم علامه انورشاه کشمیری اهم ذمه داران دی. چی دوی ډیر په محنت سره دا بزم چلوی. او د دوی د محنت ثمرات بالکل واضح دې

او د تعریف قابل دی، دا کتاب د دغه کوشش نو یوه سلسله ده

حضرت مولانا زاهد عالم جابر صاحب به د ابتدائي طالبانو د ذهن مطابق تقریرونه لیکل او بیا به یی طالبانو حواله کول. د دی وجی پدې کښی آسان الفاظ استعمال شوی دی د ابتدائي طالبانو د ذهن موافق

او اندازنې هم آسان دی. د دی خوبیو د وجی د مختلفو مدرسو ذمه واران استاذانو او طلباء کرامو د دی تقریرونو د شائع کولو د پاره بیا بیا اصرار کولو د دی وجی بنده مولوی سلیمان رحمانی صاحب ته عرض وکړو چی دی تقریرونو ته ترتیب ورکړه. د پاره د دی چی افاده ئې عامه شی

د الله جل جلاله نه دُعا ده چی دا کتاب مفید جوړ کړی او د دی په اشاعت باندی محنت کونکو ته د جزاء خیر ورکړی (آمین)

مولانا حسین علی مدیر مدرسه انوار العلوم کورنګی

# د مُرتب عرض !

الحمدلله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى امابعد!

عزتمندو لوستونكو! «د بزم انور تقريرونه» د اولنۍ حصې دويم ايډيشن زيات تزئين، تحسين، تبديل او ترميم سره ستاسو په لاسونو كښې دی.

الحمدلله! د اول ايډيشن مشهورتيا او د اهل مدارسو د طرف نه حوصله افزائي او د اكابر علماء كرامو شفقت دِ دی دويم ايډيشن د طباعت اصل محرك دی.

دا كتاب څه مستقل تصنيف نهٔ دی بلكې د مولانا محمدزاهد جابر صاحب مدظله تعالى ليكل شوی تقريرونو مجموعه ده كوم چې مولانا موصوف د اكابرو علمو د ويناګانو نه استفاده كړې او د ابتدائي درجو په طالبانو كښې د تقريري صلاحيت پيدا كولو دپاره ډير مختصر او آسان طريقې سره ليكلي دي. او د دې لومړی چاپ د مدرسه انوارالعلوم د مهتمم مولانا حسين علي صاحب په حكم شوی وو.

محترمو لوستونكو! انسان مركب دی د خطاء او نسيان نه لكه څرنګه چې مشهوره مقوله ده "اَلْاِنْسَانُ مُرَكَّبٌ مِّنَ الْخَطَا وَالنِّسْيَانِ" د دې وجې په دې ايډيشن كښې بې شميره غلطۍ كيدی شي او بنده د خپل كم علمۍ دِ وجې د هغې د معلومولو نه قاصر دی.

تاسو ته كه څه غلطۍ معلومه شي نو د اصلاح په نيت باندې خبرداری راكړئ، زه به ستاسو ډير شكرګزاريم.

"وَمَا تَوْفِيْقِي اِلَّابِاللهِ عليه تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ"

از مرتب

محمدسليمان رحماني

خادم التدريس/مدرسه انوارالعلوم كورنګی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه علامه بنوری ټاون

Maktaba Tul Ishaat.com

# انتساب

زه خپل دا معمولی شان محنت خپل مادر علمی جامعه فاروقیه شاه فیصل کالونی طرفته منسوب کوم.

چې د دې په سورې کښې په زرګونو محدثین، محققین، مدققین، مفتیان کرام، مصنفین، متکلمین، مبلغین، مؤرخین، مفسرین، مناظرین، مقررین، مدبرین، مفکرین، سیاستدانان، او صحافیان تیار شول.

اے خُدا این جامعه قائم بدار
فیض او جاری بود لیل ونهار

ابن جابر

# حق دین

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم! اما بعد فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

ان الدین عند الله الاسلام. (صدق الله العظیم)

وقال النبی صلی الله علیه وسلم ان الاسلام یهدم ما کان قبله (او کما قال علیه السلام)

محترم اساتذه کرام او زما د گلشنِ انور غیرتمندو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو مخ کښې د "حق دین" په موضوع باندې تقریر کول غواړم

**سامعین حضراتو!** په دنیا کښې په خلقو صرف یو دین فرض شوی دی او هغه دین اسلام دی. د دې نه علاوه بل یو دین هم قابل قبول نه دی.

د الله جل جلاله ارشاد دی: "وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ" لهذا د دین اسلام مقابله کښې یهودیت، عیسائیت، مجوسیت، دهریت، مرزائیت، رافضیت، قادیانیت وغیره ټول مردود دي

او په قبر کښې به صرف د دین اسلام باره کښې پوښتنه کولې شي: مَنْ رَّبُّكَ. ستا رب څوک دی. مَادِيْنُكَ. ستا دین څه دی. مَنْ نَبِيُّكَ. ستا نبی څوک دی

محترم سامعین! خوش قسمته دے هغه انسان چې هغه به دا جواب ورکوی دینی الاسلام. زما دین اسلام دی. بیا به فرښتې ده ته وائی "نَمْ کَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ" یعنی د ناوې په شان په آرام اوده شه

حدیث کښې راغلی دي. چې د قیامت په ورځ به الله رب العزت مخې ته ټول مونځونه پیش شی او عرض به وکړی "اَللّٰهُمَّ اَنَا الصَّلٰوةُ" اے الله زه مونځ یم. الله تعالی به وفرمائی "اِنَّكَ عَلٰی خَيْرٍ" بیشکه ته په خیر

Maktaba Tul Ishaat.com

(ښیګړی) ئې، دی نه پس به روژه حاضره شي الله ﷻ به وفرمائي "اِنَّكَ عَلٰى خَيْرٍ" بیشکه ته په خیر باندی ئې، دی نه پس به حج حاضر شي او عرض به وکړی "اَللّٰهُمَّ اَنَا الْحَجُّ" ای الله ﷻ زه حج یم. الله ﷻ به وفرمائي "اِنَّكَ عَلٰى خَيْرٍ" بیشکه ته په خیرئې دی نه ورستو به دین اسلام حاضر شي او عرض به وکړی "اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَاَنَا الْاِسْلَامُ" ای الله ﷻ ته سلام ئې اوزه اسلام یم، الله ﷻ به وفرمائي "اِنَّكَ عَلٰى خَيْرٍ" ته هم په خیرئې، "اَلْيَوْمَ بِكَ اُعْطِيْ وَبِكَ آخُذُ (اوكما قال صلی الله علیه وسلم)" او ستا په ذریعه به زۀ نن فیصله کوم چې څوك به جنت ته داخلیږی او څوك جهنم ته.

زما د اسلام ورونو

دالله ﷻ ارشاد دی "اُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ" چې دین اسلام کښی پوره پوره داخل شي او د شیطان خبره مه منی.

زما غیرتمندو مسلمانانو! یاد ساتی چې دین اسلام د یو خاص عمل نوم نۀ دی، دین اسلام د یو خاص شوق نوم نۀ دی.. دین اسلام د خپل معمولاتو پوره کولو نوم نه دی. دین اسلام د خپل عادت پوره کولو نوم نه دی. بلکې دین نوم دی خپل رب ته د ځان حواله کولو، دین نوم دی د خپل خوښی ژوند قربانول او د الله ﷻ د خوښې ژوند اختیارول. دین نوم دی اتباع الرسول او دین نوم د تسلیم او رضا ده

د الله ﷻ نه دُعا ده چې الله ﷻ مونږ او تاسو ټولوته "حق دین" د اتباع توفیق راکړی او د شیطان د مکر نه مونږ محفوظ وساتی.

آمین یارب العلمین

وآخردعوانا ان الحمدلله رب العلمین

# د حضرت محمد ﷺ ولادت (پیدائښ)

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

"اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَاٰوٰی" (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ اِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً. (اوکما قال علیه السلام)

قابل صد احترام اساتذه کرام او زما هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه ستاسو وړاندې په کومه موضوع باندې شونډې خلاصول غواړم د هغې نوم دی د "حضرت محمد ﷺ پیدائښ"

ډیر وقدرمنو اوریدونکو د الله ﷻ شان دی چې د نبی ﷺ د پیدا کولو نه مخکښې ئې د هغوی والد عبدالله وفات کړو. او دوی ئې یتیم پیدا کړو. دپاره د دې چې دنیا والو ته معلومه شي چې زما دا یتیم د دنیا اسری ته محتاج نهٔ دی. بلکې د ابتداء نه به د دهٔ تربیت هغه ذات کوی کوم چې به دده په سر باندې آئنده کښې د نبوت تاج ږدي. او چې د توحید په دې مکتب کښې محبوب ﷺ د پلارجان پلار جان ویلو عادت جوړ نه شی، بلکې د احدٌ احدٌ عادت ئې جوړ شی څکه

چې فاران کښې به کوم باباجان ته آواز کوی    طائف کښې به کوم باباجان ته آواز کوی
بدر کښې به کوم باباجان ته آواز کوی    اُحد کښې به کوم بابا جان ته آواز کوی
خندق کښې به کوم باباجان ته آواز کوی    حُنین کښې به کوم باباجان ته آواز کوی

د اوس نه الله ﷻ رابله الله ﷻ رابلل ستا کار دی او د یتیم امداد کول زما کار دی "اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَاٰوٰی"

د نبی ﷺ دنیا ته دراتلو اولنی ورځ وه چې د قیصر او کسری په ایوان کښې زلزله راغله، د عبادت خانو أور ونه ئې مړه شول. بُتان ئې مات شول دا څنګې جوړې شوې چې توحید والا راغلو

وګوری. حرم طرف ته په لات    عزٰی او منات باندې زلزله راغله

Maktaba Tul Ishaat.com

ریبرې، چا به ویل ای! زمونږ خُدایا نو په تاسو څه وشول.

آواز راغلو، توحید والا راغلو توحید والا راغلو.

د چا په کور کښې نغمې ویلی شي... د چا په کور کښې ترانې ویلې شي، هغه وګورې د آمنه بې بې په کور کښې د فرښتو په سرداري کښې ترانه ویلی شي. توحید والا راغلو—— توحیدوالا راغلو "سُبحان الله"

محترم سامعینو!

د چا په کور کښې چې ماشوم پیدا شي نو رشته داران مبارکي ورکوي، قوم مبارکي ورکوي، دوستان مبارکي ورکوي.

هغه و ګورې نن عبدالله نشته، لیکن په دروازه کښې نوراني فرښتې مبارکي ورکوي.

نوراني مخلوق و بشر په دروازې ولاړې دي، او ملائکې د یتیم په دروازې.

سلام پهٔ تا ای لعل د آمنې او محبوب سبحاني
سلام په تا ای فخر موجودات نوع انساني

"وآخردعوانا ان الحمدلله رب العلمين"

# د حضور ﷺ مبارک راتلل

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم
بسم الله الرحمن الرحیم
لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا (صدق الله العظیم)
وقال النبي ﷺ، كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ وَالْجَسَدِ.
(او کما قال علیه السلام)

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو اوریدنکو!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر عنوان "د حضور ﷺ مبارك، محمود، مسعود او مبروك راتلل" سره معنون دي.

گرانو اوریدونکو: د تاریخ صفحې واړوی او وګوری دی دنیا کښې د حضور ﷺ د راتګ نه مخکښې څۀ وو. صرف ظلم وو، د کفر او شرك بادشاهی وه، هر طرف ته فساد وو، شیطاني حکومت وو، د قتل او بدمعاشی عالم وو، په معمولی معمولی خبرو باندې ځان مړکول عام وو، خپلی ماشومانی بچی ژوندی ښخول معیوب نه وو، ښځو به د ځناورو په شان ژوند تیرولو، د هر چا جُدا جُدا خُدای وو، "چې د چا زورو د هغه کور" والاقانون وو، لنډه دا چې انسانیت د تباهی او بربادی په آخری کناري ولاړ وو.

ناڅاپه د دنیا دښائست والا ستوری وپړکیدو او د انسان د خوش قسمتی ثاقب (روښانه ستوری) وځلیدو، تیارو ته د رڼاګانو خبر ملاؤ شی، چې آخر د پیر (ګل) په ورځ په "۹" ربیع الاول د عام الفیل په کال مطابق د "۲۲" اپریل ۵۷۱ء باندی د عبدالله یتیم. د آمني د زړه ټکړه، شاه حرم. د عرب او عجم حکمران، د انسانیت قائد، شهنشاه کونین، د بی نظره ته نظر ورکولو دپاره، مړۀ زړونو له حیات ورکولو دپاره، غریبانانو ته انصاف ورکولو دپاره، د ملك ژبی اورنګ او نسل اختلاف د ختمولو

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره، د ټولو خلقو په ژبو باندې صرف یوه کلمه "لا اله الا الله محمد رسول الله" جاري کولو دپاره، د عالم قدس نه عالم امکان ته د نبوت د قافلې آخري مقتدا او د نبوت دماڼې آخري ستنې تشریف راوړو

محترم آوریدونکو! راځئ چې زه تاسو ته د حروف تهجي په ژبه حضور ﷺ د مبارك راتګ نا اشنا شان بیان کړم، لهذا د نبي ﷺ په راتګ باندې!!!

الف وویل ...... د الله ﷻ رسول راغلو

ب وویل ...... د اسلام باني راغلو

ت وویل ...... تاجدار مدینه راغلو

ث وویل ...... ثروت والا راغلو

ج وویل ...... جلیل القدر راغلو

ح وویل ...... حبیب الله راغلو

خ وویل ...... خاتم النبیین راغلو

د وویل ...... د دوه جهانو والي راغلو

ذ وویل ...... ذٰلكَ الْكِتٰبُ راغلو

ر وویل ...... رَحْمَةٌ لِلْعٰلَمِیْن راغلو

ز وویل ...... د زماني امام راغلو

س وویل ...... ساقئ کوثر راغلو

ش وویل ...... شافعي محشر راغلو

ص وویل ...... صادق او امین راغلو

ض وویل ...... د ضعیفانو مدد کونکے راغلو

ط وویل ...... طاهر او مطهر راغلو

ظ وویل ...... ظلم ختمونکی راغلو

ع وویل ...... د عرب تاجدار راغلو

غ وویل ...... د غریبانانو ماوی راغلو

ف وویل ..............د فقیرانو مولی راغلو

ق وویل .............. قرآن والا راغلو

ك وویل.............. کمبل والا راغلو

ل وویل.............. لوح او قلم والا راغلو

م وویل .............. محمد رسول الله راغلو

ن وویل.............. دنییانو سردار راغلو

و وویل.............. والضُحٰی راغلو

ه وویل .............. هدایت کونکے راغلو

ی وویل.............. یکتا شان والا راغلو

د دې وجې شاعر وائی

"بعد از خُدا بزرگ توهی قصه مختصر"

وماعلینا الا البلٰغ

Maktaba Tul Ishaat.com

# د حضور ﷺ انقلاب

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم
بسم الله الرحمن الرحیم
وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنْسَاهُمْ أَنْفُسَهُمْ.
وقال النبي ﷺ: بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ (او کما قال علیه السلام)

زما محترم اساتذه کرام او د قابل قدر طالبانو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زۀ نن ستاسو په وړاندې د "محمد عربي ﷺ انقلاب" په موضوع تقریر کول غواړم.

قدرمنو اوریدونکو: د خُدای هیرولو نتیجه داده چې انسان نه خان هم هیر شي، د علم او عقل. دولت او اقتدار، دماغ او د زړه احساس، د کتب خانو او د شاعرانو د محفلونو او د علماؤ د مجلسونو موجود کیدو باوجود چې کله د انسان نه خپل الله ﷻ هیر شي، نو ددې دورې دا نحوست وي چې تاته خپل خان یاد ساتل هم ناممکن وي.

که خان هیرول انفرادي صورت کښې وي نو بیائې اثرات هم محدود وي، خوکه اجتماعي صورت اختیار کړي نو بیا ټوله معاشره د فساد نه ډکه شي. د زندګۍ تیرولو ټول نظام تباه شي او د "ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ" نقشه مخې ته راشي.

د پیغمبر ﷺ د بعثت نه مخکښې هم دغه حالت وو. انسانیت تباه او برباد وو، پوره معاشره د فساد نه ډکه وه څوک هم د دې دسمولو دپاره تیار نه وو، دغه وخت کښې الله تعالی محمد ﷺ مبعوث کړو، او دوی ته نې مکمل او واضح دین ورکړو. نبي کریم ﷺ ټولې دنیا ته دعوت ورکړو ای دنیا والو ستاسو د زندګۍ تمام نظام غلط دی، ستاسو عادتونه، اخلاق او رسمونه ټول هر څه غلط دي

نبی ﷺ یواځې د دغه دعوت ابتداء وکړه، او خپل ځان ئې خطره کښې واچولو. او د باطل سره ئې مقابله وکړه، یو ځل د نبی ﷺ ته شکایت وکړو چې ته دا کار لږ وخت پورې پریږده، نو وېی فرمایل ای زما تره! کچېرته دا کافران زما په یو لاس کښې سپوږمۍ او په دویم لاس کښې لمر کیږدي. بیا به هم زه د خپل مشن نه منعه نه شم په درویشت(۲۳) کاله کښې ئې داسې انقلاب راوستو، په قول د سید سلیمان ندوی رحمة الله علیه د استعداد اختلاف نه باوجود یو څپر په زرګونو، او لکونو خلقو کښې ظاهر شو او دروح پشان په ټولو کښې دننه شو. هر انسان که بادشاه وو او که ګدا، مالدار وو که غریب، حاکم وو که محکوم، قاضي وو او که ګواه، استاذ وو او که شاګرد، عابد او زاهد وو او که تاجر، غازي وو که شهید. توحید روح. د قربانۍ جذبه. د مخلوق د هدایت او رهنمائي جذبه او د الله د رضا جذبه او اخلاص هر یو کښې دننه کار کوو.

او چې څوك هم وو او کوم ځائې هم وو او څه ئې هم کول په ټولو کښې فیضان د حق برابر وو.

محترم حاضرین! نن هم هغه هدایت رباني او دعوت آسماني موجود دے. لیکن بیا هم یو رور د بل رور مرۍ کټ کوي یو انسان د بل انسان کور او دکان سوزوي د یو بل بې عزتي کوي هر طرف ته د ظلم او خود عرضۍ بازار ګرم دي.

عزتمندو اوریدونکو! د دي هرڅه وجه داده چې مونږ الله جل جلاله هیر کړي دي او خپل ځان موهم هیر کړي دي. سره د دي نه چې د سیرت النبي جلسې ډیرې کیږي

او د میلاد النبی ﷺ جلوسونه ډیر اوزي او ټول د نبی ﷺ عقیدت او محبت ساتي. لیکن هغه فضا او ماحول نشته کوم چې د صحابه رضی الله عنهم دور کښې وو. که چرې مونږ هغه ماحول پیدا کول غواړي نو زمونږ دپاره به د نبی ﷺ تعلیماتو طرف رجوع کول ضروري وي او په دي کښې زمونږ علاج دي.

**وما علینا الا البلغ**

Maktaba Tul Ishaat.com

## د شهادت شوق

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ قُتِلُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْیَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ یُرْزَقُوْنَ. وقال النبی ﷺ: اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ. (اوکما قال علیه السلام)

زما قدرمنو استاذانو او هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندې د صحابه و ﷺ به د شهادت شوق په موضوع باندې بیان کول غواړم محترم اوریدونکو کله چې زما نظر د تاریخ په صفحاتو پریوزي نوما ته هرځای د شهیدانو وینې تویدل په نظر راځي او وینو د تاریخ اورقې دشهیدانو په وینا رنګینې په نظر راځي. راځی د صحابه و ﷺ د شهادت د شوق نه وړاندې د صحابه و ﷺ د سردار امام الانبیاو تمنا ګورو چې د هغوی تمنا څه وه؟

زما مدنی آقا فرمائی "لَوَدِدْتُ اَنْ اُقْتَلَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلَ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلَ ثُمَّ اُحْیٰی ثُمَّ اُقْتَلَ"

محترم اوریدونکو! په صحابه و ﷺ کښې د شهادت جذبه وه، که په صحابه و ﷺ کښې د شهادت شوق او جذبه نه وه نو په بدر کښې به څوارلس(۱۴) نۀ شهیدان کیدل او په اُحد کښې به اوویا(۷۰) نه شهیدان کیدل، چې په دې جنګ کښې د پیغمبر ﷺ تره حضرت حمزه ﷺ ټکړې ټکړې شو، که په صحابه و ﷺ کښې د شهادت شوق نه وو نو په خندق کښې بۀ شپږ(۶) صحابه کرام ﷺ نه شهیدان کیدل په بئرمعونة کښې به اووه شپیته(۶۷) نه شهیدان کیدل. زه خو وایم که په صحابه و ﷺ کښې د شهادت شوق نه وو نو د صدیق اکبر ﷺ په

دور خلافت کښې به اتیش زره (۲۸۰۰۰) صحابه نه شهیدان کیدل د فاروق اعظم رضی الله عنه په دور کښې به څلور زره صحابهٔ رضی الله عنهم نه شهیدان کیدل د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور کښې به شپارس زره صحابه رضی الله عنهم نه شهیدان کیدل. بلکې زه خووایم که په صحابه و رضی الله عنهم کښې د شهادت شوق نه وو نو په کورونو کښې به ناست وو.

او خپلو ښځو او بچو سره به ناست وو، څوک په خپلو نرمو بسترو باندې ملاسته نه غواړي؟

لیکن واورې کله چې زما د نبي ﷺ ملګرو د نبي ﷺ کلمه وویله نو هغوی ته په کورونو کښې ناسته خوښه نه وه بلکې په میدان جنګ کې د تورو د لاندې جنګیدل خوښ وو.

دا خو هغه صحابهٔ رضی الله عنهم وو. کومو چې د نبي ﷺ د عزت د خاطره، د الله جل جلاله د دین د عظمت د خاطره او د الله جل جلاله دین په پوره دنیا کښې د خورولو له خاطره، خپلې بیبیانې کنډې کړې خپل اولاد ئې یتیمان کړل، بې کوره شول، بې وطنه شول او په ټوله دنیا کښې ئې د اسلام بیرغ ودرولو

اوس راشئ.....؟ لږ د دې صحابي ارمان و ګورئ چې خپل ځان ئې په وینو کښې رنګ کړو؟ دا فاروق اعظم وو چې دا دُعا به ئې کوله "اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ شَهَادَةً فِيْ سَبِيْلِكَ وَاجْعَلْ مَوْتِيْ فِيْ بَلَدِ رَسُوْلِكَ"

که د صحابه و رضی الله عنهم د شهادت شوق لیدل غواړئ راځئ لږ د اُحد غر نه تپوس وکړو، ای اُحد غره! لږ ووایه عبدالله بن جحش رضی الله عنه ستا په سینه کښې د کومې جذبې سره راغلی وو؟ نو د اُحد غر جواب راکوي. ای ملګریه آیا تا ته معلومه نه وه چې هغه کومه تمنا کوله او دا دُعائې کوله. ای الله! سبا دشمن سره مقابله ده ای د کعبې ربه..! چې سبا زما مقابله کښې یو بهادر سړی راشي زه په هغه وار وکړم او هغه په ما وار وکړي تر دې پورې چې زما پوزه .لاس. غوږونه

Maktaba Tul Ishaat.com

کټ کړی شی او سبا ستا په دربار کښې حاضری وی او ته را نه پوښتنه اوکړی ای عبدالله دا پوزه او غوږونه دی کوم ځای کټ شوی دی؟ نو زه جواب درکړم ای الله ﷻ ستا د دین د خاطره او ته روائی "صَدَقْتَ یَاعَبْدَاللّٰه"۔

غیرتمندو مسلمانانو! که د شهادت جذبه لیدل غواړی نو حرام بن ملحان رضی الله عنه ته و ګوری کله چی د دښمن غشی د هغه سینه کښی دننه کیږی نو د شهادت په وخت کښی آواز کوی "فُزْتُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ" په الله ﷻ قسم زه کامیاب شوم۔

"وماعلینا الا البلغ المبین"

## حضور ﷺ سره د مسلمانانو مینه

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.
بسم الله الرحمن الرحیم

اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ

وقال النبی ﷺ: لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ (اوکما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما عزتمندو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه نن د "مسلمانانو د حضور ﷺ سره د مینی" په موضوع باندی شونډی خلاصول غواړم

محترم اوریدونکو! د الله ﷻ د عبادت دپاره دا خبره ضروری ده چی د الله ﷻ محبت او عظمت په زړه او دماغو کښنی پروت وی، که یو کس د الله ﷻ د محبت نه بغیر د هغه عبادت کوی نو دا معتبر نه دی، دغه شان د نبی ﷺ د اطاعت دپاره د هغوی سره محبت ضروری دی د حضور ﷺ د محبت نه بغیر نه د اطاعت رسول څه اعتبار شته او نه په سنت نبوی ﷺ باندی چلیدو څه فائده او نهٔ ایمان کامل کیدی شی

لهذا قرآن کریم دا حقیقت واضح کړی دی. "اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗٓ اُمَّهٰتُهُمْ" یعنی مؤمنانو ته د خپل ځان نه زیات د نبی ﷺ سره محبت کول پکار دی. او د نبی ﷺ (حدیث) "لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ" نه هم دا خبره واضح کیږی چی د خپل ځان او اولاد نه زیات محبت د حضور ﷺ سره د ایمان د تکمیل دپاره ضروری دی.

د دی حدیث تائید د عمر فاروق رضی الله عنه د روایت نه هم کیږی. یو ځل

Maktaba Tul Ishaat.com

عمر فاروقؓ وفرمايل يا رسول اللهﷺ! تاسو ماته د خپل مور پلار او اولاد او تمامو انسانانو نه زيات محبوب ئې، ليکن د خپل ځان نه به څنګه را ته محبوب شې؟ حضورﷺ وفرمايل که ستا پهٔ نزد تا ته د خپل ځان نه ډير محبوب نه شم نو ستا ايمان کامل نه شي کيدی.

چې دا خبره ئې واوريده نو حضرت عمرؓ لږ وخت خاموش پاتی شو او بيائې عرض وکړو، اوس ته ماته د خپل ځان نه هم زيات محبوب شوی، نبیﷺ وفرمائيل: اَلْاٰنَ يَا عُمَرُ، ای عمرؓ اوس ستا ايمان مکمل شو.

قدرمنو ملګرو! مسلمانان به د نبیﷺ سره محبت ولې نه کوی؟ ځکه چې د محبت کولو دری(۳) اسباب دی. (۱) جمال (۲) کمال (۳) نوال.
او دا دری (۳) واړه اسباب زما په محبوبﷺ کښې علی سبيل الکمال موجود وو، د نبیﷺ جمال نو هغه زه تر قيامته پوری هم نه شم بيانولی. بس زه صرف د حسان بن ثابتؓ په دی شعر باندی اکتفاء کوم، هغه فرمائې:

وَاَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَرَقَطُّ عَيْنِیْ
وَاَجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

ترجمه: زما سترګو ستا نه زيات ښائسته چيری هم نهٔ دی ليدلی او نه ستا نه زيات ښائسته يوی ښځی زيږولے دی.

او کمال نبیﷺ باره کښې محمد قاسم نانوتوی رحمه الله فرمائی، د جهان ټول کمالات پهٔ تا کښې دی محبوبه او ستا کمال پهٔ هيچا کښې نشته مګر يو يا دوه.

او د نبیﷺ نوال يعنی سخاوت او عطايا د بيان نه باهر دی زه صرف پهٔ يو شعر باندې اکتفاء کوم.

مَا قَالَ لَا، قَطُّ اِلَّا فِیْ تَشَهُّدِهٖ
لَوْلَا التَّشَهُّدُ لَكَانَ لَاؤُهٗ نَعَمُ

ګرانو اوريدونکو! هر کله چې دا دری(۳) واړه اسباب زما

محبوب ﷺ کښې علی سبیل الکمال موجود دی نو ددی تقاضا داده چې د هغه سره دِ کامل محبت وکړی شی.

"وماعلینا الا البلغ المبین"

*****

## سیرت النبی ﷺ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

لقدکان لکم فی رسول الله اسوة حسنة (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ: انما بُعِثتُ مُعلِمًا (اوکما قال علیه السلام)

زما قابل قدر اساتذه کرام او زما هم مکتب دوستانو:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه نن ستاسو په وړاندی د "نبی ﷺ په سیرت" باندی تقریر کول غواړم

عزتمندو اوریدونکو! داسی خو د سیرت لغوی معنی ده د چا د کردار او کارنامو احاطه کول. لیکن تر نن ورځی پوری نه یو محقق، نه یو محدث، نه یو مدقق، نه یو مفسر، نه یو مفکر، نه یو مدبر، نه یو مؤرخ پیدا شوی دی چې د نبی ﷺ د ټول سیرت احاطه وکړی لهذا زه د وخت د نزاکت دوجی نه د سیرت په یوه برخه پهلو باندی نظر اچوم

قدرمنو اوریدونکو! کله چې زه د تاریخ مطالعه کوم نو ګورم چې مورخینو د داسی لویو لویو شخصیاتو تذکری قلمبند کړی دی چې هغوی دنیا تر ننه پوری یا دوی.نن خلق د حاتم طائی سره محبت کوی د هغه وجود او سخا دوجی نه.نوشیروان سره محبت کوی د هغه د عدل او انصاف دوجی نه، اسفندیار او رستم سره محبت کوی د هغوی د بهادری دوجی نه، د سقراط او افلاطون نامه په مینه اخلې د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی د علم او حکمت دوجې نه، د فردوسی او سعدی رحمة الله علیه سره عقیدت ساتی د هغه قوت گویائۍ دوجې نه، سحبان سره محبت کوی دهغه دخطابت دوجې نه، دلبید او متنبی تذکره کوی د هغوی د فصاحت او بلاغت دوجې نه، نو زه به د هغه ذات سیرت ولی نهٔ بیانوم چی د ټولو صفاتو مجموعه وه او د ټولو کمالاتو جامع وو، بیا دا هم یو حقیقت دی چی په دغه خلقو کښې کوم کمال موجود وو هغه ناقص وو او زما د پیغمبر ﷺ کمال کامل وو.

محترم اوریدونکو! زه د حاتم طائی سخاوت منم، لیکن د حاتم طائی سخاوت د هغه ذات د سخاوت سره چېرته مقابله کولی شی کوم ذات چی دشمن ته هم فائده ورکړه او دوست ته هم چاچی ظاهر هم ښائسته کړو او باطن هم، زه د نوشیروان عدل او انصاف منم، لیکن د نوشیروان د عدل او انصاف د رسول هاشمی ﷺ د انصاف سره څه نسبت دی چاچی د عرب په ظالمانه ماحول کښې د عدل او انصاف خوږی چینی جاری کړی. چا چې اعلان وکړو که د محمد ﷺ لور فاطمه ﷺ هم غلا وکړی نو د هغی به هم لاس کټ کولی شی او چا چې د بدلی اخستلو دپاره خپله شا (کلا) د یو عام سړی مخی ته بر بنډه کړه، زه د رستم او اسفندیار شجاعت منم، لیکن د هغه عظیم بهادر به څه ووائې چی هغه بغیر د لښکر او اسلحې، او بغیر دمال او دولت نه په کلونو کلونو د عرب د وحشی ځناورو یواخې مقابله وکړه، زه د سقراط او افلاطون د علم او حکمت نه انکار نه کوم، لیکن د هغه باب العلم و الحکمة به څه وائی چی د هغه د علم د فیضان د سقراط او افلاطون په شان په زرگونو حلقو علم او حکمت حاصل کړو، زما د سحبان دخطابت نه انکار نشته، لیکن د هغه عظیم خطیب به څه وائې چې د هغه د خطابت د اثر دوجې نه کاڼو هم خبری وکړی او د سخت زړه والا خلقو

زندګی بدلی شوی. او صرف دا کمالات په نبی ﷺ کښی نه وو بلکی زمونږ دا دعوی ده چی د آدم علیه السلام نه واخلی تر عیسیٰ علیه السلام پوری ټولو انبیاؤ ته چی کوم کمالات فرداً فرداً ورکړی شوی وو هغه ټول کمالات رب کائنات په یو وخت کښی په حضور ﷺ کښی جمع کړی وو د دی وجی شاعر وائی!

حسن یوسف دم عیسیٰ ید بیضا داری
آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

الله ﷻ دی مونږ ټولو ته د حضور ﷺ په سیرت باندی د تلو توفیق راکړی. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# جهاد او د جهاد فائدې

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم.
بسم الله الرحمن الرحيم

يا ايها النبي حرض المؤمنين على القتال (صدق الله العظيم)
وقال النبي ﷺ الجهاد مختصر طريق الى الجنة (اوكما قال عليه السلام)
محترم استاذانو او د گلشن انور غیرتمندو مجاهدینو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زه ستاسو په وړاندې "فرضیت جهاد" په موضوع باندې یو څو معروضات پیش کول غواړم.

محترم سامعینو حضراتو! د جهاد په باره کښې د مسلمانانو دا عقیده ضروري ده چې جهاد فی سبیل الله د اسلام په قطعي فرائضو کښې یوه مهمه فریضه ده او د دې فرض نه انکار کونکې داسې کافر دې لکه چې د مونځ نه منکر کافر دې. جهاد فرض عین کیدونه بعد بغیر د عذر نه پرېښودل گناه کبیره ده. او په دې کښې فضول بحث کول گمراهي ده.

محترم سامعینو! د جهاد فرضیت د قرآن د بې شماره ایاتونو نه د رڼا ورځ په شان واضح دې.

راځئ د قرآن نه پوښتنه کوو اې قرآنه لږ ووایه زما رب د جهاد باره کښې کوم اعلان کړې دې؟ قرآن جواب کوي: كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾

او کله اعلان کوي "وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ" - او ته قتال کوه د الله جل جلاله لارکښې تر دې چې فتنې ختمې شي او دین ټول په ټوله د الله جل جلاله د پاره شي

او کله رب المجاهدین امام المجاهدین ته حکم کوی: يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ. ای پیغمبره! مؤمنان د جهاد دپاره تیار کړه او کله اعلان کوی. فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً

محترم حاضرینو! الله تعالی د مسلمانانو عزت، مال او جان د جهاد سره مقید کړی دی او د جهاد په پریښودوئې د دردناك عذاب وعید بیان کړی.

زما غیرتمندو مجاهدینو ملګرو! جهاد هغه لوی نعمت دی، چې د دې په ذریعی سره په ځمکه باندی د الله جل جلاله نظام نافذ کولی شی او د کفر فساد ختمولی شی. کچرته جهاد نه وی نو په ټوله ځمکه به فساد خپور شی. او د عبادت ځایونه به خراب کړی شی.

ای مسلمانانو پ خی ای د پیغمبر ﷺ عاشقانو پاځی ستاسو د جهاد پریښودو د وجی نه نن هندوانو بابری مسجد شهید کړو. ای د محمد بن قاسم سپاهیانو... پاځی دخپلو میندو او خویندو د عصمت حفاظت وکړی، ای د صلاح الدین ایوبی نوم اخستونکو پاځی او بیت المقدس د عیسائیانو نه خلاص کړی. لیکن واوری، ای مسلمانانو دا کار د جهاد نه بغیر ناممکن دی.

عزتمندو مسلمانانو! په جهاد کښی د مسلمانانو عزت او دبدبه ده، او په جهاد کښی د مسلمانانو د اجتماعیت او وحدت راز پټ دی. میدانِ جهاد اګرچې د مرګ میدان دی، لیکن مسلمان ته په دی میدان کښی زندګی ملاؤ یږی. جهاد اګرچی مشکل دی، لیکن مسلمان ته ددی د وجی د مشکلاتو نه نجات ملاؤیږی، جهاد اګرچی د کور او بال بچ د پریښودو نوم دی. لیکن مسلمان ته په دی سره تمکین فی الارض او خلافت فی الارض په شان نعمتونه ملاؤیږی.

ای مسلمانانو! ترکومی پورې به د غفلت په خوب ویده یئ، بیدار شی دی نه مخکښې چې د دنیا والو قبضه په تاسو مضبوطه شی خپل ځان د دقید

Maktaba Tul Ishaat.com

او بند نه آزاد کړي او دسعادتمندۍ لاړ جهاد فی سبیل الله غوره کړي.

په جهان د ننګيالیو دی دا دوه کارونه
یا به وخوری ککری یا به کامران شی

**وما علینا الا البلاغ المبین**

*****

## د علم فضیلت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ

سورة(۵۸)المجادله: ۱۱

وقال النبی ﷺ مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ (اوکما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما هم مشن ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زهٔ نن ستاسو په وړاندې د "علم پهٔ فضیلت" باندې څه معروضات پیش کول غواړم.

محترم اوریدونکو! د علم معنی ده پیژندل لهذا د علماؤ او فقهاؤ پهٔ دې اتفاق دې چې په هر مسلمان باندې دومره علم حاصلول فرض دی چې د هغې په ذریعې سره هغه د حلال او حرام او دپاك او مردار په مینځ کښې تمیز او فرق کولی شي.

د حضور ﷺ ارشاد دے "طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ" د علم طلب کول په هر مسلمان باندې فرض دي.

محترم اوریدونکو! علم داسې څیز دې چې د دې پهٔ ذریعې سره د انسان او حیوان په مینځ کښې فرق کولی شي، او علم هغه دولت دی د

کوم د وجې نه چې آدم علیه السلام مسجود الملئکة جوړ شو، او علم هغه دولت دی د کوم دوجې چې مخلوق د خالق او عبد د معبود سره نژدې کیږي د الله تعالی ارشاد دے "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ" یعنی علم والا او کوم خلقو سره چې علم نشته کله هم نشي برابر کیدی، حدیث کښې راغلی دی چې کله هم یو سړے د علم لاره اختیار کړی نو الله ﷻ دهٔ دپاره د جنت لاره آسانوی.

او یو حدیث کښې راځی د عالم فضیلت په عبادت کونکی باندی داسې دی لکه د سپوږمۍ فضیلت په تمامو ستورو باندی، د حضرت علی رضی الله عنه فرمان دی.

رَضِينَا قِسْمَةَ الْجَبَّارِ فِينَا
لَنَا عِلْمٌ وَلِلْجُهَّالِ مَالُ

یعنی مونږ د الله ﷻ په جوړ کړی شوی تقدیر باندی راضی یو، چې زمونږ دپاره ئې علم مقرر کړے دی او د جاهلانو دپاره مال. د شیخ سعدی رحمه الله قول دے:

برو دامن علم گیر ستوار
که علمت رساند بدار القرار

لاړشه د علم لمن مضبوط ونیسه ځکه چې علم به تا جنت ته رسوی، آخر کښې مې په ژبه دا دُعا ده چې الله ﷻ مونږ ته علم نافع نصیب کړی او ددین د محنت دپاره مونږ قبول کړی. آمین.

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# اتحاد او ایثار

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَٱعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ ٱللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُواْ

سورة (۳) آل عمران: ۱۰۳

وقال النبی ﷺ یَدُ اللهِ عَلَی الْجَمَاعَةِ (او کما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما د ګلشن انور غیرتمندو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زهٔ نن ستاسو مخی ته د "اتحاد او ایثار" په عنوان څه معروضات وړاندی کوم.

ګرانو اوریدونکو! نن دا خبره بالکل واضحه ده چی د مسلمان هر ځای نا کامی شروع ده. نه د دوی چېرته عزت شته، او نه رعب، د دُنیا یو ملك هم د دوی نه نهٔ ویرېږي په عالمی سطح باندی په مسلمانانو پوری ټوقی کولی شی. دوی یو کمزوری امت تصور کولی شی. او تر دی چی د دوی رهبر او رهنما د دواړو جهانو سردار ره هم ټوقی کولی شی، دازواج مطهرات بی حرمتی کولی شی.

د صحابه کرام ﷺ خلاف کتابونه لیکلی کیږی او دا ټول کارونه ځکه کیږی چی د مسلمانانو رعب او دبدبه ختمه شوی ده...!

چی د کوم مسلمان په یو وخت کښی د قیصر او کسری په شان سُپر طاقت ریبدو، نن د اسرائیل په شان ذلیل قوم هم د هغوی نه نهٔ ویریږی.

وجه څه ده؟ ماچی کله د حالاتو سر سری جائزه واخستله او سوچ او تدبر می وکړو نو معلومه شوه، نو د مسلمانانو د کمزوری په وجو کښی د ټولو نه لویه وجه د مسلمانانو خپل مینځ کښی اختلاف او جنګ

و جدال دی.

امت مسلمه په وړو وړو فرقو او جماعتونو کښې تقسیم شوی دی. هر کس ځان له د جُدا مسجد جوړولو په کوشش کښې دی، د کُفر ټاپې په یوبل لګولی شی د یو بل د ختمولو کوشش کولی شی. د مسلمان وینه مسلمان تویوی.

زما غیرتمندو مسلمانانو! حیران شوم چې دا هغه امت چې د نبي ﷺ د مسلسل محنت او تربیت نه ورستو خپل مینځ کښې شیر و شکر کړی وو.

صحابه کرام رضي الله عنهم د مختلفو علاقو اوسیدونکی وو او د مختلفو قبیلو سره تعلق لرونکی وو د هغوی ژبه او رنګ هم جُدا وو. لیکن هغوی د ژبې، نسل او قومیت ټول امتیازات ختم کړی وو او خپل مینځ کښې د ورونیو پشان اوسیدل.

راشی زه تاسو د صحابه کرامو رضي الله عنهم په خپل مینځ کښې دا خوت او ایثار یوه نظاره وښایم.

حضرت ابوجهم بن حذیفه رضي الله عنه فرمائی چې د یرموك په جنګ کې ما خپل د تره ځوی تلاش کولو. او د اُوبو یوه مشکیزه می ځان سره واخسته ممکنه ده چې هغه تږی وي اوبه به ورباندی وڅښم اتفاقاً مي هغه داسې ځای کښې پروت ولیدو چې د مرګه حالت کښې وو ساه ئې په وتلو وه ماترې تپوس وکړو د اُوبو ګوټ در کړم؟ هغه اشاری سره وویل هو. ذغه وخت کښې نزدی یوبل صحابی پروت وو هغه هم مرګ ته نزدی وو "آه" ئې وکړو، زما دتره ځوی آواز واوریدو نو ماته ئې اشاره وکړه چې د هغه خواته لاړ شه

زهٔ چې د هغه خواته لاړم هغه هشام بن العاص رضي الله عنه وو. د هغه خواته چې لاړم د هغه سره نزدی یوبل صحابی په داسې حالت کښې پروت وو چې مرګ ته نزدی وو. هغه "آه" وکړو. هشام رحمه الله ماته اشاره وکړه چې د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

خواته لاړ شه. چې زۀ د هغه خواته لاړم د هغه ساه وتلې وه.

د هشام رحمه الله خواته واپس راغلم هغه هم شهید شوی وو.

محترم اوریدونکو! دا زمونږ دا سلافو او مشرانو ایثار او قربانی وه. چې دې ته قیصر او کسریٰ وکتل نو په ایوانو نو کښې ئې زلزله راغله.

واوری زه تاسو ته یوه بله واقعه بیانوم.

حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائی، چې یو صحابی رضي الله عنه له چا د چیلی سر په هدیه کښې ورکړو، هغه خیال راغلو چې زما فلانی ملګری ډیر ضرورتمند دی او بال بچ ئې هم ډیر دی. د هغه کور والا زیات محتاج دی. د دې وجې ئې هغه سره هغه کره ولیږلو. د هغه د بل ملګری باره کښې دغه خیال راغلو هغه هلته ولیږلو لنډه دا چې هغه سره په اووه (۷) کورونه چکر ولګولو او واپس هغه اول صحابی کره راغلو. پۀ دې باندې د قرآن ایت نازل شو: "وَيُؤْثِرُونَ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ"

الله تعالی د مونږ ټولو ته د اتحاد او اتفاق او د ایثار او همدردۍ صفت سره د ژوند تیرولو توفیق راکړی. "وما علینا الا البلغ المبین"

# د سلام اهمیت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.
بسم الله الرحمن الرحیم
وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا ۗ
سورة(۴) النساء: ۸۶
وقال النبی ﷺ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللَّهِ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ (اوکما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندې د "سلام اهمیت" په موضوع تقریر کول غواړم ګرانو اوریدونکو! دې وخت کښې په مسلمانانو کښې، د آخرت غفلت او د الله ﷻ د ویرې او تقوی نه لرې کیدل عام دی. په خوراک څښاك، غم ښادۍ، تجارت او معاملات غرض دا چې د ژوندګی په ټولو شعبو کښې د نبی ﷺ ارشادات دسره هیر دی. او ددې په نتیجه کښې بدامنی، د دشمن ویره، بغض، عداوت. نفرت او عصبیت او نورې ډیرې انفرادی او اجتماعی خرابۍ پیدا کیږی.

او ددی د اثراتو دوجی نه هر مسلمان حیران او پریشانه دی. داسی ښکاری چی هر مسلمان د دی مصیبتونو نه پناه او د اسلام په محبت او امن کښی پناه اخستل غواړی.

عزتمندو مسلمانانو! دا هله کیدی شی چی مونږ د الله ﷻ احکامات او د نبی ﷺ په تعلیماتو باندی عمل شروع کړو. که تاسو غواړی چی مسلمان باید یو شی.

او مسلمانانو کښی محبت پیدا شی. او هغه اخوت پیدا شی کوم چی د صحابه کرامو ﷺ په دور کښی وو. نو د ډیر غور او فکر او فلسفی

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرورت نشته. دا طریقه پیغمبر ﷺ ښودلی ده. کومه چې د عرب درنده صفته انسانانو اختیار کړه نو په خپل مینځ کښې شیر و شکر شو. او د قومونو معلمین جوړ شول. چې عبدالله بن سلام رضی الله عنه دا طریقه واوریده نو اسلام ئې قبول کړو او د جنت الفردوس حقدار جوړ شو.

محترم اوریدونکو! دا طریقه سلام اچول دی. چې دی سره د زړونو نه بغض او حسد ختمیږی او د اخوت او محبت فضاء عام کیږی.

محبوب ﷺ وفرمایل: "اَلْبَادِیءُ بِالسَّلَامِ بَرِیْءٌ مِّنَ الْکِبْرِ" یعنی په سلام کښې ابتداء کونکی د تکبر نه بری دی. او یو حدیث کښې ئې وفرمایل: سلام کښې پهل کونکی د الله جل جلاله محبوب دے.

زمونږ مدنی آقا ﷺ و فرمایل "لَاتَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰی تُؤْمِنُوْا، وَلَا تُؤْمِنُوْا حَتّٰی تَحَابُّوْا، أَوَلَا أَدُلُّکُمْ عَلٰی شَیْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوْهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَیْنَکُمْ" - یعنی تاسو جنت ته نه شی داخلیدی.

ترڅو چې یوبل سره محبت نه کوی زه تاسو ته هغه تدبیرونه ښایم چې هغه اختیار کړی نو د یوبل سره به محبت شروع کړی هغه دادی چې خپل مینځ کښې سلام ښه خپور کړی. یوځای د نبی ﷺ ارشاد دی: "یَاأَیُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصَلُّوْا بِاللَّیْلِ وَالنَّاسُ نِیَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ"

حاضرین مجلس! تاسو د دی احادیث مبارکه نه د سلام ده اهمیت اندازه لګولی شی چې نبی ﷺ سلام د ایمان د تکمیل او خپل مینځ کښې د محبت ذریعه ګرځولی ده. او د ټولونه لویه خبره داده چې نبی ﷺ جنت ته د داخلیدو ذریعه سلام ګرځولې ده.

الله رب العزت ته دُعا ده چې مونږ ټولو ته د سلام اهمیت په زړه کښې واچوی او په دی د عمل توفیق راکړی آمین

"وآخردعوانا ان الحمدلله رب العالمین"

# د محنت انعام او بدله

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَىٰهُ ٱلْجَزَآءَ ٱلْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾ سورة (۵۳) النجم: ۳۹- ۴۱

وقال النبی ﷺ: "كَسْبُ الْحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ"

محترم اساتذه کرام او زما هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندې د "محنت انعام او بدله" په موضوع باندې تقریر کول غواړم.

محترمو اوریدونکو! مشهوره مقوله ده: "مَنْ جَدَّ وَجَدَ وَمَنْ زَرَعَ حَصَدَ" یعنې چې څوك کوشش کوي هغه ته به ضرور څه ملاویږي او چه څوك څه وکري هغه به ضرور کټ کوي.

حاضرینِ مجلس! دا خبره خو د لمر په شان واضحه او روښانه ده. چې کوم قوم هم محنت کړی دی تولی دنیا هغوی منلی دي. او ددی مقابله کښې چې کوم قوم هم محنت نۀ دی کړی هغوی همیشه ناکام او نامراد پاتې شوی دی.

زمونږ پیغمبر ﷺ د محنت کولو ترغیب ورکړی دی. او خپله به ئې هم تول کارونه په خپلو لاسونو کول، نبی ﷺ چیلی هم څرولې دی. تجارت ئې هم کړی دی او دمزدورانو لاسونه ئې هم په خپله مبارکه خُله خکل کړی دی.

نبی ﷺ فرمائی: "كَسْبُ الْحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ" یعنې حلاله روزی ګټل دا د یو فرض نه ورستو بل فرض دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

یوه ورځ د نبی ﷺ په خدمت کښې یو غریب سړی حاضر شو، عرض ئې وکړو ای د الله ﷻ رسوله زه ډیر غریب یم څه مدد وکړه نبی ﷺ ترې پوښتنه وکړه ته څه کار کوی؟

هغه وویل هیڅ هم نه کوم، نبی ﷺ وفرمایل که تاسره څه ځیز وی هغه راوړه؟ هغه سړی څه ځیزونه راوړل. نبی ﷺ هغه ځیزونه خرڅ کړل او پیسی ئی هغه سړی له ورکړی او بیائې وفرمایل په دی پیسو باندی یو تبرګے او رسۍ راوړه هغه سړ بازار ته لاړو او یو تبرګی او رسۍ ئې راوړه. نبی ﷺ په خپل لاس مبارك باندی په هغه تبرګی کښې دلرګی دسته واچوله. بیائې هغه سړی ته وفرمایل زه لاړه شه او د ځنګل نه لرګی راوړه او په بازار کښې ئی خرڅوه.

او په دی طریقی سره د خپل بچو او خپلی ښځی پالنه کوه. هغه سړی د نبی ﷺ په خبرو عمل وکړو. روزانه به ځنګل ته تلو لرګی به ئې کټ کول او راوړل به ئې بیا به یې پۀ بازار کښې خرڅول ښه محنت ئې وکړو او څه پیسې ئې وګټلی لږو ورځو کښې ئی حالات صحیح شول یوه ورځ هغه سړی د نبی ﷺ خدمت کښې حاضر شو.

نبی ﷺ چې دی ولیدۀ نو وی خندل ویې فرمایل څه حال دی؟ عرض ئې وکړو یا رسول الله ﷺ! اوس ډیر په مزو کښې یم. نبی ﷺ چې دا واوریده ډیر خوشحاله شو.

محترم اوریدونکو! دی واقعی نه معلومه شوه چې څوك محنت کوی هغه ته به راحت،عزت، دولت او خوشحالی ملاویږی. الله دی مونږ ټولو ته د کسب حلال توفیق راکړی. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

# د دنیا حقیقت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾

سورة (۳) آل عمران: ۱۸۵

وقال النبی ﷺ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ

(اوکما قال علیه السلام)

مباد دل آن فرومایه شاد
که از بهر دنیا دهد دین بباد

زما محترمو استاذانو او هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زۀ نن ستاسو په وړاندی د "دنیا حقیقت" پۀ موضوع باندی تقریر کول غواړم.

محترم اوریدونکو! دنیا دارالفناء دی او آخرت دارالبقاء دی.
دنیا درالغرور ده او آخرت دارالسرور دی. دنیا دارالعمل ده او آخرت دارالجزاء ده دنیا متاع قلیل ده او آخرت عطائی جلیل ده

دا دنیا پۀ ظاهره کښې ښائسته ده چې خوږ هم دی ته د محبت په نظر ګوری دائې په خپل محبت کښې راګیر کړي او څومره چې ئې محبت زیاتیږی دا دنیا تری لری کیږی او دنیا ده سره لوبې کوی او ده لره عبدالدنیا والدرهم جوړ کړی. او دۀ د زړه او دماغو نه دآخرت او دین اسلام محبت هیر کړی

د ربِ کائنات ارشاد دی وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ یعنی: دنیا دا زندګی سراسر د دهوکې سامان دی چې د دی حیثیت عندالله د ګوړ ماشي د وزر برابر هم نۀ دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

محترم اوریدونکو! دنیا دارالامتحان دی موږ او تاسو ته معلومه ده چې د امتحان په هال کښې د یو مخصوص وخته پورې وخت تیرول وی دی نه ورستو انسان د هال نه ویستل کیږي که په هال کښې تا پرچه صحیح کړې وي نو ته به کامیاب شې. او که پرچه دِ صحیح نه وی حل کړې نو بیا بهٔ ناکامه کیږې. د دنیا هم دغسې مثال دی که په دې کښې یو انسان د ایمان او اعمالو والاژوند غوره کړی، نو کامیاب به شي. ورنه ناکامي به ئې فیصله شوې وي.

نبی ﷺ همیشه د دنیا محبت لره په زړه کښې د ځای ورکولو نه منعه کړې ده. او د دنیا ښائست ئې د کافرانو دپاره مقرر کړې ده. او د مومنانو دپاره الله ﷻ د راحت او خوشحالی ځای جنت جوړ کړې دی.

نبی کریم ﷺ وفرمایل: اَلدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ، وَجَنَّةُ الْکَافِرِ۔ یعنی دنیا د مؤمن دپاره قیدخانه او کافر دپاره جنت دی. کافران چې په دنیا کښې څه کول غواړی کولای یې شي. څنګه چې بهٔ مؤمنان په جنت کښې کوی.

لیکن دا دنیا د مؤمن دپاره قیدخانه ده یعنی دلته به مسلمان د نبی ﷺ د شریعت پابند وی خپله مرضی به نه چلوي

سرکار دو عالم ﷺ وفرمایل ۔ کُنْ فِی الدُّنْیَا کَاَنَّکَ غَرِیْبٌ اَوْ عَابِرُ سَبِیْلٍ۔ یعنی دنیا کښې داسې اوسیږه لکه یو مسافر یا په لاره تیریدونکې.

یو بل ځای ارشاد وفرمایل حُبُّ الدُّنْیَا رَأْسُ کُلِّ خَطِیْئَةٍ۔ یعنی د دنیا محبت د ټول ګناهونو جرړه ده.

ای نادانه انسانه! پهٔ هوش کښې راشه، د نیا پرستی او زر پرستی نه منعه شه. او دنیا او اهل دنیا سره تعلق ختم کړه، او د دنیا د خالق سره تعلق جوړه کړه.

وما علینا الا البلغ المبین۔

# د قرآن فضیلت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وقال النبی ﷺ: "خَیْرُکُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ" او کما قال علیه السلام.

محترم اساتذه کرام او زما د ګلشن انور ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه نن ستاسو په وړاندی "د قرآن فضیلت" پهٔ موضوع باندی تقریر کول غواړم.

قدرمندو اوریدونکو! قرآن مجید د الله تعالی هغه آخری کتاب دے چی پهٔ هغی کښی د پخوانیو ټولو کتابونو او صحیفو معتدل او مناسب تعلیمات موجود دي.

دا کتاب د کائنات دپاره د روح مثال لري الله تعالی دا کتاب ټولو کښی اعلی او ارفع ګرځولی دی د الله ارشاد دی "ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَیْبَ فِیْهِ" دا هغه کتاب دی چی دی کښی د شك هیڅ ګنجائش نشته.

قدرمنو اوریدونکو! ما د قرآن نه تپوس وکړو ووایه ستا نوم څه دی؟ قرآن جواب را کړو: "قرآنٌ مَجِیْدٌ" ما د قرآن نه تپوس وکړو ستا ژبه څه ده؟ قرآن جواب راکړو "بِلِسَانٍ عَرَبِیٍّ مُبِیْنٍ" زما ژبه عربی ده.

ما د قرآن نه تپوس وکړو ستا د حفاظت سره څه کارتتی ده. قرآن جواب راکړو: "اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ" زما د حفاظت ذمه خپله خالق اخستی ده، ما دقرآن نه تپوس وکړو په تاکښی د شك څه ګنجائش شته قرآن جواب راکړو: "ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَیْبَ فِیْهِ".

ما د قرآن نه تپوس وکړو ته کوم ځای وی، قرآن جواب راکړو: "فِیْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ" لوح محفوظ کښی وم، ما د قرآن نه تپوس وکړو دلته چا

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړی؟ جواب ئې راکړو: "نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ" ما د قرآن نه تپوس وکړو ته پهٔ چا نازل شوی ئی، قرآن جواب راکړو نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ.

ما د قرآن نه تپوس وکړو ته د چا د طرف نه راغلی ئې؟ قرآن جواب راکړو: "تَنْزِيْلٌ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ" ما د قرآن نه تپوس وکړو. ته په کومه میاشت کښې نازل شوی ئې؟ قرآن جواب راکړو: "شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ" ما د قرآن نه تپوس وکړو ته په کومه شپه کښې نازل شوی ئې؟ قرآن جواب راکړو: "اِنَّا اَنْزَلْنَا فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ" ما د قرآن نه تپوس وکړو ته څهٔ دپاره نازل شوی ئې؟ قرآن جواب راکړو هُدًى لِلنَّاسِ.

پیغمبر ﷺ وفرمایل: "اَلْقُرْاٰنُ حُجَّةٌ لَكَ اَوْ عَلَيْكَ" قرآن خو یاستا لپاره ګواه دی یا ستا خلاف ګواه دی.

د نبی ﷺ ارشاد دی: "اِنَّ اَشْرَافَ اُمَّتِيْ حَمَلَةُ الْقُرْاٰنِ" زما د امت عزتمند خلق حاملین د قرآن دی.

"خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ"

قدرمنو ملګرو! دا دومره مقدس کتاب دی، چې ددې باره کښې الله تعالی وفرمایل کچېرته دا مونږ په غر باندې نازل کړی وو نو تا به کتل چې هغه به د الله تعالی ډیرې نه شلیدلی وی. دا قرآن هغه لار ښائې کومه چې بالکل نیغه ده او ایمان والو ته خوشخبری ورکوی.

محترم اوریدونکو! قرآن کریم یو داسې بهترین ملګر دی چې د دې د خبرونه څوك تنګیږی نهٔ او څومره چې بیا بیا لوستلی شی دومره پکښې ښائست راځی کله چې په قرآنی ایاتونو باندې قاریانو ستر ګو یخی شوی.

نو ما دوی ته وویل: چې تاسو ته د الله تعالی مضبوط رسی ملاؤ شوه دا اوس پهٔ مضبوطی سره ونیسی.

آخر کښې دا دُعا کوم چې الله تعالی دِ مونږ حاملین قرآن او عاملین قرآن جوړ کړی آمین "وما علینا الا البلغ المبین"

# د لمونځ اهمیت

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ

سورة (۲۹) العنکبوت: ۴۵

وقال النبي ﷺ من اقام الصلوة اقام الدین ومن ترکها هدم الدین او کما قال علیه السلام.

زما قدرمنو استاذانو او هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

محترم اوریدونکو: نن ما ستاسو په وړاندې د قرآن کریم یو آیت تلاوت کړو چې په دې کښې الله تعالی د مونځ اهمیت او فائدې بیان کړې دي ترجمه ئې داده چې بې شکه لمونځ د بې حیائی او ناروا کارونو نه منعه کوي.

زما د اسلام قدرمنو ورونو! که د چا مونځ دغه سرې د فواحشات، رسومات، خرافات او منکراتو نه منعه نه کړي. نو پوهه شي چې د دۀ په مونځ کښې به ضرور خلل او نقصان وي. چې د هغې دوجې مونځ د تاثیر نه خالي دي.

د دې وجې نه مونږ له پکار دي چې په خپل مونځونو باندې محنت وکړو او مونځ خشوع او خضوع سره ادا کړو، بیا به مونځ مونږ د بې حیائی نه منعه کوي.

عزتمندو اوریدونکو! تاسو ته معلومه ده چې د اسلام بنیاد په پنځه (۵) څیزونو دے

(۱) د کلمهٔ شهادت په زړه سره یقین او ژبې سره اقرار کول. (۲) مونځ ادا کول (۳) روژه نیول (۴) زکوٰة ورکول (۵) د بیت الله شریف حج کول.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې ټولو کښې زيات اهم مونځ دی او ددې اندازه د هغه آياتونو او احاديثو نه کيږي په کومو کښې چې د مونځ اهميت بيان شوی دے، د نبی ﷺ ارشاد دی. د مسلمان او کافر ترمينځه کښې صرف د مونځ فرق دی.

بل حديث کښې راځي چې د قيامت په ورځ به اول تپوس د مونځ کيږي، بل حديث کښې راځي: "مَنْ اَقَامَ الصَّلٰوةَ اَقَامَ الدِّيْنَ وَمَنْ تَرَكَهَا هَدَمَ الدِّيْنَ" يعنی چا چې مونځ قائم کړو ده دين قائم کړو او چا چې مونځ پريښودو ده دين ونړولو.

قدرمنو ملګرو! توجه وکړی. د نبی ﷺ په مرض الوفات کښې د صحابه کرامو ﷺ په مدد سره مسجد ته تشريف وړل. او د نزع په حالت کښې د "الصلوة، الصلوة" آوازونه کول. او د جهاد په موقع بندی د مونځ اهتمام کول "جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلٰوةِ" والاجمله ويل د مونځ په اهميت باندی واضح دليل دی.

بس د الله تعالى نه دعا ده. چې الله ﷻ مونږ ته د مونځ د پابندی توفيق راکړی آمين

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمين"

# د مونځ فضیلت

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذ باللّٰه من الشیطن الرجیم

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَوٰةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ ﴿١٣٢﴾ سورة (٢٠) طٰه: ١٣٢

وقال النبی ﷺ الصلوٰة عماد الدین (اوکما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة اللّٰه وبرکاته!

زه نن ستاسو په وړاندې "د مونځ فضیلت" موضوع باندې تقریر کول غواړم

محترم اوریدونکو! اللّٰه تعالی انسان د خپل عبادت د پاره پیدا کړی د اللّٰه ﷻ ارشاد دی "وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ" او بیاني دا ټول کائنات د انسان خدمت کښې لګولی دي. او انسان لره اللّٰه تعالی د رزق ورکولو وعده کړې ده او دې سره ئې انسان په کسب حلال باندې هم مامور کړی دی. لیکن د روزۍ ورکولو ذمه واری ئې پخپله اخستې ده.

ګرانو اوریدونکو! په عباداتو کښې د ټولونه اعلی مونځ دی یو دلیل ئې دادی چې ټول عبادات په ځمکه فرض شوی دی. لیکن مونځ اللّٰه تعالی په عرش عظیم کښې د اووه (٧) آسمانونو د پاسه خپل محبوب له په تحفه کښې ورکړی دی.

قدرمنو اوریدونکو! د مونځ فضائل خو ډیر زیات دی د ټولو بیان ممکن نه دی. زه به یو څو احادیثو باندې اکتفاء کوم.

یو واری پیغمبر ﷺ او ابوذر غفاری رضی اللّٰه عنه د خزان په موسم کښې د یوې ونې خواته تیر شو. نبی ﷺ یوه څانګه ونیوله او ویې خوزوله نو دهغې پاڼې په راغورځیدو شوې، بیا نبی ﷺ د ابوذر رضی اللّٰه عنه نه تپوس وکړ ای

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوذره ﷺ! تپوس وکړه چې دا ما ولې وکړ؟ ابوذر ﷺ عرض وکړو ای د الله رسوله ﷺ! ولې دی وکړو؟

نبی ﷺ جواب ورکړو ای ابوذره ﷺ! کله چې مؤمن بنده مونځ کوی د هغه نه ګناهونه داسې پریوزي لکه څنګه چې ددی ونی پاڼي پریوتې. (الله اکبر کبیراً)

د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دی چې نبی ﷺ وفرمایل: ما ته زبایه کچېرته ستا د کور په دروازې یو نهر جاري وې او یو سړی روزانه پنځه (۵) واری په هغې کښې غسل کوی د هغه په بدن به څه خیرې باقي پاتې شي؟

صحابه کرام ﷺ جواب ورکړو هرګز نه. نو نبی ﷺ وفرمایل: د پنځو مونځونو مثال هم دغسې دی چې ددې په ذریعې الله ﷻ ګناهونه ختموې.

محترم اوریدونکو! د صحابه کرامو ﷺ، تابعینو، تبع تابعینو او زمونږ د نورو اسلافو د مونځ د اهمیت او اهتمام باره کښې مؤرخینو او محدثینو بې شمیره واقعات بیان کړی دي.

چې دغه حضراتو په غم او ښادی، سفر او حضر، صحت او مرض، تنګی او فراخی عرض دا چې په هر حالت کښې د مونځ کولو اهتمام کولو، حتی چې د عینِ جهاد په موقع کښې به هم دوی نه مونځ نه قضا کیدو.

الله تعالی د مونږ او تاسو ټول د مونځ پابند جوړ کړی آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

# د تولو نه لوی عقلمند څوک دی؟

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَه، وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَه هَوَاهَا، ثُمَّ تَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ او کما قال علیه السلام

یقول الشاعر:

اَلدُّنْیَا بَابٌ كُلُّ النَّاسِ دَاخِلُوْهَا
وَالْمَوْتُ شُرْبٌ كُلُّ النَّاسِ شَارِبُوْهَا

محترم استذه کرام او زما هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "د تولو نه لوی عقلمند څوک دی؟"

محترم اوریدونکو! دنیا کښې دهر څیز باره کښې اختلاف او جدل و جدال شوی دی. لیکن مرګ یو داسې اټله فیصله ده چې چاهم دی کښې اختلاف نه دی کړی او هر څوك ئې منی چې یو نه یوه ورځ به مونږ د دی فانی دنیا نه سفر کوؤ.

لیکن خوش قسمته هغه خلق دی چې ایمان او اعمالو سره ددی دنیا نه لاړ شی. پیغمبر ﷺ وفرمایل: "اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَه، وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَه هَوَاهَا، ثُمَّ تَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ" یعنی د تولو نه لوئي عقلمند هغه څوك دی چې خپل نفس قابو کړي او د مرګ نه وروستو راتلونکی ژوند دپاره تیاری وکړی او بیوقوفه سړی هغه دی چې د خپل نفس اتباع کوی. او د الله ﷻ نه اوږده اوږده امیدونه ساتي چې الله ﷻ غفور رحیم دی مونږ به معاف کړی.

ګرانو حاضرینو! حدیث کښې راځی چې قبر د آخرت اولنی منزل

Maktaba Tul Ishaat.com

دے .خوك چي په دی كښې کامیاب شو هغه به په باقي مراحلو كښې هم كاميـاب وی. او څـوك چي دی كښې ناکامـه شـه پوهـه شـي چي هغـه د همیشه همیشه دپاره ناکام شو.

محترمو اوريدونكو! نبیﷺ فرمائي چي قبر روزانـه دا آواز كوی چي زه د چينجو كوريم،زهٔ د يـواځي والـي ځـای يـم. او كلـه چي ايمان او اعمالو والاانسان قبرته لاړ شی. قبر ورتـه وائـي ستـا راتلـه د مبارك شي. زمـا پـه دپاڅه چي څومره خلق ګرځيدل تـه ماتـه پـه ټولـو كښې محبـ . وی، تـه اوس زمـا ګيـډې تـه راغلـې زمـا ښـه سلوك بـه وګوری. دی نه بعد به قبر ورته دومره به خلاص شي څومره چي د دهٔ نظر لګي.

او د دهٔ طـرف تـه د جنت يـوه كړكـی خلاصـه شـی د دی پـهٔ ذريعـی سره د دهٔ قبـر تـه د جنت خوشبوئي راځـی. او چـی كلـه يـو فاسق فـاجر پـهٔ قبر كښـی كيـږدی قبـر ورتـه د غصـی حالـت كښـی وائـی ستـا راتلل د نامبارك شی. پـه ما باندی چی څومره ګرځيـدلي تـه پهٔ هغـه ټولو خلقو كښی بد تروی، اوس تـه زمـا ګيـډې تـه راغلـی زما بدسلوك بـه وګوری.

دی نه پس پری قبر داسی را بند شي چي د دهٔ دواړه پښتي يوبـل كښې دننـه شـي. او ده طـرف تـه د دوزخ يـوه كړكـی خلاصـه شـی او پـه د باندی به مختلف ډول ماران او لړمانان مسلط شي.

محترمـو اوريـدونكو! د قبـر د عـذاب نـه بـه نجـات هغـه چاتـه ملاويږي چي څوك ورلـه تيـاری وكړی. ورنـه محـال ده او د محـال كيـدو دليـل دی چـی كلـه ابوذرغفـاریؓ جـوش كښـی راغلـو او قبـر تـه ئـي خطـاب وكـړو. يَاقَبْرُ! اَتَدْرِيْ مَنِ الَّتِي جِئْنَابِهَا اِلَيْكَ،هٰذِهٖ بِنْتُ رَسُوْلِ اللّٰهِﷺ هٰذِهٖ زَوْجَةُ عَلِيِّ الْمُرْتَضٰى ،هٰذِهٖ اُمُّ الْحَسَنَيْنِ هٰذِهٖ فَاطِمَةُ الزَّهْرَاءُ رضي الله عنها " ای قبـره! تـا تـه معلومـه ده چـی مـونږ د چـا جنـازه راوړی ده دا د رسـول اللهﷺ لـور

ده، د حضرت علی ﷛ بی بی ده او د حسن ﷛ او حسین ﷛ مور ده، دا فاطمة الزهراء ده، د قبر نه آواز راغلو: "یَا اَبَاذَرْ! مَا اَنَا مَوْضِعُ حَسَبٍ وَلَا نَسَبٍ اِنَّمَا اَنَا مَوْضِعُ عَمَلِ الصَّالِحِ فَلَا یَنْجُوْمِنِّیْ اِلَّا مَنْ کَثُرَ خَیْرُهٗ وَسَلِمَ قَلْبُهٗ وَخَلَصَ عَمَلُهٗ" یعنی قبر د حسب نسب بیانولو ځای نهٔ دی، دلته د عمل صالح ذکر کوه دلته خو به هغه سړی آرام حاصلوی چې زړه ئې مسلمان او عمل ئې صالح او خالص وی. الله ﷻ دِ مونږ تاسو ته د مرګ نه وړاندی د مرګ دپاره د تیاری توفیق راکړی. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# په اسلام کښې د ښځې مقام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلْمُؤْمِنِينَ

يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ سورة (۳۳) الحزاب: ۵۹

محترم اساتذه کرام او زما د ګلشن انور غیرتمنو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده د "په اسلام کښې د ښځې مقام"

محترمو اوریدونکو! د ښځې معنی ده لغت کښې "پټول" دا معنی اوریدو سره چې کوم انسان کښې لږ شان عقل هم وی هغه به ښه پوه شی چې کوم ځای ښځه وی هغه ځای به پرده هم وی ګویا چې ښځه او پرده لازم ملزوم دی.

او دا پرده د شریعت، معاشرت او د انسانیت د بقاء ذریعه ده، ددی نه بغیر په کائنات کښې سکون، امن او امان قائمول ممکن نهٔ دی.

د دین اسلام عاشقانو! ښځې له چې اسلام کوم مقام ورکړی دی هغه نور مذهبونو نه دی ورکړی، د تاریخ ورقي شاهدي دی چې د اسلام نه مخکښې و ښځې نامه اوریدل به په خلقو بد لګیده، د ښځې قدر په لاره کښې د پروت څیز نه هم کم وو. ماشومانې بچې به خلقو ژوندی دفن کولې، ښځې ته به ئې د نجاست ډیران او د شیطان نمائنده متصور کولو په خاصو ورځو کښې به ئې د دې دپاره خاص ځای مقرر کړی وو، د لور د پیدائش خبر به پرې ډیر بد لګیدو ښځې به ئې یو د لوبو څیز ګڼلې، بې پردګی عامه وه په هره محله کښې به د ښځې د بې عزتی تماشه وه، لیکن د نبی ﷺ د راتلو سره ښځې ته په دنیا کښې د ژوند تیرولو حق ملاؤ شو.

معاشره کښې ورته د عزت مقام ملاؤ شو. د مور، خور، لور، او ښځې پشان عظیم الشان صفات ورته ملاؤ شو.

ښځې ته د کور مالکې کیدو شرافت حاصل شو. د درې، لورګانو په تربیت کولو باندې د جنت زیرې ملاؤ شو. د مور د خپو لاندې د جنت بشارت ملاؤ شو.

غیرتمندو مسلمانانو! په دې باندې ما ته فخر دې چې دین اسلام د ښځې متعلق د هیڅ قسم توهین، ذلیله کولو نظریات نه ساتی، بلکې زه وایم چې ښځې ذات خو ما ته زندګی راکړې ده، لهذا زه د دې نه د ژوند تیرولو حق نه شم اخستلې. دې زما نجاستو نه صفا کړې دې، لهذا زه دې ته نجس مخلوق نه شم ویلې. د دې وینه زما په رګونو کښې ګرځی لهذا زه دې ته د شیطان محل نه شم ویلې. دې خپله هرې ساه سره ما ته دعاګانې کړې دی. لهذا زه دې ته کنځل نه شم کولې. زه دې کامل جوړ کړې یم لهذا زه دې ته نامکمل نه شم ویلې. دې ما ته د کور سکون والاژوند را کړې دې زه دې ته د فساد بنیاد نه شم ویلې.

محترم اوریدونکو! نن بیا په ښځه باندې مختلف ظلمونه کیږي، د آزادي نسواي چلناکه آوازونو سره دوی لوځولې شي. او د آزادۍ په نامه باندې دوی مور، خور، او لور په شان عظیم القاباتو نه محرومه کولې شي. په باریك لباس کښې دوی ته عزتداري ویلې شي. ښځې په کلبونو کښې ګډولې شي. په لویو سړکونو باندې باریك لباس کښې ګرځیدلو ته ترقي ویلې شي. مخکښې د ښځو دهاکې تیم جوړ شو اوس د کرکټ په نامه نې میدان ته راوباسي. الامان الحفیظ! اوس خو د حُسن مقابلې هم کولې شي لنډه دا چې د حقوق ورکولو په چغه باندې دهواء لور ذلیله کولې شي.

د دین اسلام نوم اخستونکو! داناپاکه او غلط خلق د قرآن احکاماتو کښې تاویل کوی، علماء ربانین ته د دقیانوسیت القابات ورکوی، او ښځې له چې څوك خپل اصل مقام ورکوی هغوی ته تنګ نظره

Maktaba Tul Ishaat.com

وائی، او زمونږ مسلمانان حکمرانان هم دی ناپاکو نعرو کښې د هغوی سره شریك شوی دي. او د مسلمانانو نام نهاد دانشور هم د غیر مسلم سره په دی تقلید کښې وړاندی وړاندی په نظر راځی.

افسوس صد افسوس؛ زما غیرتمندو مسلمانانو! اوس خو په هوش کښې راشی کنه اوس خو خپل ضمیر سره حساب وکړی کنه، د خُدای دپاره اوس خو د خپل ایمانی غیرت نه کار واخلی کنه، او که پوهه نه شوی نو داسی به تباه شی چې څوك به ستاسو نوم اخستلو والاهم پاتی نه شی.

"وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العٰلمین"

# د زړه سکون

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ مَثَلُ الَّذِی یَذْكُرُ رَبَّه وَالَّذِی لَا یَذْكُرُ رَبَّه، مَثَلُ الْحَیِّ وَالْمَیِّتِ" اوکما قال علیه السلام

محترم صدرِ جلسه او معززو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زۀ نن ستاسو په وړاندی "په سکونِ قلب" موضوع باندی څه خبري وړاندی کوم.

محترمو اوریدونکو! نن په دنیا کښې هر انسان د سکون القلب تلاش کونکی دی، هر انسان دی کوشش کښې دی چې د زړه سکون به ماته څنګه حاصل شی. لهذا

څوك د زړه سکون. په ښائسته عمارتونو او ښکلو ښکلو کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........دبینك بیلنس په ډیرولو کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........دمال او دولت په کثرت کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........په صدارت او وزارت کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........په تجارت او زراعت کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........په ښائسته کپړو کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........په نرمو بسترو کښې تلاش کوی.

څوك د زړه سکون.........په نوی نوی فیشنونو کښې تلاش کوی.

لیکن الله تعالی اعلان کوی ای د سکون تلاش کونکو چې ته روان ئې واوری "اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ" د زړه سکون خو ما خپل یاد کښې اېښې دی. که د زړه سکون غواړې ما سره خپل زړه ولګوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

محترمو اوریدونکو! حضرت ابوبکر وراق لوی بزرګ تیر شوی دی فرمائی، چی په زړه باندی شپږ حالتونه راځي، یعنی ژوند او مرګ... صحت او بیماری...خوب او بیداری... هغه فرمائی د زړهٔ حیات(ژوند) هدایت دی. که هدایت ملاؤ شو یوه شه چی زړه ژوندی دی او د زړه مرګ ګمراهی ده.

که د چا زړه کښی ضلالت راغلو پوه شه چی د ده زړه مړ شو، او د زړه صحت طهارت او صفائی ده، او دا طهارت حاصلیږی ایمان او توحید سره، او د دی مقابله کښی بیماری د ګنده تعلقاتو دوجی پیدا کیږی، او د زړه بیداری د الله ﷻ ذکر دی. څوك چی د الله ﷻ ذکر کښی مشغوله وی د هغه زړه بیدار دی.

حضور ﷺ وفرمایل: "مَثَلُ الَّذِی یَذْکُرُ رَبَّہٗ وَالَّذِی لَا یَذْکُرُ رَبَّہٗ، مَثَلُ الْحَیِّ وَالْمَیِّت" د ذکر کونکی او نه ذکر کونکی مثال د ژوندی او مړی پشان دی. که انسان د الله ﷻ د ذکر نه غافل شو یوه شی چی د دهٔ په زړه باندی د غفلت خوب راغلی دے. زما محبوب ﷺ وفرمایل: ستاسو په زړه کښی د غوښې یوه ټکړه ده کله چی هغه صحیح شی نو ټول جسم به صحیح شی او که هغه خرابه شوه ټول جسم به خراب شی "اَلَا وَھِیَ الْقَلْبُ" خبردار هغه زړه دی.

ګرانو حاضرینو! د الله تعالی ذکر سره چی زړه کښی برکت، لذت، حلاوت او طهارت حاصلیږی دا هغه چاته معلومه ده چی ورځ او شپه ئې د هغه ذکر کښی ځان مشغوله کړی وي. او داسی به ولی نه وی هر کله چی خالق کائنات په خپله فرمائی "اَلَا بِذِکْرِ اللّٰہِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ" یعنی زړونو ته اطمینان صرف او صرف زما په ذکر سره حاصلیږی.

الله ﷻ د مونږ او تاسو ټولوته د ذکر حلاوت نصیب کړی. آمین.

"وما علینا الا البلغ المبین"

# علم د نور مینار دی

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم
بسم الله الرحمن الرحيم

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝١ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝٢
اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝٣ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝٤ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ
يَعْلَمْ ۝٥ سورة(۹۶) علق: ۱-۵

وقال النبي ﷺ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ (اوكما
قال عليه السلام)

زما محترمو میلمنو او خوږو دوستانو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن چې په کومه موضوع باندې ماته ستاسو په وړاندې اظهار د مافي الضمير کول دي هغه علم دی علم یوه داسې موضوع دا که یوځل شروع شي نو انتهاء ئې ناممکن ده. او که لیکل پرې شروع شي نو د کتابونو جلدونه به پرې ولیکل شي. لهذا زه به دی مختصر وخت کښې د قرآن او حدیث په رڼا کښې یو څو معروضات پیش کوم

زما عزتمندو ملګرو! د علم معنی ده پیژندل، د الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې بې شمیره احسانات دي یو پکښې علم دی، د نبي ﷺ ارشاد دی "طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ" علم حاصلول په هر مسلمان باندې فرض دی.

علم الله ﷻ د انسانانو او حیواناتو مینځ کښې تفریق پیدا کړی دی. انسان په څمکه باندې د الله ﷻ خلیفه او نائب دی، د علم دوجې ده لره په باقي مخلوقاتو باندې فضیلت حاصل دی، او علم هغه دولت دی چې ددی دوجې آدم علیه السلام سجود الملائکه جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی شو دی خبرونه معلومه شوه چی علم د انسان عظمت بنیاد او د نور میبار دی

د نبی ﷺ ارشاد مبارک دی "اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا" بیشکه زه معلم را لیږل شوی یم نبی ﷺ به سحر او مابام دا دُعا غوښتله "اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا" یا الله ﷻ زه ستا نه نفع رسونکی علم غواړم

گرانو اوریدونکو: نن زمونږ دا خیال دی که د ینی علم حاصلوی نو عصري تعلیم به پاتی شی او که عصری تعلیم حاصلوی بیا دینی علم نه شی حاصلولی. پکار خو داده چی مسلمان دینی علم طرف ته ډیره توجه ورکړی خکه قرآن مجید د دینی علم حاصلولو طرف ته دعوت ورکړی دی او د دی سره نې دنیوی علم فلسفه، تاریخ او سائنسی علومو باندی هم غور او فکر طرف ته دعوت ورکړی دی

د نبی علیه السلام ارشاد دی "اُطْلُبُ الْعِلْمَ مِنَ الْمَهْدِ اِلَی اللَّحْدِ" یعنی د مور د غیږ نه تر لحد (قبر) پوری علم حاصل کړه

حضرت علی ﷺ نه چا تپوس وکړو چی مال افضل دی او که علم...؟ هغه جواب ورکړو

علم انسان عزتمند جوړوی..... او مال انسان ذلیله کوی

علم انسان لره سخی جوړوی..... او مال انسان بخیل (شوم) جوړوی

علم نوروته ښودلو سره زیاتیږی..... او مال نوروته ورکولو سره کمیږی

علم د انسان حفاظت کوی..... او د مال حفاظت انسان کوی

علم د عظمت ذریعه ده علم والا الله ﷻ ته ډیر نزدی وی د الله ﷻ په نز عالم او جاهل برابر نه دی د قرآن اعلان دی "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ" یعنی عالمان او جاهلان چی هم نه شی برابر کیدی، او څوك د ایمان نه بعد د علم په نور منور شی د هغوی دپاره

ارشاد دی
"يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ" یعنی الله تعالیٰ به تاسو کښی د هغه خلقو درجی اوچتوی چاچی د ایمان نه بعد علم حاصل کړو اسلام خپل تابعداری کونکو ته دا درس ورکوی چی علم تلاش کړی.

د الله ﷻ نه دُعا ده چی یاالله ﷻ تا مونږ لره کوم علم را کړی دے، هغه نافع کړی او مونږ لره پری عمل او د مزید علم حاصلولو توفیق را کړی آمین ثم آمین.

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د جهاد جذبه

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا ۚ بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ سورة(۳) آل عمران: ۱۶۹

وقال النبي ﷺ اِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ (او کما قال علیه السلام)

توری ډیری دی خو زړه د خالد غواړی
ته خالد بن ولید شه جهان ستا دی

صدرِ جلسه او معززو میلمنو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه نن ستاسو په وړاندی د "جهاد جذبه" په موضوع څه ویل غواړم.

محترمو سامعینو حضراتو! د الله تعالی فرمان دی: "یَاَیُّهَا النَّبِیُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِیْنَ عَلَی الْقِتَالِ" ای نبی ﷺ! خپل امتیان د جهاد دپاره تیار کړه! نبی ﷺ چی د خپل رب دا پیغام واوریدو، نو دومره محنت ئې وکړو چی د مدینی منوری د هر کور او هرې کوڅی نه دا آوازونه اوچت شو. "حَیَّ عَلَی الْجِهَادِ" او "یَا خَیْلَ اللّٰهِ ارْکَبِیْ."

د کفارو په ایوانونو کښی زلزلی راغلی او په زړونو کښی ئې د اسلام عظمت دننه شو د اسلام دعوت هر طرف ته خپور شو. زما محبوب پیغمبر ﷺ کله د بدر په میدان کښی... کله د اُحد په میدان کښی... کله د خندق په غارونو کښی... کله د تبوک په بیابانونو کښی او کله د خیبر په شکلنو علاقو کښی او کله د حنین په سخته گرمی کښی دا آوازونه کول. "اَنَا النَّبِیُّ لَا کَذِبْ اَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ" او د کفارو ایوانونه ئې تباه کول.

نبی ﷺ تپوس وکړو تر کوم وخته پوری جهاد وکړم ای ربه؟ آواز

راغلو ﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ﴾ یعني کافرانو سره تر هغه وخت پورې جهاد کوه تر څو چې فتنه او فساد نه وي ختم شوي، او تر هغه جهاد کوه چې د الله تعالی دین پوره پوره خپور شي نبي ﷺ تپوس کوي ای زما ربه شهید ته به څه ملاویږي؟ عرش نه آواز راغلو زما دیدار به ورته نصیب کیږي، دا آواز چې نبي ﷺ واوریدو نو د ډیر شوق نه نبي وفرمایل: "لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ أُحْيَى ثُمَّ أُقْتَلَ ثُمَّ أُحْيَى ثُمَّ أُقْتَلَ ثُمَّ أُحْيَى ثُمَّ أُقْتَلَ" او کله چې صحابه کرامو ﷺ د خپل نبي ﷺ جذبه ولیده نو ویې فرمائیل

نَحْنُ الَّذِيْنَ بَايَعُوْا مُحَمَّدًا
عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِيْنَا اَبَدًا

محترمو اوریدونکو! صحابه کرامو ﷺ ته شهادت خوښ وو. د دین دپاره هغوی ته خپل سر قربانول آسان وو. او اسلام ته په خیرن نظر سره کتل هغوی نه شو برداشت کولی.

ابوبکر صدیق ﷺ فرمائي: "اَيَنْقُصُ الدِّيْنُ وَاَنَا حَيٌّ" زه د ژوندی یم او دین کښې د نقصان راتلو دا زه نه شم برداشت کولی.

د حضرت عمر ﷺ اشعار چې غوږونو ته راځي نو زړه مې و دریږي

رَكْضًا اِلَى اللهِ بِغَيْرِ زَادِ...... اِلَّا التُّقٰى وَعَمَلِ الْمَعَادِ
وَالصَّبْرِ فِي اللهِ عَلَى الْجِهَادِ...... وَكُلُّ زَادٍ عُرْضَةُ النَّفَادِ
غَيْرُ التُّقٰى وَالْبِرِّ وَالرَّشَادِ

که د جهاد جذبه لیدل غواړې د ابوایوب انصاري ﷺ جذبې ته وګوره د (۹۰) کال په عمر کښې میدان ته د جهاد دپاره روان دی، بچو ورته عرض وکړو ای اباجانه ته آرام وکړه...... تا ډیر جهادونه کړي دي موږ وس ستا په ځای جهاد ته ورځو. ابو ایوب انصاري ﷺ جواب ورکوي ما د جهاد نه مه منعه کوی زما بچو، واورئ که ماته د الله ﷻ په لاره کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

مړی راغلو ما د الله ﷻ لاړ کښې دفن کړی "الله اکبر" دا د جهاد جذبه وی

محترمو ملګرو! د جذبه جهاد دوجې! ابوبکر نه صدیق جوړ شو د عمر ﷺ نه فاروق جوړ شو. دعثمان ﷺ نه غني جوړ شو، دعلی ﷺ نه حیدر جوړ شو. د خالد ﷺ نه سیف الله جوړ شو. او د حمزه ﷺ نه اسد الله جوړ شو.

زما غیرتمنو مسلمانانو! زه تاسو ته د یو داسی صحابی تذکره کوم چې د هغه په حُسن به دنیا والو فخر کولو، چې په کومه لاره به تیریدو خلق به په خپلو پنجو ودریدل او د هغه زیارت به یې کولو بلکې آسمان والو به هم د هغه دیدار کولو دپاره زمکې ته رابکته کېدې

قیصرروم چې کله شپته (۶۰) صحابه کرام ﷺ قید کړی وو پکښې دغه خوش قسمته او ښائسته صحابی حضرت حذیفه سهمی ﷺ هم وو. کله چې د قیصر روم نظر د حذیفه ﷺ په ښائست پریوتلو ورته وائی زه تا ته خپل بادشاهت څه حصه درکوم په دی شرط چې ته د خپل نبی ﷺ کلمه پریږده. حذیفه ﷺ جواب ورکوی ماته ستا دبادشاهت هیڅ ضرورت نشته. قیصر روم وائی دوی قید کړی او اووه (۷) ورځې پری خوراك څښاك بند کړی دوی به صحیح شی. اووه (۷) ورځې بعد د قیصر روم وړاندی هغه صحابی راوستل شو. بیا تری هغه سوال وکړو، حضرت حذیفه ﷺ ورته د زمری پشان جواب ورکړو. ماته ستا د بادشاهت مقابله کښې د شهادت مرګ قبول دی.

قیصر روم حکم وکړو د دهٔ په دواړو لاسونو کښې میخونه و ټکوی جلاد هم دغسې وکړل، او د دواړو لاسونو نه ئې د وینې فواری روانیږی بیا ورته قیصر روم وائی ای ښائسته ځوانه په خپل حُسن باندی رحم وکړه زه تاته نیم بادشاهت درکوم او د خپلې لور سره در ته نکاح کوم

د نبی ﷺ کلمه پریږده. حضرت حذیفه رضی الله عنه جواب ورکوی ستا
بادشاهت می نهٔ دی پکار دوادهٔ او نکاح نه بغیر ژوند تیرولی شم، لیکن
د خپل نبی ﷺ کلمه نه شم پریښودی.
قیصر روم حکم وکړو د تیلو دیګ ګرم کړی او دی پکښې ور
واچوی لهذا هم دغسی وکړل یو دیګ ئې د تیلو نه ګرم کړو. او حذیفه رضی الله عنه
ئې ورته وغورځولو. لږ ساعت پس قیصر روم وائی دی راوباسی اوس به
ده هر اندام سوزیدلی وی. حضرت حذیفه رضی الله عنه ئی راوستلو. لیکن د هغه یو
ویښته هم نهٔ وو سوزیدلی. الله جل جلاله د مونږ له هم دغسی د جهاد جذبه
راکړی. آمین

وما علینا الا البلغ المبین

Maktaba Tul Ishaat.com

# د محسنِ اعظم ﷺ سیرت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.
بسم الله الرحمن الرحیم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ سورۃ (٦٠) الممطهینه: ٦

وقال النبی ﷺ اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا (اوكما قال علیه السلام)

محترم صدرِ جلسه او معززو مسلمانانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندی د "محسن اعظم ﷺ د سیرت" په موضوع باندی د شونډو خلاصولو جرات کوم.

محترمو اوریدونکو! د سیرت معنی ده د چا کارنامې او کار کردګو باندی احاطه کول، لیکن ترنن تاریخ پوری داسی یو محدث، مفسر، مقرر، مدبر، مفکر او مؤرخ نه دی پیدا شوی چی د نبی ﷺ په سیرت ئې احاطه کړی وی. لهذا زه هم دوخت د کمی دوجی یو څو خبری کول غواړم.

محترمو اوریدونکو! زما د آقا ﷺ چی ځنګه صورت حسین وو دغسی ئې سیرت هم حسین دی. په صورت کښی ئې جمال وو او په سیرت کښی ئې کمال دی. زما د محبوب ﷺ د سیرت باب دومره وسیع دی چی د نبی ﷺ رفیقه، ازواج مطهرات کښی لئیقه، په امت شفیقة په اخلاقو کښی خلیقه، په کائنات کښی باسلیقه، په شان کښی عجیبه انتهائی خوش نصیبه او د الله ﷻ حبیبه حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی:

كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْاٰنُ "ټول قرآن زما د محبوب ﷺ سیرت وو

قدرمنو ملګرو! زما پیغمبر ﷺ داسی اُمّی دی چی ټول کائنات کښی ئې استاذ نشته او داسی استاذ دی چی ټول کائنات ئې شاګردان دی، یتیم داسی دی چی نه ئې پلار شته نه نیکه، په ټوله مکه کښی

لاوارث ښکاري. او وارث داسې دي چې د ټول لاوارث امت وارث دی

حسین داسې دی چې یوسف علیه السلام ښځو ولیدو ګوتې یې کټ کړې. او زما محبوب ﷺ چې چا ولیدو خپل بچې ئې د الله ﷻ لار کښې شهیدان کړل.

خپلې مرې ئې کټ کړې. خپل خانونه ئې قربان کړل. او داسې حسین دی چې الله ﷻ خپل محبوب ګرځولے دی.

او حیاء پکښې دومره وه چې د عربو پیغلو جینکو په حیاء کښې د نبی ﷺ مقابله نۀ ده کړې. بهادر دومره دی چې د حنین په جنګ کښې یواځې ولاړ وو او دائې ویل: "اَنَاالنَّبِیُّ لَاکَذِب اَنَابْنُ عَبْدِالْمُطَّلِبْ"

مهربان دومره دی چې ټول ژوند کښې ئې چاته په ګتې اشاره هم نۀ ده کړې.

زما د محبوب ﷺ عجیبه سیرت وو. په یو وخت پۀ نبی ﷺ کښې دوه (۲) څیزونه وو.

زما مدنی محبوب ﷺ شریف هم وو او بهادر هم او حسین هم او با حیاء هم او امی هم او استاذ هم او یتیم هم او لاوارث هم.

محترمو اوریدونکو! زما نبی ﷺ چې مُسکې شي او وخاندې د جنت منظر جوړ شي. په غصه کښې چې راشي د جهنم منظر جوړ شي. قدم چې اوچت کړې سنت شي. خبرې چې کوې حدیث شي. عمل چې وکړې شریعت شي.

څوک ئې چې نکاح کښې راشي اُمّ المؤمنین شي. مکه ته راغلو نو مکرمه شوه مدینې ته راغلو نو منوره شوه. ابوبکر رضی الله عنه راغلو نو صدیق شو عمر رضی الله عنه راغلو نو فاروق شو، عثمان رضی الله عنه راغلو نو ذوالنورین شو علی رضی الله عنه راغلو نو حیدر شو. معاویه راغلو نو کاتب وحی شو. ابو عبیده رضی الله عنه راغلو نو امین الامت شو.

ډاکوان او غله راغله نو محافظین شو. فاسق راغلو نو زاهد شو د

Maktaba-Tul Ishaat.com

عربو شپونی راغلو د زمانی مقتدا شو. دا ټول انقلاب څنګه راغلو؟ دا انقلاب د نبی ﷺ د محنت دوجی راغلو. دا انقلاب د نبی ﷺ په سیرت باندی د عمل کولو دوجی راغلو. دا انقلاب د سیرت النبی ﷺ د تعلیماتو د برکت دوجی راغلو.او دا انقلاب د سیرت النبی ﷺ خپل امام جوړولو دوجی راغلو.

قدرمنو اوریدونکو! نن هم هغه هدایت ربانی او دعوتِ آسمانی موجود دی او د سیرت جلسی هم ډیرے کیږی د عید میلاد النبی ﷺ لوی لوی جلوسونه ویستل کیږي.

لیکن هغه فضا او ماحول نشته کوم چی د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دور کښی وو. لهذا که مونږ هغه فضا جوړول غواړو نو مونږ له به د نبی ﷺ سیرت طرف ته رجوع کول پکار وی. په دی کښی زمونږ علاج او کامیابی ده.

-وما علینا الا البلغ المبین-

# د الله ﷻ وجود

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

ومن اٰیٰتِهِ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ والارض واختلاف السنتکم والوانکم ان فی ذٰلک لاٰیٰتٍ للعٰلمین.

وقال النبی ﷺ مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصًا دَخَلَ الْجَنَّةَ اوکما قال علیه السلام.

زما محترمو استاذانو او هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زهٔ نن ستاسو په وړاندې "د الله تعالی وجود" په موضوع باندې څهٔ خبرې پیش کول غواړم.

محترمو اوریدونکو! د کائنات حُسن هغه اول څیز دی چې ذوق والا انسان خپل طرف ته متوجه کوی. داسې هم کیدی شو چې کائنات وو، لیکن دا حسن او جمال ئې نه وی. څمکه دِ وه لیکن پهٔ دې باندې د اوبو او چینو شور نه وو. ستورې دِ وو لیکن دستورو رڼا دِ نهٔ وه. ګلونه دِ وو لیکن رنګ دِ نه وو.

سپوږمی دِ وه لیکن د سپوږمۍ رڼا دِ نه وو. لمر دِ وو لیکن د لمر شعاګانې دِ نه وی. سترګې دِ وی لیکن نظر دِ نه وو. د انسان علم او فکر لا تر اوسه پورې د دې سوال جواب ورنکړو. چې دلته د تخلیق سره دا حُسن ولې ضروری دی؟

لیکن قرآن جواب ورکوی چې دا هرڅه څکه ضروری دی. چې انسان د کائناتو مشاهده وکړی او بې اختیاره دا آواز وکړی: "فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ"

ګرانو ملګرو! ما الله ﷻ نهٔ دی لیدلی نو ددې دا مطلب نهٔ دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالى دِ موجود هم نه وى، ما نيويارك نۀ د ے ليدلى، ليكن منم ئې، ما د سمندر دياقوت او جواهرو تل نه دى ليدلى ليكن منم ئې. ما ابراهيم عليه السلام نۀ دى ليدلى، ليكن منم ئې، ما موسیٰ عليه السلام نه دى ليدلى ليگن منم ئې. ما عيسى عليه السلام نۀ دى ليدلى ليكن منم ئې، ما هلاكوخان او چنگيزخان نه دى ليدلى، ليكن منم ئې. زۀ ئې ولى منم تاسو ټول ئې ولى منئ؟

صرف د دى وجې چې مونږ د با اعتمادو خلقو نه د دوى متعلق خبر اوريدلى دى. نو لكه څنګه چې مونږه دنه ليدلى شوى څيزونو وجود د عامو خلقو پۀ ويلو منو، نو چې د كوم الله ﷻ دوجود خبر په لكونو ريښتُى انسانان او د ريښتينو خلقو سردار محمد ﷺ وركوى زه به هغه څنګه نۀ منم؟

حاضرينِ مجلس! دې نه به لوى ظلم څه وى چې د عامو خلقو پۀ وينا باندى دِ نه ليدلى شوى څيزونو وجود تسليم شى او د كونينو د سردار ﷺ پۀ وينا باندى د الله ﷻ وجود تسليم نۀ شى. بلكى زه صفا صفا وايم چې كله زما محبوب ﷺ وفرمايل چې الله ﷻ موجود دى، اوس د بل دليل ضرورت نشته د نبى ﷺ وينا زما بلكى د هر مسلمان دپاره حجت دى. زه برملا وائم چې ما عرش معلى نه دى ليدلى ،ليكن منم ئې، ما فرښتى نۀ دى ليدلى ،ليكن منم ئې. ما جنت نۀ دى ليدلى ،ليكن منم ئې، ما دوزخ نۀ دى ليدلى ليكن منم ئې. ما سدرة المنتهى نۀ ده ليدلى ليكن منم ئې، صرف او صرف ئې ځكه منم چې زما محبوب ﷺ ئې خبر وركړے دى. چې دا موجود دې.

محترمو اوريدونكو! د الله ﷻ وجود والا مسئلى تعلق د عقل سره نۀ دى بلكه د زړۀ تعلق سره دى لړ د زړۀ نه تپوس وكړى چې هغه يو بالا ترهستى منى كه نه؟

نو دِ زړۀ نه به بغير اختياره آواز راځي: "اِنَّنِىْ اَنَا اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاتَّقُوْنِ" يعنى زۀ ستاسو معبود يم زما وجود تسليم كړى. او خاص زما

نه اوېره یږي.

شاعر وائي:

فَفِیْ کُلِّ شَیْءٍ لَهُ اٰیَةٌ
تَدُلُّ عَلٰی اَنَّهُ وَاحِدٌ

"وما علینا الا البلغ المبین"

*****

# تقویٰ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰکُمْ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ وَاَمْوَالِکُمْ وَلٰکِنْ یَنْظُرُ اِلٰی قُلُوْبِکُمْ وَاَعْمَالِکُمْ.

محترمو استاذانو او زما هم مشن ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو یه وړاندې د "تقویٰ" په موضوع باندې څه خبرې وړاندې کول غواړم.

محترمو اورېدونکو! په قرآن کریم کې تقویٰ د انسان دپاره اعلیٰ او اشرفه مرتبه ښودل شوې ده.

لیکن نن سبا خلق......؟

صدر او وزیراعظم جوړېدل اشرف ګڼي...... نن خلق ډاکټر جوړېدل اشرف ګڼي، پائیلټ جوړېدل اشرف ګڼي...... انجنئیر جوړېدل اشرف ګڼي، ماسټر جوړېدل اشرف ګڼي...... ګورنر او منسټر جوړېدل اشرف ګڼي، پروفیسر جوړېدل اشرف ګڼي...... استاذ جوړېدل اشرف ګڼي.

لیکن د کائناتو رب فرمائي "اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰکُمْ" زما په نزد

Maktaba Tul Ishaat.com

دتولو نه زیات شرف والاهغه انسان دی کوم چې ډیر تقوی داروی.

محترم سامعینِ حضرات، تقوی هغه بې پایانه خزانه ده چې ددی په ذریعې سره انسان د فرښتو نه سبقت حاصلوی. د تقوی په ذریعې سره الله ﷻ د فرښتو وړاندی د انسان صفت بیانوی. د تقوی اختیارولو دوجې الله ﷻ اعلان کوی. "إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿۳۱﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ﴿۳۲﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿۳۳﴾ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴿۳۴﴾ سورة (۷۸) النبا: ۳۱-۳۴

پیغمبر ﷺ فرمائی الله ﷻ ستاسو شکلونو او مالونو ته نۀ ګوری بلکې ستاسو اعمالو او زړونو ته ګوری.

قدرمنو ملګرو، زۀ تاسو ته د خپل آقا د یو غلام تقوی بیانوم. یوه ورځ لومړي امیرالمؤمنین ابوبکرصدیق رضی الله عنه خپلې بی بی نه د یو خوږ څیز تیارولو مطالبه وکړه. لهذا بی بی ئې خوږ څیز تیار کړو او وړاندی ئې ورته کیښودو.

خیال ئې دا وو چې دا به د امیرالمؤمنین ډیر خوښ وی. لهذا هره میاشت کښې به ئې نصف درهم بچ کولو. بیائې یوه ورځ په خوشحالی خوشحالی د امیرالمؤمنین روټۍ سره یو خوږ څیز کیښودو. صدیق اکبر رضی الله عنه و فرمایل دا خوږه حریره دې د کوم ځای نه پیدا کړه؟ عرض ئې وکړو. د تنخواه نه مې لږې لږې پیسې بچ کولې.

او جمعه کولې مې. نن مې پرې دا حریره تیاره کړه او ستاسو خدمت کښې مې پیش کړه دا چې ابوبکر رضی الله عنه واوریدل نو د افسوس اظهار ئې وکړو. او حکم ئې وکړو چې په کومو پیسو دا حریره تیاره شوی ده. دا زما د تنخواه نه کمې کړی ځکه ددی نه بغیر هم زمونږ ګذاره کیږی "الله اکبر" دی ته تقوی وئیل کیږي.

محترمو اوریدونکو! زۀ تاسو ته د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله تقوی بیانوم. یوواری د امام ابوحنیفه رحمه الله په ښار کښې یوه چیلی

ورکه شوه. د ډير تلاش کولونه بعد ملاؤ نه شوه. دا شك پيدا شو چې شايد هغه چا حلاله کړې وی يايې ذبح کړې وي. آئنده کښې. لهذا امام صاحب د مالك نه تپوس وکړو دا چيلې د څومره عمروه او څومره عمر ژوندی پاتې کيدی شی. هغه جواب ورکړو. تر اووه(۷) کالو پورې ژوندی پاتې کيدی شی. لهذا امام صاحب اووه(۷) کالو پورې د چيلې غوښه نه وه خوړلې.

سبحان الله! دا زمونږ د سلف صالحينو تقوی وه. چې ددی وجې دوی الله ﷻ په دنيا کښې هم کامياب کړل او آخرت کښې به ئې هم اعلی مراتب وی. او دا خلق د الله ﷻ ددی قول "ان اکرمکم عند الله اتقکم" مصداق دي.

الله ﷻ د مونږ ته هم د تقوی والا ژوند تيرولو توفيق نصيب کړي. آمين

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# قرآن مجید د انقلاب والا کتاب دی

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿١٦٤﴾ سورة(٣)آل عمران: ١٦٤

محترمو استاذانو او زما هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "قرآن د انقلاب والا کتاب دی"

محترمو اوریدونکو! د لږ ساعت دپاره د حال نه رشته کټ کړی او پنځلس صدۍ ورستو لاړشی او وګوری چی دنیا کښې څه وو؟ صرف ظلم وو، تیاری وې. شراب نوشی وه، زنا معیوب نۀ وه په غلا او ډاکو باندی به فخر کېدای شو.

انسان د انسان د وینې تږی وو ماشومانی به ژوندی قبر کښی دفن کولی شوی. ښځی د ښناور پشان ژوند تیرولو باندی مجبوره وی. د کمزورو او غریبو خلقو څوك تپوس والا نه وو. چی د چا زور وو د هغه کور وو. په کلونو کلونو به جنګونه وو. اضطراب اوبی آرامی وه. انسانیت په ختمیدو وو. هغه رب چی په خزان کښی سپرلی پیدا کوی. چی د شپی د تیاری نه بعد رڼا راولی او د قحط سالی په زمانه کښی په انسان، حیوان او نورو حشراتو باندی رحم کوی او باران وروی.

د هغه رب د اشرف المخلوقات په دی خراب حالت باندی رحم راغلو او کائنات مقدس انسان نبې رحمة اللعالمین جوړ کړو. او دنیا ته نبې راولیږلو. او د قرآن په صورت کښی نبې ورته د انسانیت د شعور او هدایت منشور ورکړو.

او قرآني تعلیماتو داسې انقلاب راوستلو چې د نیا د هغې د مثال راوړونه عاجزه ده قرآن ښارونه او کلي بدل کړو. معاشرت، ثقافت، سیاست او حکومت ئې بدل کړو .ظاهر او باطن ئې بدل کړو.

انسان ئې داسې بدل کړو چې د ډاکونه ئې محافظ جوړ کړو. د ظالم نه ئې عادل جوړ کړو، دفاسق نه ئې زاهد جوړ کړو. د عرب د شپون نه ئې مقتدا او امام جوړ کړو. د شرابي نه ئې شب بیدار جوړ کړو. د مدعونه ئې داعي جوړ کړو.

د تږي نه ئې ساقي جوړ کړو. د جاهل نه ئې عالم جوړ کړو. د ابوبکر رضی الله عنه نه ئې صدیق، د عمر رضی الله عنه نه ئې فاروق، دعثمان رضی الله عنه نه ئې ذوالنورین او دعلي رضی الله عنه نه ئې حیدر جوړ کړو او د معاویه رضی الله عنه نه ئې کاتب وحی د ابوعبیده رضی الله عنه، نه ئې امین الامت جوړ کړو.

دا ټول هر څه څنګه وشو دا انقلاب څنګه راغلو؟ دا انقلاب د حضور ﷺ د محنت دوجې او د قرآن د تعلیماتو او په قرآن باندې د عمل کولو دوجې راغلو.

قدرمنو ملګرو! نن هم مونږ سره قرآن موجود دی او په هغه صورت موجود دی په کوم چې نازل شوی وو. په یو آیت کښې ئې هم بدلون نه دی شوې. د قرآن یو حرف، زبر، زیر، او پیش کښې هیڅ بدلون نه دی شوی.

لیکن ای مسلمانانو مونږ څومره بدقسمته یو، چې خپل کور کښې موخزانه شته او د بل نه خیرات غواړو. د رهنمایي چینه مونږ سره ده او مونږ د امریکې، برطانیې، روس او فرانس نه رهنما غواړو. مونږ سره د خوږو اوبو چینه شته او د "العطش العطش" آوازونه کوو. د مغرب طریقې پرېږدي خپل قرآن باندې عمل وکړي. ټول یورپ به ستاسو په قدمونو کښې پروت وي.

ټوله دنیا د یو نظام تلاش کښې ده. یاخې او دوی ته دقرآن نظام

Maktaba Tul Ishaat.com

وړاندی کړی افسوس په موږ باندی چی نه خپله د قرآن نه فائده اخلو او نه نورو خلقو ته د استفادی موقع ورکوو

زما دُعا ده چی الله ﷻ موږ ته د قرآن دلوستلو او ښودلو او په دی د عمل کولو توفیق راکړی. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

*****

## د دعوت او تبلیغ اهمیت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً ممن دعا الی الله وعمل صالحا وقال اننی من المسلمین. (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ بَلِّغوا عَنِّی وَلَوْ اٰیَةً (اوکما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او زما دینی ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "دعوت او تبلیغ اهمیت"

محترمو اوریدونکو! د الله تعالی فرمان دی "وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِیْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوا" د الله ﷻ رسی په مضبوطی سره اونیسی او فرقی مه جوړوی. مفسرین د دی آیت په تفسیر کښی لیکی چی الله ﷻ په دی آیت کښی د عبارة النص په طریقی سره مسلمانانو ته د یو جماعت کیدو حکم کوی. او په دی آیت کښی الله ﷻ د جماعت منشور هم متعین کړی دی هغه دی حبل الله یعنی د الله ﷻ قرآن

او د دی جماعت کار به څه وی. الله ﷻ خپله اعلان کوی "كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ" يعنی تاسو غوره امت ئې د خلقو د نفع

رسولو دپاره پیدا کړی شوی ئې. تاسو به خلقو ته د ښه کارونو حکم کوی او د بدو کارونو نه به ئې منعه کوی او خپله به هم د ایمان بالله په صفت سره متصف اوسی. او یوبل ځائی کښې ارشاد دی. د هغه سړی نه افضل (ښائسته) خبره د چا کیدی شی. چې خلق د الله ﷻ طرف ته رابلی او خپله هم نیك عمل کوی. او دا وائې چې زه د عامو مسلمانانو نه یم.

د نبی ﷺ ارشاد دی: " مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ " تاسو کښې چې څوك هم ناروا کاروګوری نو په لاس دی منعه کړی، که د دی طاقت نه وی په ژبه دی منع کړی او که ددی قاطت ئې نه وی نو په زړه کښې د ورته بد وګوری او دا د ایمان د ټولونه ادنئ درجه ده.

محترمو اوریدونکو ورونو حضرات! د نبی ﷺ د ختم نبوت د وجی نه د دعوت والا کار په هر مسلمان لازم دی، لهذا صحابه کرامو ﷺ، تابعین او تبع تابعینو دا کار په ښائسته طریقی سره کړی دی. چې د دی واضح ثبوت د تاریخ پانې دی.

او د دنیا په هر طرف کښې د دوی مقبری دی. چې دوی په "بَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ" بانی د عمل کولو دوجی په ټوله دنیا کښې خپور شوی وو. بیا د مسلمانانو د زوال دوجی دا فریضه څه زمانه بنده وه. الله تعالی دی د مولانا الیاس رحمه الله قبر د نور نه ډك کړی. چې هغوی د خپل کوشش او مسلسل محنت دوجی د دعوت او تبلیغ دا فریضه دوباره ژوندی کړه او داسی ئې دا کار شروع کړو.

چې نن : هندوستان نه واخله تر یورپ او افریقی پوری په تمامه دنیا کښې دا کار په نظر راځي او هغه فضاء او ماحول بیا په جوړیدو دی کوم چې د صحابه کرامو ﷺ په دور کښې وو. او ددی

Maktaba Tul Ishaat.com

محنت دوجې نن هغه وروروليي په نظر راځي كوم چې دصحابه کرامو ﷺ په وخت کښې وو.

قدرمنو ملګرو! كه د الله ﷻ رضا او نصرت حاصل شو نو هغه زمانه لرې نه ده، چې په ټوله دنيا كې به د علوم نبوی او اسلام بيرغ هر طرف ته ولاړ وي.

الله ﷻ دِ مونږ او تاسو ټول د خپل دين عالي محنت دپاره قبول كړي او زمونږ نه دې صادق او امين جوړ كړي آمين

"وآخردعوانا أن الحمدلله رب العٰلمين."

*****

## د ټولونه اوچت نبی ﷺ

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. امابعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ سورة(۹۴)۱-۴

محترم اساتذه كرام او زما هم مكتب ملګرو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

زما د تقرير موضوع ده "د ټولونه اوچت نبی ﷺ"

محترمو اوريدونكو! ماچې ستاسو د وړاندې كوم آياتونه ولوستل دې کښې الله ﷻ چې خپل محبوب ﷺ ته كوم درې(۳) عظيم انعامات وركړي دې د هغې تذكره كوي

(۱)شرح صدر(۲)وضع وزر(۳)رفع ذكر عجيبه خبره داده چې دا درې واړه انعامات نبي ﷺ ته بغير د غوښتلو او بغير د درخواست وركړل شوي دي

تاسو ته معلومه ده چې بعض څيزونه استاذ، شاګرد ته، پلار خوی

ته، مشر کشر ته، په غوښتلو ورکوی او بعض څیزونه بغیر د غوښتلو د
صلاحیت دوجی دوی ته ورکولی شی. دلته نبی ﷺ ته الله ﷻ دا دری
صفات د صلاحیت دوجی بغیر د غوښتلو ورکړی دی.

محترمو اوریدونکو! کله چی الله ﷻ موسی علیه السلام ته حکم
وکړو "اِذْهَبْ اِلٰی فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰی" نو موسیٰ علیه السلام د الله ﷻ دربار
کښی یو درخواست وړاندی کړو: "قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ ﴿۲۵﴾
وَیَسِّرْ لِیْٓ اَمْرِیْ ﴿۲۶﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ ﴿۲۷﴾ یَفْقَهُوْا قَوْلِیْ ﴿۲۸﴾
وَاجْعَلْ لِّیْ وَزِیْرًا مِّنْ اَهْلِیْ ﴿۲۹﴾ هٰرُوْنَ اَخِی ﴿۳۰﴾ اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِیْ
﴿۳۱﴾ وَاَشْرِكْهُ فِیْٓ اَمْرِیْ ﴿۳۲﴾ سورة (۲۰) طه: ۲۵- ۳۲-

دی آیاتونو کښی موسیٰ علیه السلام د پنځو څیزونو درخواست
کړی دی زما شرح صدر وفرمایه، زما کار آسان کړه، او زما د ژبی لکنت
ختم کړه او فصیح می جوړ کړی.

زما د اهل بیت نه زما وزیر جوړ کړی. الله ﷻ د موسی علیه
السلام دا درخواست قبول کړو، لیکن قربان شم د خپل خوږ پیغمبر نه
چی د الله ﷻ دربار نه ورته بغیر غوښتلو دغه انعامات ملاؤ شو ارشاد
وشو "اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ" حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله د
شرح صدر تشریح کښې فرمائې د شرح صدر نه دوه (۲) نعمتونه مُراد دی
(۱) علم (۲) حلم یعنی د نبی ﷺ د شان سره مناسب چی کوم علوم او
معارف وو هغه ټول نې نبی ﷺ ته ورکړل.

دومره کثیر مقدار سره چی د هغی شمارل د امت په وس کښی نه
دې د نبوت علوم، د شریعت علوم، د جهاد علوم، د عبادت علوم،
طریقت او معرفت علوم، د ریاضت او د امارت علوم. یعنی د منصب
نبوت سره چی کوم علوم ضروری وو هغه ټول نبی ﷺ ته عطا ورکړل شو.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضور ﷺ علم هم بی مثاله وو او حلم ئې هم بې مثاله وو. علم ئې د خلقو دماغ روښانه کړل او حلم ئې زړونه روښانه کړل.

دواړه نعمتونه ئې بې مثاله او نه ختمېدونکي وو.

"وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ" یعنی مونږ د نبی ﷺ بوج ختم کړو. دا بوج څه وو. د مخلوق فکر، د توحید فکر، د دین فکر، د مشرکانو فکر، دا فکر په نبی ﷺ بوج وو. نبی ﷺ ته الله ﷻ نبوت ورکړو او دا بوج ئې تری ختم کړو. نبی ﷺ بالکل مطمئن شو.

"وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ" یعنی مونږ ستا نوم اوچت کړو. لهذا کلمه د نبی ﷺ د ذکر نه بغیر نامکمل، آذان د حضور ﷺ د ذکر نه بغیر نامکمل تکبیر د حضور ﷺ د ذکر نه بغیر نامکمل، مونځ د نبی ﷺ د ذکر نه بغیر نامکمل، د قبر سوال جواب د نبی ﷺ د ذکر نه بغیر نامکمل خلاصه دا چی څنګه انسان د اعضاء نه بغیر نامکمل دی دغه شان ایمان بغیر د الله ﷻ نه نامکمل دی.

حدیث قدسی دی، الله ﷻ فرمائی ای زما محبوبه! کوم ځای چی زما ذکر وي هلته به ستا ذکر وی. کلمه کښی به اول زما ذکر وی بیا ستا.... تکبیر کښی اول زما ذکر بیا ستا ذکر.... مونځ کښی اول زما ذکر بیا ستا ذکر..... جنازه کښی اول زما ذکر بیا ستا ذکر..... حشر کښی اول زما ذکر بیا ستا ذکر.

"وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ" د لات او عُزّی عبادت کونکو، د شرك او بدعت علمبردارو، ستاسو نامه به ختمه شی، ستاسو معبودان به ختم شی، زما د محبوب بیرغ به هر طرف ته په نظر راځي، د عربو به هم دی نبی ﷺ وی، د عجمو به هم دی نبی ﷺ وی. د عرش به هم دی نبی ﷺ وی او د فرش به هم دی نبی ﷺ وی. داولیاؤ به هم دی نبی ﷺ دي د اتقیاؤ به هم او د انبیاء هم.

بلکې زهٔ وایم الله رب العالمین دی او مصطفی ﷺ رحمة

للعالمين کوم خاى چي د الله تعالى د خُدائي ذکر وى هلته به د نبى ﷺ د نبوت ذکر وى.

خُدا مَدح آخرين مصطفى بَس
محمّد حَامد حَمدِ خُدا بس

"وما علينا الا البلغ المبين"

*****

## دصديق اكبر رضى الله عنه شان

نحمده ونصلى على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلَّذِي جَاءَ بِالصدق وصدق به اولٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ.

وقال النبى ﷺ لِاَبِى بَكْرِ الصِّدِّيقِ اَنْتَ صَاحِبِىْ فِى الْغَارِ وَصَاحِبِىْ فِى الْجَنَّةِ او كما قال عليه السلام

محترم اساتذه كرام او زما د ګلشن انور ملګرو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

زۀ نن ستاسو په وړاندى د داسى انسان مناقب بيانوم چي فناء فى الرسول هم وو او د قبر رفيق هم دى. او د حشر رفيق هم دى. يارغار هم دى او د نبوت وفادار هم.

محترم سامعينو! علامه ابن حجر رحمه الله مكى ليكلى دي. چى د صديق رضي الله عنه په ولادت باندى هاتف د آسمان نه آواز وكړو "اَمَةَ اللّٰهِ بِتَحْقِيْقِى اَبْشِرِى بِالْوَلَدِ الْعَتِيْقِى اِسْمُهٗ فِى السَّمَاءِ صِدِّيْقِى وَبِالْخَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ فِى الْغَارِ رَفِيْقِى" آواز وشو چې د الله جل جلاله بنده همدا ابوبكر صديق دى چې نوم ئې عبدالله دى. د والد نوم ئې ابوقحافه ده. كنيت ئې ابوبكر دى لقب ئې عتيق او صديق دى. د محمد ﷺ رفيق دى. دا هغه ماشوم دى چې ترقيامته پورى د نبى ﷺ رفيق دى. دا وصى الرسول دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

په ټولو صحابه کرامو ﷺ کښې افضل، اعلی او د نبی ﷺ د ټولونه اول ملګری دی. د مصطفی ﷺ وزیر، د مصطفی ﷺ مشیر، د مصطفی ﷺ محافظ ابوبکر صدیق ﷺ دی. ټوله دنیا کښې شهیدان ډیر دی. بهادر ډیر دی. محدثین، مفسرین، علماء، حجاج، مفتیان ډیر زیات دی، لیکن حضرت صدیق ﷺ صرف یو دی.

خلق وائي دما دم مست قلندر د علی ﷺ اول نمبر، لیکن زه وایم د ابوبکر ﷺ اول نمبردی. په شجاعت کښې هم په خلاقت کښې هم، په الله ﷻ قسم حضرت علی ﷺ د عثمان ﷺ خلیفه دی. او عثمان ﷺ د عمر ﷺ خلیفه دی. او عمر ﷺ د ابوبکرصدیق ﷺ خلیفه دی، او ابوبکر ﷺ د پیغمبر ﷺ خلیفه دی دی وجی نه ورته د خلیفه الرسول لقب حاصل دی.

صدیق اکبر ﷺ هغه انسان دی چی دهغه په باره کښې نبی ﷺ وائي په ټوله دنیا زما احسان دی او د ابوبکر ﷺ په ما احسان دی. زه وایم د حضرت علی ﷺ او ابوبکر ﷺ کښې ډیر زیات فرق دی چی څوك پری نه پوهیږی د هغه بیړه غرقه ده.

د علی ﷺ کور پیغمبر ﷺ آباد کړو او د پیغمبر ﷺ کور ابوبکر صدیق ﷺ آباد کړو. علی ﷺ زوم دی او ابوبکر ﷺ سخر دی.

محترم سامعینو! نبی ﷺ صادق وو، لهذا ابوبکر ﷺ صدیق شو. نبی ﷺ عادل وو، لهذا عمر فاروق ﷺ هم عادل جوړشو، نبی ﷺ سخی وو نو عثمان ﷺ د سخاوت بادشاه جوړ شو. نبی ﷺ بهادر وو، لیکن حضرت علی ﷺ حیدر کرار شو.

بهادر حضرت خالد ﷺ هم وو. طارق ﷺ هم وو فاروق ﷺ هم وو. لیکن صدیق ﷺ صرف یو دی چا ته چی قرآن صدیق ویلی دی او مصطفی ﷺ چی چاته صدیق ویلی دی. هغه ابوبکر ﷺ دی صدیق ﷺ د

تولونه اول د اسلام تصدیق کړی وو

صدیقؓ د تولونه اول د نبوت تصدیق کړی وو صدیقؓ د تولونه اول کلمه ویلی وه صدیقؓ د تولونه اول د اسلام دپاره وهل خوړلی دي صدیقؓ د تولونه اول د معراج تصدیق کړی وو.

قدرمنو اوریدونکو! صدیقؓ په هر مقام کښې د اسلام بیرغ د پولی وه. او په دغه کوشش کښې شهید شو. او دا پیغام ئې امت ته ورکړو. چې صدیقؓ د اسلام دپاره هر څه قربانوی.لیکن د اسلام نه هیڅ څیز هم نه اخلی بلکې په خپلو اغوستل شوو جامو کښې دفن کیږی

ومـا علینا الا البلغ المبین

Maktaba Tul Ishaat.com

# دارالعلوم ديوبند او د اسلام خدمات

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. امابعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم.
بسم الله الرحمن الرحيم
قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ.
وقال لنبيُّ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَقْبِضُ العِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ العِبَادِ، وَلٰكِنْ يَقْبِضُ العِلْمَ بِقَبْضِ العُلَمَاءِ، حَتّٰى لَا يَبْقٰى عَالِمًا اوكما قال عليه السلام.
قدرمنو استاذانو او زما هم مكتب ملګرو!
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زۀ ستاسو خيالات، فكر، سوچ، ستاسو ذهن، د علوم نبوت مركز. د علوم قرآن مركز دارالعلوم ديوبند طرف ته متوجه كول غواړم چې دی مركز د اسلام كومه دعوه كړې وه چې دا د علوم قرآن مركزدی، د علم نبوت مركز دی. دتحريك اسلام خادم او مركزدی. نو دی په خپله دعواه كښې څومره صادق دی. ستاسوذهن هغې طرفته متوجه كوم.

محترمو سامعينو! د دارالعلوم ديوبند ابتداء ديوانار دونی لاندې نه شوی ده. دارالعلوم ديوبند په يوه (۱) صدی كښې نوی زره (۹۰۰۰۰) علماء حق تيار كړل. په يو سل پنځه شپيته (۱۶۵) ملكونو كښې ئې شاګردان موجود دی. په ټولی ايشياء كښې د دارالعلوم ديوبند، دينی مذهبی، تاليفی، تصنيفی، قومی، ملّی اصلاحی او فنی خدمات په هر يو ښار او هر كلي، كښې شپه او ورځ مسلم دی. كله چې په هندوستان كښې دكفرطوفان وو په شرك، بدعتونو، رسمونو او رواجونو كښې خلق مبتلا وو د اسلام صرف نوم ؤ، او هر كار غلط وو، عقيدې خرابې وې. هر طرف ته د ظلم او ګمراهۍ تيارې وې. حكومت شيطانی وو هر مسلمان حيران او پريشان وو. علماء به په سولی كولی شو. د حق ويونكو به سر الوزولی شو د "الكُفْرُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ" نقشه وه "د الحفيظ والامان" نعره وه

لوی لوی جاګیردار، زمیندار، سرمایه کار د حکومت غلامان وو. د غیر وفادار او د ملك غداران وو، د مذهب نه هم بیزار وو.

د اعلی عهدو طلبګار وو. اکثر بیکار او مکاروو، مسلمان ذلیل او خوار وو. د قرآن نسخی سوزولی شوی. د اسلام نقشی ختمولی شوی په مجاهدینو بهٔ مقدمی چلولی شوی. د کالجونو تعلیم وو. د مسلمانانو څه تنظیم نهٔ وو. اسلامی تعلیم نه وو. د حق پرستو ډله مغلوبه وه. د ټولونه لوی دشمن انګریز وو.

د اسلام ورونړو! په دی نازك دور کښی علماء حق د انګریز په هر معامله کښې مقابله وکړه خو چې کله حالات ډیر خراب شو او د انګریز مقابله ظاهر میدان کښی مشکله وه. نو قاسم العلوم والخیرات مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمة الله علیه د دارالعلوم دیوبند بنیاد کیښودو او د دی مقصد به هغوی داسی بیانولو.

زما خواهش دی. چی د دارالعلوم هر تعلیم یافته د انګریز په محل کښی درز پیدا کړی. او ددی مدرسی هر باطل قوت دپاره زهر قاتل جوړ شی. د انګریز خلاف د بغاوت جُرم کښی که د دارالعلوم یو ډیر راونړیږی مګر ان شاء الله جنګ به هر حالت کښی باقی وې.

محترم سامعینو! دارالعلوم دیوبند په زرګونو مفسرین، محدثین، مفتیان، متکلمین، محققین، مدققین، مناظرین، معلمین، مبلغین، مؤرخین، مدبرین، مفکرین، سیاستدانان، صحافیان، شاعران پیدا کړی دی. او په زرګونو علماء، فضلآء، بلغاء، ادباء، صلحاء، اتقیاء، اذکیاء، اصفیاء، او شیوخ ئې پیدا کړی دې.

هسی خو دارالعلوم دیوبند په زرګونو علماء پیدا کړی دې لیکن څه حضرات پکښی د ډیر لوی شخصیت مالکان وو. چې دهغوی تذکره ضروری وه.

شیخ الهند مولانا محمود حسن رحمة الله علیه استاذالعلماء او لوی مفسر

Maktaba Tul Ishaat.com

او محدث او عظیم سیاستدان وو د محمود هر صفت محمود وو کوم چې په هغه کښې موجود وو د ده هر شاګرد رشید قابل د دید وو
حضرت مولانا عبید الله سندهي رحمه الله انقلابي مدبر، مفکر او سیاستدان وو حضرت مولانا سید محمد انور شاه کشمیري رحمه الله، محدث، فقیه، مناظر، عالم باعمله کامل و اکمل او فاضل اجل وو د وخت ابن قیم، ابن جوزي او ابن حجر عسقلاني رحمه الله وو خلقو به دې په تلونکې راتلونکې کتب خانه په لقب سره ملقب کولو

حضرت مولانا شبیر احمد عثماني رحمه الله لوی محدث، خطیب، ادیب، سیاستدان او کامل انسان وو حضرت مولانا سید حسین احمد مدني رحمه الله مجاهد، محدث، سیاستدان عامل قرآن او عاشق رسول وو

حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب مفتي اعظم پاك و هند وو فقیه، محدث، مجاهد فی سبیل الله وو حضرت مولانا عزیز الرحمن عثماني صاحب، مفتي، فقیه لائق او فائق وو

قدرمنو سامعینو! د کومو حضراتو چې اوس تذکره وشو کچېرته د دوی د حالاتو او صفاتو تذکره وکړې شي نو د هر یو تذکرې نه مستقل تصنیف تیار یدی شي

دار العلوم دیوبند په زرګونو مدرسې په هندوستان او پاکستان کښې قائمې کړې دي چې دوی تبلیغي، تدریسي خدمات سحر او ماښام هر وخت ادا کوي

زما غیرتمنو مسلمانانو! د دار العلوم فضلاء په هر میدان کښې د باطل مقابله کړې ده یو طرف ته ئې د تبلیغ کار وکړو په زرګونو عیسایان، هندوان او مرزایان ئې مسلمانان کړل نو بل طرف ته ئې د فتنه مرزائیت، بهائیت، عیسائیت، رضاخانیت، رافضیت او د فتنه غیر مقلدیت په بهادرۍ سره مقابله وکړه الله ﷻ د دغه دار العلوم همیشه دپاره قائم او دائم وساتي آمین "وما علینا الا البلغ المبین"

# حاضر وخت کښې د جهاد اهميت

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم. امابعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم.
بسم الله الرحمن الرحيم

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ

سورة(۸): ۳۹

وقال النبی ﷺ اِعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ اوکما قال عليه السلام.

محترم صدر جلسه او عزتمندو اوريدونکو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقرير موضوع ده "په موجوده وخت کښې د جهاد اهميت"

محترم اوريدونکو! د الله ﷻ فرمان دی: "تِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ" لهذا يو دور وو کله چې د مشرق نه مغرب او شمال نه جنوب پورې اسلام پۀ ترقی وو. د اخوت او ورورولی فضا وه امن وامان وو. دين اسلام ته په غلط نظر کتلو مجال نه وو. او د "قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ" منظر وو. ليکن اوس د اسلام صرف نوم دی. د بغض او حسد بازار گرم دی.

پۀ ټوله دنيا کښې اسلام مغلوب او مقهور دی. آخر داسی ولی وشو؟ د دی يو جواب دی... چې مسلمانانو جهاد پريښودی دی.

محترم سامعينو! جهاد هغه لازوال دولت دی. چې د دی دوجې اسلام او مسلمان په هر ميدان کښې کامياب شوی دی. او د جهاد دوجې د اسلام رُعب په تمامه دنيا باندې خپور وو. ليکن چې څنګه مسلمانانو جهاد پريښودو... نو ذليل اوخوار شول. او د دُنيا په هره طبقه کښې مظلوم شول.

او داسې به ولی نه کيدل د نبی ﷺ ارشاد دی: "اِذَا تَرَكْتُمُ الْجِهَادَ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَسَلَّطَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الذِّلَّةَ۔ کله چې تاسو جهاد پرېږدی الله ﷻ به په تاسو ذلت مسلط کړي. د قرآن اعلان دی: وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ۔ مسلمانانو جهاد کوی تردی پوری چې فساد ختم شی او ټول دين د الله ﷻ لپاره شي.

ای نادان مسلمانانو! تاسو به ترڅو غفلت کښی پراته يئ، قرآن مجید تاسو، رابيداروي: لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ أَجْرًا عَظِيْمًا۔ هغه مسلمان چې جهاد کوی او کوم چې جهاد نه کوی دواړه برابر نشي کيدی.

عبدالله بن مبارک رحمه الله جليل القدر محدث دی فقيه هم دی. عابد او مجاهد هم دی. دفضيل بن عياض باره کښی ئې واوريدل چې هغه د بيت الله مجاور دی. او کثرت سره عبادت کوی، ليکن جهاد نه کوي، نو عبدالله بن مبارک ورته يو شعر وليکلو اوهغه ته يې ورولیږلو.

يَا عَابِدَ الْحَرَمَيْنِ لَوْ اَبْصَرْتَنَا
لَعَلِمْتَ اَنَّكَ فِي الْعِبَادَةِ تَلْعَبُ

ترجمه: ای د حرمين عبادت کونکی که تا مونږ د جهاد کولو په وخت کښی ولیدو. نو تاته به معلومه شی چې ته په عبادت کښی لوبې کوی.

لهذا تاريخ ليکونکو ليکلی دی چې د دې شعر لوستلو نه وروسته فضيل ابن عياض جهاد دپاره ميدان جهاد ته روان شو.

غيرتمنو مسلمانانو! که تاسو غواړی چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم پشان دور بيا راشي، او د امريکي حکمرانی ختمه شي او دبرما، چيچينا بوسنيا، کشمير او د بيت المقدس د کافرانو د قبضی نه خلاص ش نو ضروري ده چې مونږ جهاد شروع کړو.

د پیغمبر ﷺ ارشاد دی: اِعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ. پوه شی چی جنت د تورو د سوري لاندی دی

نبی ﷺ چی صحابه ﷺ په خندق کنستلو باندی ولیدل نوویې فرمایل

اَللّٰهُمَّ لَاعَيْشَ اِلَّاعَيْشُ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةَ

ای الله ﷻ د دنیا ژوند څه ژوند نۀ دی اصل ژوند خو د آخرت دی، ای الله ﷻ ته د انصار واو مهاجرینو مدد وکړه.

صحابه کرامو ﷺ چی کله دا دعا واوریدهٔ نو آوازئې وکړو.

نَحْنُ الَّذِيْنَ بَايَعُوْا مُحَمَّدًا عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِيْنَا اَبَدًا

مونږ هغه خلق یو چی د محمد ﷺ په لاسو مو بیعت کړی دی تر څو چی ژوندي یو مونږ به جهاد کوو

د الله ﷻ نه دعا ده چی الله ﷻ مونږ ټولو ته د صحابه کرامو ﷺ په شان د جهاد توفیق راکړی آمین

وما علینا الا البلغ المبین۔

Maktaba Tul Ishaat.com

## د علم دولت څنګه ملاویږی؟

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.
بسم الله الرحمن الرحیم

یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِینَ اٰمَنُوا مِنْکُمْ وَالَّذِینَ اُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ

سورة (۵۸) : ۱۱

وقال النبی ﷺ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیْضَةٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ او کما قال علیه السلام.

محترم اساتذه کرام او زما د بزم انور ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "د علم دولت به څنګه ملاویږی"

محترمو اوریدونکو! انسانیت بغیر د علم نه نیمګړی دی، او د انسانیت او حیوانیت ترمینځ لوی فرق په علم سره کیږی، د دنیا د هر قسم دولت دپاره زوال دی. لیکن علم لازوال دی. حضرت علی رضی الله عنه فرمائی!

رَضِیْنَا قِسْمَةَ الْجَبَّارِ فِیْنَا
لَنَا عِلْمٌ وَ لِلْجُهَّالِ مَالٌ
فَاِنَّ الْمَالَ یُفْنٰی عَنْ قَرِیْبٍ
وَاِنَّ الْعِلْمَ یَبْقٰی لَایَزَالُ

یعنی مونږ د الله جل جلاله په دی فیصلی راضی یو چی مونږ ته ئې علم راکړی دی. او جاهلانو ته ئې مال. مال زر ده چی فنا کیدونکی دی. او علم همیشه باقی پاتی کیدونکی.

محترم حاضرینو! د اعظیم دولت به مونږ ته څنګه ملاویږی او ددی د حصول دپاره مونږ ته څه کول پکار وی؟

د دې جواب بالکل واضح دی چی څنګه د دُنیا معمولی څیز بغیر

د محنت نه نۀ حاصلیږی د علم دا لوی دولت به څنګه حاصل شی. امام شافعی رحمه الله څه ښه فرمایلی دی.

مَنْ رَامَ الْعُلٰی مِنْ غَیْرِ کَدٍّ
اَضَاعَ الْعُمْرَ فِیْ طَلَبِ الْمُحَالِ

یعنی چی کوم انسان د محنت نه بغیر لوئې لوئې مرتبی غواړي هغه خپل عمر په محال او ناممکن شي کښی ضائع کوی.

امیر المؤمنین حضرت علی رضی الله عنه کرم الله وجهه فرمائی.

لَوْ کَانَ هٰذَا الْعِلْمُ یُدْرَكُ بِالْمُنٰی
مَا کَانَ یَبْقٰی فِی الْبَرِیَّةِ جَاهِلًا

یعنی هر کله چی د علم مقام او مرتبه د ټولو نه اعلی او اوچته ده که چیرې دا علم صرف تمنا سره حاصلیدو نو پۀ مخ د ځمکې به یو انسان هم جاهل نه وو. نو هر کله چی صرف په تمنا سره علم نه حاصلیږی نو څه به کول ضروری وی د علم د حصول د پاره حضرت علی رضی الله عنه فرمائی:

فَاجْهَدُوْا وَلَا تَکْسِلُوْا وَلَا تَكُ غَافِلًا
فَنَدَامَةُ الْعُقْبٰی لِمَنْ یَّتَکَاسَلُ

یعنی که تاسو د علم د حصول طلبګار ئې، نو ښه محنت وکړی او د سُستیانه کارمۀ اخلی. او غافله کیږه مه. ځکه چی کوم سړی په حصول علم کښی غفلت او سُستی کوی د هغه انجام شرمناک وی الله جل جلاله د موږ ټول په صحیح معنی کښی د علم طالبان جوړ کړی.

او د اسلافو په نقش قدم دِ موږ روان کړی.آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

## امانتداري

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُوْنَ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ لَااِيْمَانَ لِمَنْ لَااَمَانَةَ لَه (اوکما قال علیه السلام)

زما محترم اساتذه کرام او هم مکتب ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زهٔ ستاسو په وړاندې دِ "امانتدارۍ" په موضوع باندې څه خبرې پیش کول غواړم.

محترم اوریدونکو! الله ﷻ په سورة المؤمنون کښې د مؤمنانو په صفاتو کښې یو صفت دا بیان کړې دې. چې دوې به امانتدار وي. دوي کښې به هیڅ قسمه خیانت نه وي.

د حضور ﷺ ارشاد دې: "اٰيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثَةٌ اِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَاِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" یعنې د منافق درې نښې دي: (۱) چې خبرې کوې نو دروغ وائې، (۲) چې وعده وکړې خلاف ورزې ئې کوي، (۳) چې امانت ورسره کیښودې شي په هغې کښې خیانت کوي.

یو حدیث کښې نبی ﷺ صفا اعلان کړې دې: "لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَهٗ" چې چا کښې امانتدارې نه وي په هغه کښې ایمان نه وي.

قدرمنو ملګرو! د مشکوٰة شریف پهٔ یو حدیث کښې د درې سړو تذکره ده. دوي چې د سفر نه واپس راتلو چې نا څاپه باران شروع شو. د باران نه د بچ کیدو دپاره یو غار ته ننوتل. د الله ﷻ شان ته وګورې نا څاپه تیږه راغله، چې دغار خُله ئې بنده کړه. او ددې درې واړو راوتل دغار نه مشکل شو. درې واړو خپلو کښې مشوره وکړه چې اُوس د الله تعالی نه علاوه بل هیڅوك خلاصونکې نشته. ددې وجې خپل نیك اعمال یاد

کړی او هغه وسیله جوړه کړی او د الله ﷻ غفور رحیم نه د کاني دلری کولو سوال وکړی حاصل دا چی دی دری واړو کښی یو کس امانتدار هم وو. هغه الله ﷻ نه سوال داسی شروع کړو. ای علیم بذات الصدور ذاته! چی ما یو واری د کور جوړولو دپاره مزدوران په کرایه نیولی وو.

ای الله ﷻ! تا ته معلومه ده چی هغی کښی یو مزدور بغیر د مزدوری اخستلو نه کور ته تللی وو.

ای الله ﷻ ما د هغه پیسی کاروبار کښی لګولی وی چی د هغی دوجی هغه ډیری شوی

تردی چی د هغه د غواګانو او اوښانو کنډکی جوړ شوی. څه زمانه بعد هغه سړی واپس راغلو او خپله مزدوری ئې وغوښتله، ما ورته ویل دا مخامخ اوښان او غواګانی چی دي په نظر راځي دا ستا دي،. هغه وویل ای د الله ﷻ بنده زهٔ یو غریب انسان یم ماسره ټوقی مه کوه. ماته صرف زما حق راکړه، بیا ورته ما ټوله قصه واوروله دهغه یقین وشو هغه ټول څاروي بوتلل او لاړو.

ای عالم الغیب ذاته! تا ته معلومه ده داکار ما صرف او صرف ستا د رضا دپار کړی وو. یا الله ﷻ که دا ما صرف ستا دپاره کړی وی دا کاني د غار د خُلي نه لری کړی.

څنګه چی هغه دا جمله وویله د غار د خُلي نه کاڼی لری شو او دری واړه صحیح او سلامت راووتل.

محترم اوریدونکو! دا د امانتداری صله وه... یوبل حدیث کښی راځي چی امانتدار خلق به د قیامت په ورځ د انبیاء علیهما السلام، صحابه کرامو ﷺ او د شهداو سره په جنت کښی وي.

الله تعالی د مونږ ټولو ته د امانتداری توفیق راکړی. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د استقامت حقیقت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.
بسم الله الرحمن الرحیم
إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ

وقال النبی ﷺ أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ (اوکما قال علیه السلام)

محترم اساتذه کرام او زما هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "د استقامت حقیقت"

محترم اوریدونکو! ما چې ستاسو په وړاندې کوم آیت مبارکه تلاوت کړې دی. هغې کښې لفظ د استقامت استعمال شوی دی، لغت کښې د استقامت معنٰی ده سیده ودریدل، بیا دی استقامت کښې ډیر اختلاف دی چې د دی نه څه مُراد دې؟

د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه تپوس وشو چې د استقامت څه معنٰی ده؟ دوی جواب ورکړو د استقامت معنٰی ده د الله توحید.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائی د استقامت معنٰی داده چې د الله جل جلاله په او امرو او نواهیو باندې عمل وکړی شي. او د ګیدړې په شان اخوا دیخوا منډې نه شي وهلې.

حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چې د استقامت معنٰی ده په اعمالو کښې اخلاص پیدا کول.

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی فرائض په پابندۍ سره ادا کول دا استقامت دی.

علامه نسفی رحمة الله علیه لیکلی دي چې استقامت د لس (۱۰) څیزونو نامه ده:

(۱) وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا... يعنی تاسو کښې دې څيني خلك د څينو نورو غيبت نه کوی.

(۲) اِجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ... يعنی بدګمانی به نه کوی.

(۳) لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ... يعنی د مسلمان پوری به ټوقی نه کوی.

(۴) قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ... يعنی خپلی سترګی به د محرماتو نه بچ ساتی.

(۵) اِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا... يعنی رښتيا وينا به کوی.

(۶) اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ... د الله ﷻ په لاره کښې بهترين مال خرچ کوی.

(۷) وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا... يعنی فضول خرچی به نه کوی.

(۸) تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِى الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ... يعنی تکبر به نه کوی.

(۹) حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى... يعنی د پنځه مونځونو حفاظت به کوی.

(۱۰) وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِىْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ... يعنی د اهل سنت والجماعت په عقيده باندی مستقيم اوسيږی.

لهذا دا لس (۱۰) صفات چې په کومو خلقو کښې موجود شی دغه خلق به د "ثُمَّ اسْتَقَامُوْا" مصداق وی او په داسی خلقو باندی د الله ﷻ د رحمتونو، برکاتونو د نازليدو وعده ده. او دا خوش قسمته خلق دی د "اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِىْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ" بشارت عظمي مستحق دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷻ د مونږ ټولو ته دین باندې د استقامت توفیق راکړی او استقامت په حقیقت باندې د عمل کولو توفیق راکړي. آمین

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین"

****

## د تکبر انجام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ کُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ وَمَنْ تَکَبَّرَ وَضَعَهُ اللّٰهُ او کما قال علیه السلام.

محترم استاذانو او د ګلشن انور ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "د تکبر انجام"

محترم اوریدونکو! شیطان د محمود نه مبغوض، د منظور نه مردود، د مهدی نه مضل د میمون نه ملعون څنګه شو.

د شیطان اولنی نوم په اول آسمان کښې عابد وو ... دویم آسمان کښې زاهد ... دریم آسمان کښې عارف ... څلورم آسمان کښې ولی ... پنځم آسمان کښې تقی ... شپږم آسمان کښې خازن ... اووم آسمان کښې عزازیل او لوح محفوظ کښې ابلیس.

مکرم سامعینو! الله ﷻ د آدم علیه السلام د جوړولو نه بعد فرشتو ته د سجدې حکم وکړو، نو "فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِکَةُ کُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ... ټول په ټوله په سجده پریوتل اِلَّآ اِبْلِیْسَ" لیکن ابلیس انکار وکړو. اووې ویل چې زه آدم علیه السلام ته څنګه سجده وکړم "اَنَا خَیْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِیْ مِنْ نَّارٍ وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِیْنٍ" زۀ د اُور نه پیدا شوی یم او آدم علیه السلام د خاورې نه

لهذا زۀ آدم ته سجده نه شم کولی. الله ﷻ چې کله د دۀ تکبرانه فلسفه وليدله نو د ده صورت ئې د خنزير د صورت سره تبديل کړو او د خپل دربار نه ئې و ويستلو.

حالانکې دا ابليس، وجيه الصورت... بديع الشکل...لوئ عمل والا... لوئ عبادت ګزار.... د فرښتو استاذ او سردار وو.

ليکن افسوس د دۀ تکبر پۀ ټولو صفاتو باندې او به واړولې.

نبی ﷺ وفرمايل "مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللّٰهُ" - څوک چې د الله ﷻ دپاره عاجزی اختيار کړی. الله ﷻ دا انسان اوچتوی او چې کوم انسان تکبر کوی الله ﷻ ئې ذليله کوی.

لهذا د دې تکبر دوجې کنعان اوبو کښې غرق شو. د نمرود په دماغو کښې ګوړ ماشی داخل شو. فرعون په درياب کښې ډوب شو. قوم عاد او قوم ثمود د مخ د ځمکې نه لرې کړی شو. قارون په ځمکه کښې ښخ شو. هشام ابوجهل وګرځيدو او دې تکبر د قيصر او کسرٰی نوم د دنيا نه ختم کړو.

محترم اوريدونکو! کوم کس چې تکبر کوی خلقو ته سپک ګوری خپل ځان اوچت ګڼی حقيقت کښې دا انسان د خُدائې دعوی کوی د خُدائې صفت او څادر خپل ځان ته ثابتوی.

حديث قدسی کښې ارشاد دی: "اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِىْ فَمَنْ نَازَعَنِىْ فِىْ رِدَائِىْ كَبَبْتُهُ فِىْ جَهَنَّمَ" يعنی چې کوم انسان د خپل ځان دپاره تکبر ثابتوی هغه ماسره جګړه کوی. او زما څادر راکاږی کوم انسان چې داسی کړی زه به هغه پرمخ په جهنم کښې وغورزوم.

د نبی ﷺ ارشاد دی: د چا پۀ زړه کښې چې د اُوری د دانې برابر تکبر وی هغه به جنت کښې نۀ داخليږی. د تکبر نه د بچ کيدو دپاره علماؤ مختلف علاجونه ښودلی دی. دې کښې د ټولو نه آسان علاج سلام دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبی ﷺ ارشاد دی: "اَلْبَادِئُ بِالسَّلَامِ بَرِيٌّ مِّنَ الْكِبْرِ" سلام کښې ابتداء کونکی د تکبر نه بری کیږي.

الله ﷻ د مونږ ټول د تکبر د بیماری نه محفوظ وساتي او د تواضع او عاجزی د مونږ ته توفیق راکړي. آمین

"وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمین."

*****

## د قرآن کریم په ژبه سیرت النبی ﷺ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

لِّتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ سورة (۴۸) الفتح: ۹

وقال النبی ﷺ اَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِيْنَ وَلَا فَخْرَ (او کما قال علیه السلام)

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "سیرت النبي ﷺ د قرآن په ژبه"

محترم اوریدونکو! زما آقا سید الانبیاء... خاتم الانبیاء... محبوب رب العالمین... سید الاولین والاخرین... رحمة للعالمین ﷺ هغه عظیم انسان دی هغه کریم انسان دی چې د ټولو انسانانو نه افضل دی. اشرف دی اکمل دی، چې د هغه تذکره جنت کښې هم ده. عرش باندې هم ده. چې د هغه نوم په تورات کښې طاب طاب ﷺ... انجیل کښې فاروق ﷺ... زبور کښې عاقب، اول آسمان کښې احمد... دویم آسمان کښې مجتبی... دریم آسمان کښې مرتضی ﷺ... څلورم کښې مزکی... پنځم کښې مجیب ﷺ... شپږم کښې مطهر ﷺ... اووم کښې مقرب ﷺ او په عرش باندې حبیب الله په کرسی باندې رسول الله... او لوح محفوظ کښې صفی الله ده. د

رسول الله ﷺ عاشقانو! زما د محبوب علیه السلام تعریف انسانانو وکړو... جناتو هم وکړو. فرښتو هم وکړو. لیکن ټول په آخر کښې په دې مجبور شو......!

لهذا قرآن کریم فرمائی!!!

ته مصطفی ئې... ذُرِّيَّةًۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

ته مجتبی ئې... وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُۖ

ته احمد ئې... وَمُبَشِّرَۢا بِرَسُولٖ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِي ٱسۡمُهُۥٓ أَحۡمَدُۖ

ته محمد ئې... مُّحَمَّدٞ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ

ته یس ئې... يسٓ ﴿١﴾ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣﴾

ته طلحه ئې... طه ﴿١﴾ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾

ته کمبل والائې... يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴿١﴾

ته څادر والائې... يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴿١﴾

ته روښانه څراغ ئې... وَسِرَاجٗا مُّنِيرٗا ﴿٤٦﴾

ته أمی نبی ئې... ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ

ته داعی الی الله ئې... وَدَاعِيًا إِلَى ٱللَّهِ بِإِذۡنِهِۦ

ته شاهد ئې... إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا

ته بشیر او نذیر ئې... وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ﴿٤٥﴾

ته مزکی یې... وَيُزَكِّيكُمۡ

ته معلم ئې... وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ

ته هدایت کونکي ئې... وانه لهدی ورحمة للمؤمنين.

ته رحمت ئې... وما ارسلنك الا رحمة للعلمين.

Maktaba Tul Ishaat.com

ته روؤف او رحیم ئې... حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿۱۲۸﴾
ته دلویو اخلاقو مالك ئې...وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿۴﴾
ته لوی شان والائې...وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿۴﴾
ته صاحب کوثرئې...إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿۱﴾
ته کامل اخترئې...سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا
ته خاتم النبیین یې...وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ

قدرمنو ملګرو! زما د محبوب صلی الله علیه وسلم مقام او مرتبه چې شیخ سعدی رحمة الله ولیده نو دایې وویل:

لایمکن الثناء کما کان حقه

بعداز خدا بزرګ توئي قصه مختصر

**وما علینا الاالبلغ مبین**

# د مصطفی ﷺ مقام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ (صدق الله العظیم) وقال النبی ﷺ اَنَا سَیِّدُ وُلۡدِ آدَمَ وَلَا فَخۡرَ (او کما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر عنوان دی "مقام مصطفی ﷺ"

قدرمنو اوریدونکو! تاج دار ختم نبوت، آقاء دوجهان، سید الجن والانس، فخرِ موجودات. محبوب کائنات، محبوب رب السمآء والارض، سید الانبیاء... خاتم الانبیاء... امام الرُسل... صاحب لولاك، شافع محشر، ساقی کوثر، رفیق ابوبکر حضرت محمد مصطفی احمد مجتبیٰ ﷺ الله ﷻ په داسې معاشره کښې راولیږلو چې هغې کښې د کفر او شرك تیاری وی. د نیکی او بدی تمیز پکښې بالکل معدوم وو. بدی په عروج وه. حیا نهٔ وه د قتل بازار بالکل ګرم وو.

الله تعالی داسې نور عظیم راولیږلو چې ټولې تیاری ئې ختمې کړې. د توحید او سنت فضا عامه شوه. د کفر او الحاد دور ختم شو. د علوم او معرفت دروازه خلاصه شوه. د جهالت او ضلالت دروازی بندی شوی.

محترم اوریدونکو! د آمنی بی بی کور ته داسې بشر راغلو چې هغه اکمل البشر وو. او د صفات او کمالات داسی مجسمه وه چې د هغی نظیر نه وو. او دومره پاك ژوندئې وو. چې قرآن اعلان وکړو. "فَقَدۡ لَبِثۡتُ فِيكُمۡ عُمُرًا مِّن قَبۡلِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ" اخلاق ئې دومره اوچت وو د "اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيۡمٍ" په مرتبې باندی فائز وو. او د رفعت د احال وو چې الله ﷻ وفرمایل "وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ" او د عظمت دا مقام وو "اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ

Maktaba Tul Ishaat.com

يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ" معمول جوړ کړو.

د محبوبیت ئې دا عالم دی چې په معراج سره ئې مشرف کړو. د شفقت ئې دا عالم دی چې د ده ملګرو ته ئې په ژوند کښې د جنت زېرې واورولو.

قدرمنو اوريدونکو! زما د پیغمبر ﷺ داسې حسن دی چې یوسف علیه السلام ته په کتلو باندې ښځو خپلې ګوتې کټ کړې او زما محبوب ﷺ باندې خلقو خپل سرونه کټ کړل. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی که د زمانه جاهلیت مشهور شاعر ابوکبیر هذلی زما محبوب علیه السلام لیدلی وو نو هغه ته به معلومه شوې وه چې د هغه د اشعارو صحیح مصداق زما آقا دی....؟

وَمُبَرَّءٍ مِنْ كُلِّ غُبَّرِ حَيْضَةٍ وَ فَسَادِ مُرْضِعَةٍ وَ دَاءٍ مُغْضِلِ
وَاِذَا نَظَرْتَ اِلٰى اَسِرَّةِ وَجْهِهٖ بَرَقَتْ كَبَرْقِ الْعَارِضِ الْمُتَهَلِّلِ

عزتمندو مسلمانانو! دا زما دعوای ده چې زما د محبوب ﷺ مقام او شان کماحقه هیڅوک نشی بیانولی. بلکې که د اووه (۷) سمندرونه سیاهی شی. او د دنیا ټولې ونې قلمونه شی او انسانان او جنات زما د محبوب ﷺ شان لیکل شروع کړې نو سمندرونه به وچ شی. ونې به فنا شی، انس او جن به ختم شی، لیکن زما د محبوب ﷺ مقام به باقی وی.

"وما علینا الا البلغ المبین"

# د ديني مدرسو اهميت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا (صدق الله العظيم)

وقال النبی ﷺ إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، إِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا، إِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ، فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ (اوکما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما د ګلشن انور بلبلانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقرير موضوع ډیره اعلی او اشرف ده چې "د ديني مدرسو د اهميت" په عنوان معنون ده.

محترمو اوريدونکو! په اسلامي معاشره کښې د ديني مدرسو ضرورت او اهميت څه دی؟ هیڅ یو هوش والا مسلمان د دی نه ناواقف نهٔ دی. د ديني مدرسو په ذريعه نه صرف اسلامي معاشره، اسلامي اخلاق ژوندي وی بلکې اسلامي علوم او فنون په دی سره رائج کیږی، بیا دا خبره هم د رڼا ورځ پشان واضحه ده چې د قرآن او حديث د تعليماتو نه بغير د اسلامي معاشرې بقاء او د هغې قيام متصور نهٔ دی. قرآن او حديث د اسلامي تعليماتو چینه ده او د اسلامي تعليماتو ماهرين او په علوم شرعيه اسلاميه کښې تجربه لرونکی رجال په دې مدارسو کښې پیدا کیږی چې دوی بیا معاشره د اسلامي تعليماتو د عام کولو فريضه ادا کوی. او مدارس په خپل دې مقصد کښې تر ډیره حده پورې کامياب دي.

حقيقت دا دی چې په برصغير پاک وهند کښې د اسلام کومه رڼا په نظر راځي دا د دغه مدرسو برکت دی.

قدرمنو اوريدونکو! نن د دغه مدرسو خلاف پروپیګنډه په زور او شور ده. نوی نوی اعتراضونه په مدرسو کیږی. د اسلام ابدي دشمنان يهود او انصاری د دی په ختمولو کښې لګیا دی. او نام نهاد مسلمانان

Maktaba Tul Ishaat.com

حکمرانان هم د دوی ملګری دی.

د دی مدرسو طالبان نن مظلوم دې او مغلوب دی او بې ځایه پابندی پری لازمه ده. لیکن تاریخ شاهد دی چی کله هم په ځمکه ظلم شروع شوی دی، بدعات او رسومات عام شوی دې. د انګریز او د یهودو حکمرانی شروع شوی ده حق وینا کونکی پانسی شوی دې په مجاهدینو مقدمی چلیدلی دی. او "اَلْکُفْرُمِلَّةٌ وَاحِدَةٌ" منظر جوړ شوی دے. نو د دی مدرسو طالبانو او فضلاؤ ئې مقابله کړی ده.

انګریزان ئې په تښتېدو مجبور کړی دی. ظلم ئې ختم کړی دی اخوت ئې عام کړی دی. د اسلام بیرغ یې پورته کړی او د "قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ" منظر ئې جوړ کړی دی.

محترمو حاضرینو! دی مدرسو په زرګونو، محققین، مفسرین، مفتیان، متکلمین، مبلغین، مُعَلِمِیْن، مدبرین، مفکرین، سیاستدانان او په زرګونو فقهاء، علماء، فضلآء، فصحآء، بلغاء، اتقیاء، اذکیاء پیدا کړی دی. چی د هغوی یادونې د انسان زړهٔ خوشحالوي.

زما غیرتمنو ملګرو! علامه اقبال چی انګریزی تعلیم او کالج، یونیورستی کښی ئې تعلیم حاصل کړی وو. فرمائی:

دا مکتبونه په دی حال پریږدی، غریب مسلمان بچی پریږدئ چی دی کښی سبق وائی که دا مُلا او درویش پاتی نه شو نو تاسو ته معلومه ده چی څه به کیږی؟ هغه څه به کیږی کوم چی ما په خپلو سترګو لیدلی دی. که چیری د هندوستان مسلمانان د دی مدرسو نه محروم شول نو بالکل هغسی به وی څنګه چی اندلس کښی د مسلمانانو اته سوه (۸۰۰) کالو حکومت سره سره نن دغرناطه او ژلبه کنډرات او د الحمراء د نشاناتو نه علاوه د اسلامی تهذیب هیڅ اثر هم نشته.

په هندوستان کښی به هم د اګره د تاج محل او لال قلعی نه علاوه

د سل (۱۰۰) کالو حکومت او تهذیب هیڅ نښان هم پاتی نه شي. حضرت شیخ الاسلام مفتی محمد تقی عثمانی زید مجده هم لیکلی دي چې هر چاته معلومه ده چې بغداد ډیر عمر د علم مرکز وو. لیکن نن د اسلام خلاف سازش کونکو هغه مدارس په سکول او کالج بدلی کړی دي. هلته اوس مخلوط تعلیم رائج دی. ښځی او سړی یوځای تعلیم حاصلوی د هغوی استاذانو ته دا علم مشکل وی چې عالم خو لری خبره دا مسلمان دی او که نه؟

قدرمنو ملګرو! قرآن او حدیث او اسلامی علوم او فنون سره د مسلمانانو د معاشری ربط او تعلق قائمول دپاره واحد ذریعه دینی مدرسې دي.

د مسجدونو دپاره د امامانو فریضه هم دا مدارسی ادا کوی. او د عوامو د دینی مسائل حل کولو دپاره دارالافتاء ته مفتیان هم دا مدرسی ورکوي.

د معاشری دا صلاح چې کوم مختلف کوششونه کیږی د هغی منبع هم دا مدارس دي. که د تصنیف او تالیف میدان دی. که دعوت او تبلیغ میدان وی، که د وعظ او خطابت د پاره خانقاه صوفیانه نظام وی تول د دی مدارسو دوجی قائم دی، او د جهاد غوندی اهمه فریضه هم د دې مدارسو دوجی ادا کولی شی.

لنډه دا چې د دینی مدارسو نه بغیر د امن او امان قائمول او د اسلامی تشخص باقی پاتی کول ډیر ګران دي بلکې ناممکن دي.

الله دی دا مدرسې همیشه دپاره قائمي او دائمی ساتي. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# قتال فی سبیل الله

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ سوره (۲) بقره: ۲۱۶

وقال النبی ﷺ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ، مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ (اوکما قال علیه السلام)

محترم استاذانو او زما مجاهدینو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "قتال فی سبیل الله"

محترمو اوریدونکو! د جهاد لفظ د جهد نه مشتق دی معنی ئې ده کوشش او محنت کول او د شریعت اصطلاح کښې دِ اعلاء کلمة الله دپاره خپل ځان او مال قربانولو ته جهاد وائي.

لهذا نن څوك قلم سره جهاد کوی. څوك ژبې سره جهاد کوی. څوك درس او تدریس سره جهاد کوی.. څوك دعوت او تبلیغ په ذریعې جهاد کوی.

محترمو اوریدونکو! زه دا منم چې قلم سره، ژبې سره، درس او تدریس سره، دعوت او تبلیغ سره جهاد ادا کیږی، لیکن زه نن د هغه جهاد تذکره کوم کوم چې د هغې نه په قرآن کریم کښې په قتال سره جهاد تعبیر شوی دی. زهٔ هغه جهاد یادوم چې د هغې کونکی ته په عام عُرف کښې مجاهد وائی، زهٔ هغه جهاد یادوم چې د هغې آوازونه به د مدینې په کوڅو کښې لګیدل. زهٔ هغه جهاد یادوم چې د کوم دوجې خالد ﷺ سیف الله او حمزه ﷺ اسد الله جوړ شول. زهٔ هغه جهاد یادوم چې د هغې دپاره امام بخاری دوه سوه یوڅلویښت (۲۴۱) ابواب قائم کړی دي.

او امام مسلم یوسل او لس (۱۱۰) ابواب، امام ابوداؤد یوسل

اوشپږاویا(۱۷۶) ابواب، امام ترمذي یوسل پنځلس(۱۱۵)، امام نسائی یوسل اته څلويښت(۱۴۸) او ابن ماجه یوسل شپږ څلويښت (۱۴۶) ابواب قائم کړی دی، او د دې فريضی فضائل ئې بيان کړی دي

زما د اسلام خوږو مجاهدينو ورونو! نن د اسلام دشمنان جهاد د مسلمانانو د زړهٔ نه ويستل غواړی. دپاره د دې چی مسلمانان هميشه دپاره مغلوبه شي او د قرآن آياتونو کښی تحريف کول غواړی. دپاره د دی چی د قتال فی سبيل الله حکم د الله ﷻ د قرآن د لويو نسخونه ختم شی. او په دی کوشش کښی دی چی خپله و وائې چی جهاد حرام دی. او د دوې دا کوشش په هر زمانه کښی جاری وي.

دی کار دپاره کله قاديانی. او کله رضاخانی وړاندی کوی. او هغه جهاد ته دهشت ګردی وائې. په کوم چی زما رب فرمايلي دي که تاسو جهاد پريږدی ذليله به شی. او اعلان ئې کړی دی "مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَه، مَاتَ عَلٰى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ" او چی څوك ئې کوی هغوی دپاره ئی اعلان کړی دی. "اَلْجِهَادُ مُخْتَصَرُ طَرِيْقٍ اِلَى الْجَنَّةِ"

ای مسلمانانو! پاڅئ مخکښی د دی نه چی د کافرانو قبضه په تاسو مضبوطه شی. او د مال محبت ستاسو په زړونو کښی دننه شی.

ای د نبی ﷺ نوم اخستونکو، راويخ شی دی نه مخکښی چی د ځمکی نه ستاسو نوم ختم شی. او داسلام د دی اهمی فريضی دپاره جمع شی.

"وما علينا الا البلغ المبين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د غیبت حقیقت او نقصانات

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ سورة(۴۹) الحجرات: ۱۲

وقال النبی ﷺ اَلْغِیْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا (اوکما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او زماد بزم ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندې "د غیبت حقیقت او نقصانات" والا موضوع بیانول غواړم.

محترمو اوریدونکو! غیبت ډیر لوی جرم دی. دا د بنده اعمال داسې ختموی لکه چې اور لرګي سوزوي.

محترمو اوریدونکو! یو وارې نبی ﷺ د صحابه کرامو ؓ نه پوښتنه وکړه غیبت څه څیز دی؟ صحابه کرامو ؓ جواب ورکړو "اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ".

نو نبی ﷺ و فرمایل: چې د خپل ورور په غیر موجودګۍ کښې داسې خبره کول چې هغه ئې بده ګڼي. یو صحابی ؓ پوښتنه وکړه، یا رسول الله ﷺ! اګرچې په هغه کښې موجوده وي...؟

زما محبوب ﷺ جواب وکړو. هم دا غیبت دی. او که دا خبره هغه کښې موجوده نه وي بیا خو بهتان دی. د الله ﷻ ارشاد دی:

وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ سورة(۴۹) الحجرات: ۱۲"

يعنی تاسو کښې د څيني خلق دځينو غيبت مه کوی. آيا تاسو کښې يو دا
غواړی چی د خپل مړ ورور غوښـی وخوری؟ هرګز دا تاسـو نـه خوښوې. د
نبی ﷺ ارشاد دی. "اَلْغِيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا" غيبت د زنا نه هم سخته ګناه ده.

محترمو حاضرينو! د امـام اعظم رحمۃ اللہ علیہ بـاره کښـی راغلی دی چی
کله به ئې واوريدل چی فلانکی زما غيبت کړی دی. نو هغوی بۀ د اشرفيو
يوه کڅوړه هغه طرف ته ليږله. که چا به پوښتنه وکړه چی هغه خو تاپسی
بد ويلي دی نو اشرفی د څه دپاره؟

امام صاحب رحمۃ اللہ علیہ به ورته فرمايل دا اشـرفی د احسـان بدلـه کښـی
دې. دغه کس چی زما غيبت وکړو نو ددی بدله کښې خپله نيکی ماته را
کوي. او دا تولو کښی لوی احسان دی.

حضرت علی رضی اللہ عنہ فرمائی چی غيبت کونکی او اوريدونکی دواړه
برابـر دي. حضـرت طـاوؤس رحمۃ اللہ علیہ فرمـائې"زمـا ژبـه درنـده دی کـه مـی
پريښوده بيا می چيچې"

قدرمنو اوريدونکو! پيغمبر ﷺ د غيبت علاج هم ښودلی دے که
مونږ پری عمل وکړو د غيبت نه به بچ شو"نبی ﷺ فرمـايلي دی. مَنْ صَمَتَ
نَجَا" چاچی چوپوالی اختيار کړو هغه نجات وموندلو.

شيخ فريدالدين عطار رحمۃ اللہ علیہ پند نامه کښی فرمائې.......!!!

هرکه را گفتار بسيارش بود　　　دل و رون سينه بيمارش بود

يعنی چی کوم سړی ډيری خبری کوی د هغه سينه کښی دننه زړۀ بيماروي

عاقلان را پيشه خاموش بود　　　پيشه جاهل فراموش بود.

يعنـی د عقلمنـدو خلقـو طريقـه خاموشـی ده او د جـاهلانو طريقـه
نصيحت هيرول دي.

الله جل جلاله د مونږ او تاسو دغيبت پشان لويي ګناه نه وساتي.آمين

"وآخردعوانا ان الحمدلله رب العـالمين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د درود شريف فضائل

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. امابعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾

سورة (۳۳) احزاب: ۵۶

وقال النبي ﷺ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا (او كما قال عليه السلام)

بَلَغَ الْعُلٰى بِكَمَالِهٖ كَشَفَ الدُّجٰى بِجَمَالِهٖ
حَسُنَتْ جَمِيْعُ خِصَالِهٖ صَلُّوْا عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

محترمو استاذانو او د شمع رسالت پتنګانو:

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زما د تقرير موضوع ده "د درود شريف فضائل"

ګرانو اوريدونکو! په کائناتو کښې د نبی ﷺ نه لوی محسن څوک نشته او د محسن د احسان بدله الله ﷻ په مونږ لازمه کړې ده او د احسان فراموشي نه ئې په کفران سره تعبير کړی دی او دی باندې ئې د سخت عذاب وعيد بيان کړی دی. الله ﷻ مونږ ته په نبی ﷺ د درود شريف لوستلو حکم کړی دی. او ددې عمل لوستونکی د پاره ئې بې شميره فضيلتونه ښودلي دي او نه ويونکو د پاره ئې د سخت عذاب وعيد بيان کړی دی.

محترمو حاضرينو! الله ﷻ په خپل کلام کښې ډير احکام بيان کړي دي. لمونځ، روژه، زکوٰة، حج وغيره. او د ډيرو نبيانو صفتونه ئې بيان کړي دي. او د دوی اعزاز يې هم کړی. حضرت آدم عليه السلام ئې پيدا کړو. نو فرښتوته ئې حکم وکړو چې دۀ ته سجده وکړی خو دا ئې ونه فرمايل چې زه هم ورته سجده کوم. ليکن زما محبوب ﷺ په شان کښې

الله ﷻ وفرمايل: يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾
سورة (۳۳) احزاب: ۵۶.

دا شرف صرف زمونږ محبوب ﷺ ته حاصل دی چی الله ﷻ اول د صلوة نسبت خان ته وکړو او بیایې فرښتوته او مسلمانانو ته حکم دی چی الله ﷻ او د هغه فرښتی درود وائې ای مؤمنانو! تاسو هم درود ووائې د حضور ﷺ عاشقانو! زما آقا مختار، د انبیاؤ سردار د مدینی تاجدار حضرت محبوب ﷺ وفرمايل: "مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا" څوك چی په ما یو (۱) واری درود راولیږی، الله ﷻ په هغه لس واری رحمتونه نازلوی. دغوږ خبره ده د درود شریف دومره فضائل ولی دی؟ زه تاسو ته وایم! الله تعالی محمد رسول الله ﷺ ته د کائناتو ثانوی مقام ورکړی دی.

که د کلمی طیبی اختصاص د الله ﷻ سره وی. نو د درود شریف تعلق د نبی ﷺ سره دی که د فرائضو تعلق د الله ﷻ سره دی نو د سنتو تعلق د نبی ﷺ سره دی که رمضان شهر الله ﷻ دی نو شعبان شهر النبی ﷺ دی.

دلته قرآن دی هلته حدیث دی. که هلته ملائك اربعه مقربین دی نو در سول الله صلی الله علیه وسلم خلفاء راشدین دی. هلته د فرښتو جماعت نو د دلته صحابه کرامو ﷺ جماعت دی.

محترمو اوریدونکو! یاد ساتی "فرق مراتب نه کنی زندیق- لهذا هغه معبود دوی عبد هغه مسجود دوی ساجد د هغه علم لامتناهی د دوی د علم الاولین والآخرین سره متناهی دی دافرق ساتل صراط مستقیم دی

محترمو اوریدونکو! د نبی ﷺ ارشاد دی. په ما درود لیږل په پل صراط باندی د تیریدو په وخت کښی نور دی او کوم سړی چی د جمعی په ورځ اتیا (۸۰) واری درود ووائې. د هغه به د اتیا (۸۰) کالو ګناهونه معاف

Maktaba Tul Ishaat.com

شي بل ځاى ارشاد دى. د مومن د بخيل کيدو دپاره دا کافي دې چې د هغه مخې ته زما ذکر وشي او هغه په ما درود و نه وائي.

بل حديث کښې ارشاد دى. کوم انسان چې په ما درود وائي. د هغه دپاره لس(۱۰) نيکي ليکلې شي. د هغه لس(۱۰) ګناهونه معاف کولې شي.او لس(۱۰)درجې ئې اوچتيږي. او درود لوستل ده دپاره د لس(۱۰) غلامانو آزادولو برابر ثواب لري.

حاضرينو! د نبي ﷺ د عاشقانو اقوال واورى شيخ ابوالحسن الشاذلي رحمة الله عليه فرمائي چا ته چې کامل مرشد نه ملاويږي هغه دې د درود شريف اهتمام وکړي. د سلوك او عرفان تمام مرحلې به حاصلې کړي. شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله عليه فرمائي زما خاندان ته چې کوم ديني او دنيوي سعادت نصيب شو دا د درود پاك د برکت دوجې وو.

الغرض د درود شريف فضائل دومره زيات دي چې دې مختصر وخت کښې ئې بيانول مشکل، بلکې ناممکن دى زه خپل تقرير په دې شعر ختمول غواړم.

هر كه باشد عامل صلوا مدام
آتش دوزخ شود بروی حرام
يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا اَبَدًا
عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِمِ
"وما علينا الا البلغ المبين"

# د جهاد اعلان

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰی يَوْمِ الْقِيَامَةِ (اوكما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او زما مجاهدینو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "د جهاد اعلان"

محترمو اوریدونکو! د حضور ﷺ ژوند د هر مسلمان دپاره نمونه ده د پیغمبر ﷺ د ژوند مختلفی شعبی وې. لیکن د هغوی د ژوند واضح عنوان هغه اعلاء کلمة الله ده.

محترمو اوریدونکو! د نبی ﷺ دی دنیا ته د راتلو مقصد د حق ثابتول او د باطل باطلول وو. او ددی عملی مظاهره پهٔ توری سره ممکن وو. لهذا د پیغمبر ﷺ محنت په دی کار باندی وو. او مدنی ژوند ئې ټول د تورو د سورې لاندی تیر کړو.

محترمو حاضرینو! زما د آقا ﷺ په مکی زندګی باندی سرسری نظر تیر کړی نو تاسو ته به معلومه شی چی نبی ﷺ د دعوت او تبلیغ سره سره د جهاد جذبه هم لرله. او خپل ځان ئې ددې کار لپاره د هغه وخت نه تیار کړې د کومې ورځې نه چې ده ته نبوت ملاویږې. او کله چی د الله جل جلاله د طرفه اعلان وشو.

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ سورة (۲۲) الحج: ۳۹

زما نبی ﷺ دا اعلان واوریدو نو محنت ئې شروع کړو او د

Maktaba Tul Ishaat.com

کافرانو په ایوانونو کښې زلزلې راغلې. بیا اعلان وشو. "يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ" د الله ﷻ دا اعلان کول وو.

چې صحابه کرام ﷡ د سیّد المجاهدین شاوخوا را جمع شول، او د نبی ﷺ په لاس باندې ئې بیعت علی الجهاد وکړو.

محترمو استاذانو! دې نه ورستو ځمکې او آسمان هغه نظائر ولیدۀ چې دې نه وړاندې ئې کله نه وه لیدلي. هغه قضاء جوړه شوه چې د کومې ځمکه په صدو منتظر وه. صحابه کرام ﷡ چې به کوم طرف ته تلل فتح او نصرت به ئې نصیب کیده. د کفر نوم ختمیدل شروع شو.

د الله په ځمکه د الله ﷻ نظام نافذ شو او کفار په اسلام کښې داخل شو. هر طرف ته امن او امان وو. کفار پریدل او رپیدل. دین اسلام ته په غلط نظر کتل محال وو. د ښځو عزتونه محفوظ وو. مساجد محفوظ وو او د اسلام دپاره خان قربانول آسان وو.

زما غیرتمندو ملګرو! نن د اسلام صرف نوم پاتې دې. په امت محمدیه باندې مصیبت نازل دې. د مسلمانانو بې عزتي شروع ده. دین باندې قائم پاتې کیدل محال دي. د اسلام وجود قابل د برداشت نه دې د بې حیائي بازار ګرم دې. د سنتو مذاق کولې شي. د مساجدو بې حرمتي کولې شي.

ای زما ربّه! دا په مسلمانانو څه ظلم دې هر ځای مغلوب دې. د الله ﷻ د طرفه جواب راځي. ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ..... دا په وجه او لمده چې تاسو ته کوم فساد په نظر راځي. دا ستا د خپله لاسه دی آیا ستاسو محبوب ﷺ تاسو ته نه وو ویلي "إِذَا تَرَكْتُمُ الْجِهَادَ فَسَلَّطَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الذِّلَّةَ" چې کله تاسو جهاد پریږدی الله ﷻ به په تاسو ذلت مسلط کړي.

اى الله ﷻ! زمونږ نه خطا شوى ده "نَتُوْبُ اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوْحًا" اوس مونږ ته څه حکم دى. قرآن جواب کوى. "وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ" تاسو د کفارو سره قتال کوئ تر دى چې فتنه ختمه شى او هر طرف ته صرف د الله ﷻ دين باقى پاتى شى.

زما مجاهدينو ملګرو! که چيرى تاسو د هميشه راحت او سکون طلب کونکي يئ.

او د جنت طلب کونکى يئ. نو زما د محبوب ﷺ پيغام واورى او ياد ئي وساتى. "اَلْجِهَادُ مُخْتَصَرُ طَرِيْقٍ اِلَى الْجَنَّةِ" يعنى د جنت لنډه لار هغه جهاد دى.

الله دِ مونږ او تاسو ټولو ته د جهاد کولو توفيق را نصيب کړى آمين

"وما علينا الا البلغ المبين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# ختم نبوت

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. امابعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ سورة (۳۳) الحزاب: ۴۰

وقال النبي ﷺ أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ اوكما قال عليه السلام.

محترمو استاذانو او د تحفظ ختم نبوت پتنګانو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زه ستاسو په وړاندې د "ختم نبوت" په موضوع باندې تقرير كول غواړم

محترمو اوريدونكو! د مسئله ختم نبوت تعلق د عقيدې سره دے او د اهل سنت والجماعت مذهب پۀ دې عقيدې باندې بنادې. د قرآن كريم اوويا (۷۰) آياتونه د نبي ﷺ په ختم نبوت باندې دلالت كوي. څنګه چې الله ﷻ نبي ﷺ ته نبوت وركړو دغسې ئې ورته د ختم نبوت تاج هم وركړو، يعنې نبي ﷺ نبي هم دې او خاتم النبين هم دې. رسول هم دې او خاتم المرسلين هم دې. او الله تعالى د نبوت او رسالت تكميل هم د نبي ﷺ په مبارك ذات وكړو. قرآن كښې ارشاد دې. "وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ" يعنې الله ﷻ دا فيصله كړې ده چې محمد ﷺ بۀ راليږي او په دې سره به خپل دين (نور) مكمل كوي. اګر كه كافران ئې بد ګڼي الله ﷻ فرمائي. "وَيَأْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ" يعنې الله تعالى خپل نور مكمل كول غواړي كه كافران هرڅومره بد ګڼي.

محترمو حاضرينو! د حجة الوداع پۀ موقع باندې د قرآن يوبل آيت نازل شو.

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ

اَلۡاِسۡلَامَ دِيۡنًا سورۃ(۵)المائدہ:۳
يعني نن مونږ ستا دپاره ستاسو دين مکمل کړو. او خپل نعمت مو درباندې پوره کړو.
او اسلام مو ستاسو دپاره دين خوښ کړو. ګويا چې دا بشارت ورکړی شو چې الله ﷻ خپل نُور مکمل کړو.
او د ختم نبوت سره د دين تکميل راتلو مطلب دا دی چې تر قيامته پورې به دا نور او فيض قائم وي.
قدرمنو اوريدونکو! تر قيامته پورې راتلونکو انسانانو دپاره د اکامل دين او نبوت د هدايت ذريعه ده بل رهبر او رهنما قبول نهٔ دی.
نبي ﷺ وفرمايل: "أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي" زهٔ آخری نبي يم زما نه ورستو بل نبي راتلو والا نشته، بل ځای د نبي ﷺ ارشاد دی "إِنَّ الرِّسَالَةَ وَالنُّبُوَّةَ قَدِ انْقَطَعَتْ فَلَا رَسُولَ بَعْدِي وَلَا نَبِيَّ بَعْدِي" "بيشکه رسالت او نبوت ختم شوی دی زما نه وروستو بل نبي او رسول نشته.
نن که څوک د نبوت دروغژنه دعوی کوی نو هغه ته به مسيلمه کذاب ويلی شی يا به ئې د اسودعنسي په شان انجام وی او يا به د غلام احمد قاديانی پشان ليټرين کښې مړ کيږي.
الله دِ مونږ ټول د تحفظ ختم نبوت دپاره قبول کړی. آمين
"وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين."

Maktaba Tul Ishaat.com

# د رمضان المبارک فضائل

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

شَهۡرُ رَمَضَانَ الَّذِیۡۤ اُنۡزِلَ فِیۡهِ الۡقُرۡاٰنُ (صدق الله العظیم)

وقال النبی ﷺ اَلصَّوۡمُ جُنَّةٌ (اوکما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او عزتمندو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې ماته په کومه موضوع د تقریر موقع ملاؤ ده. هغه موضوع ده "د رمضان المبارك فضائل"

محترمو اوریدونکو! هسې خو دی کائنات کښې د هر څیز مماثل او مقابل موجود دی لیکن بعضې څیزونو ته بعضو په مقابله کښې اهمیت او فضیلت حاصل دی.

که زۀ داسې ووایم نو شاید چې یې خایه به نه وي!!!

په دنیا کښې خو ګلونه ډیر دی...... لیکن ګلاب ته نه رسیږی

خوشبوګانی ډیري دی...... لیکن د مشك په شان نۀ دې

ستوری ډیر دی...... لیکن د سپوږمی په شان نۀ دی

ښارونه ډیر دی...... لیکن د مکی او مدینې په شان نۀ دې

کتابونه ډیر دې...... لیکن د قرآن په شان نۀ دې

مسجدونه ډیر دی...... لیکن د مسجد حرام او مسجد نبوی په شان نۀ دې

آب خو ډیر دی...... لیکن د آب زمزم پشان نۀ دې

شپې خو ډیرې دی...... لیکن د لیلة القدر په شان نۀ دې

فرښتې خو ډیرې دی...... لیکن د جبرئیل امین په شان نۀ دې

امامان خو ډیر دی...... لیکن د امام ابوحنیفه رحمه الله په شان نۀ دې

محدثین خو ډیری دی...... لیکن د امام بخاری رحمه الله په شان نۀ دې

اولیاء خو ډیر دی...... لیکن د عبد القادر جیلانی په شان نۀ دې

صدیقین خو ډیر دی...... خو د ابوبکر رضی الله عنه پشان نهٔ دی.

عادلان خو ډیر دی...... لیکن د عمرفاروق رضی الله عنه په شان نهٔ دی.

سخیان خو ډیر دی......لیکن د عثمان غنی رضی الله عنه په شان نهٔ دی.

بهادران خو ډیر دی...... لیکن د حضرت علی رضی الله عنه پهٔ شان نهٔ دی.

رسولان ډیر دی......لیکن د سیدالانبیاء په شان نهٔ دي.

میاشتی خو ډیری دی...... لیکن د رمضان پهٔ شان نهٔ دی.

محترمو اوریدونکو! د رمضان پهٔ دې مبارکه میاشت کښې د الله جل جلاله رحمت د باران پهٔ شان وریږی، او څنګه چې باران سره هر څیز سیرابه شي او صفا شي داسې د دی میاشتي په برکت دِ الله جل جلاله رحمت د هر مسلمان زړه سیرابه شي او د ګناهونو نه پاك شي

د نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دی. د رمضان دری(۳) عشری دی. (۱)اوله عشره رحمت، (۲) دویمه عشره مغفرت، (۳) دریمه عشره نجات من النار ده.

ګرانو حاضرینو! دی حدیث نه معلومه شوه چې د رمضان میاشت د مغفرت اورحمت میاشت ده. او ځان د جهنم نه د خلاصولو ذریعه ده.

د الله جل جلاله د محبت حاصلولو میاشت ده، دی میاشت کښې د جنت دروازی خلاصي شي او د جهنم دروازی بندولی شي. شیطان لعنتی په زنځیرونو سره تړلی شي. دی مبارکه میاشت کښې د مومن رزق زیاتولای شي. د اعمالو قیمت زیاتولی شي. د یو(۱) فرض ثواب د اوویا(۷۰) فرضو برابر وی او دِ یو نفل ثواب د فرضو برابر وي.

الله دِ مونږ د دی میاشتی د فضائلو نه مستفید کړی او د قدر دانی توفیق دِ راکړی.آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د ګناهونو نقصانات

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذباللّٰه من الشیطن الرجیم.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

وَمَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا یَّرَہٗ (صدق اللّٰه العظیم)

وقال النبی ﷺ اَلۡبِرُّ لَا یَبۡلٰی وَالۡاِثۡمُ لَا یُنۡسٰی (اوکما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او عزتمندو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة اللّٰه وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندې "د ګناهونو نقصانات" په موضوع تقریر کول غواړم.

محترمو اوریدونکو! نن زه ستاسو ذهنونه، سوچ او فکر داسې ګناهونو طرف ته متوجه کوم چې هغه زمونږ په معاشره کښې دوباء په شان خپاره شوی دي.

چې د هغې دوجې ټوله معاشره د فساد نه ډکه ده. او ددې خرابو اعمالو نحوست دوجې د مرګونو بازار ګرم دی، غلا او زنا په عام میدان کیږي. شراب ښکاره څښل کیږي. د دې وجې د قحط دور دی او ناآشنا ناروغۍ عام کیدل دي.

محترمو اوریدونکو! د دې ګناهونو د خرابو اثراتو دوجې هر انسان حیران او پریشان دی. انسان خو انسان دی خو مارغان او حیوانات هم بې آرامه دي. هر عقلمند انسان په فکر کښې دی چې داسې ولې کیږي؟

الله تعالی فرمائي: "ظهر الفساد فی البر والبحر بما کسبت ایدي الناس" یعنې په وچه اولونده چې کوم فساد دی هغه ستاسو د خپله لاسه دی.

ای غافل انسانه! آیا تا ته زما محبوب پیغمبر ﷺ نه دی فرمایلي، کله چې تاسو ښکاره بدکاری کوی نو تاسو باندې به نوی نوی ناروغۍ راځي.

• او کله چې تاسو په ناپ تول کښې کمی کوی نو په تاسو به قحط راځي او په تاسو به ظالم حکمران مسلط کولی شی او کله چې تاسو زکوٰة نه ورکوی نو په تاسو به بارانونه بند کړی شی. او که څناور نه وای نو په تاسو به یوه(۱) قطره هم نه وه وریدلی.

او کله چې تاسو وعده خلافی شروع کړی نو په تاسو به غیر مسلط کړی شی چې هغوی به ستاسو مال او سامان ضائع کړی. او کله چې تاسو د قانون خلاف ورزی کوې نو تاسو کښې به خانه جنګی شروع شی.

قدرمنو ملګرو! لږ انصاف سره ووایی چې دا حدیث رحمة للعالمین د نن نه پنځلس سوه(۱۵۰۰) کاله مخکښې نه وو ویلی؟ که چیری ویلی ئې ؤنو په سینه باندی لاس کیږدې او ووایی چې دی کښې کومه ګناه داسی ده چې مونږ کښې نشته؟

داسی کوم معصیت دی چې زمونږ معاشره پکښې ملوث نه ده؟ چې شته دے. نو بیا ولی مونږ تول د ګرانی او قحط سالی او د بی قراری چغی وهو. او مونږ دی ګناهونو پریښودو ته تیار نه یو نو خامخا به مونږ ناروغیو او مصیبتونو کښې مبتلا کیږو.

قدرمنو ملګرو! که چیري تاسو د ایډز، کنسر، قحط سالی او د ظالمو حکمرانانو او د غیرمسلمو د تسلط نه او د خانه جنګی نه ځان بچ کول غواړی. نو دګناهونو نه د ځان ژغورني سره سره په قرآن او سنت باندی عمل کول پکار دي ځکه چې په دی کښې زمونږ علاج دي.

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د توبې اهميت

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

فَقُلْتُ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّـٰتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَـٰرًا ﴿١٢﴾ سورة (۷۱) نوح: ۱۰-۱۲

وقال النبي ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّاذَنْبَ لَهٗ (اوكما قال عليه السلام)

محترمو استاذانو او زما د بزم خوږو دوستانو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زما د تقرير موضوع ده "د توبې اهميت"

محترمو اوريدونكو! توبه په هر مسلمان نارينه او زنانه واجب ده، د الله ﷻ ارشاد دى:

"يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ تُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا"

سورة (۶۶) التحريم: ۸

اى ايمان والو د الله ﷻ طرف ته كامله توبه وباسى...! حجة الاسلام امام غزالى رحمة الله عليه فرمائي "توبوا" صيغه د امر ده او امر دلته د وجوب دپاره دى.

محترمو اوريدونكو! كله چې د انسان نه يوه ګناه وشى نو دده خلاف څلور (۴) شاهدان تيارشى. او ددى څلورواړو ذكر قرآن كښې راغلى دى.

لومړى شاهد ځمكه ده يعنې چې انسان په ځمكه ګناه وكړى نو ځمكه پرې شاهده شى د الله ارشاد دى "يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا" يعنې چې په كومه ورځ به ځمكه خپل خبرونه ښكاره كړى.

دویم شاهد د انسان اعضاء دي. دالله ﷻ فرمان دی. "اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰٓ أَفْوَٰهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَآ أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٦٥﴾ " یعنی چی د کوم اعضاء (اندامونو) نه ګناه کیږی هغه به د قیامت په ورځ شاهدي ورکوی. دریم شاهد..... به فرښتی وی. "كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ" څلورم شاهد به ..... عملنامه وی. "وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ"

قدرمنو اوریدونکو! اوس هرکله چی څلور ګواهان به زمونږ خلاف شاهدی ورکوی نو مونږ له څه کول پکار دی. او کومو خلقو چی ګناهونه کړی دی هغوی له څه داسی څیز شته چی د غه ګناهونه ورته معاف شی.

هو..... محمدرسول الله ﷺ د دی طریقه خپل امت ته ښودلې ده او هغه ده توبه. نبی ﷺ فرمائي. "اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ" یعنی د ګناه نه توبه کونکی داسی دی چی ده د سره ګناه کړې نه وي.

زما عزتمندو ملګرو! الله ﷻ ته اختیار ددی چی انسان بغیر د توبی نه هم معاف کړی. لیکن یقینی معافی دپاره توبه ضروری ده او صرف په ژبه باندی توبه توبه کولو سره توبه نه کیږی. داسی نه چی صرف په ژبه توبه وی او زړه کښی د توبی اهمیت نه وي. علماء کرامو د توبی د قبولیت دپاره دری (۳) شرطونه لیکلی دی.

(۱) اَنْ يَقْلَعَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ..... یعنی ګناه به پریږدی.

(۲) اَنْ يَنْدَمَ عَلَيْهَا..... په ګناه به د زړه نه پښیمانه وی.

(۳) اَنْ يَعْزِمَ عَزْمًا جَازِمًا اَنْ لَا يَعُوْدَ اِلَيْهَا اَبَدًا..... کلکه اراده به کوی چی دا ګناه به بیا نه کوی.

بیا ددی عزم نه بعد الله ﷻ په بنده باندی خپل رحمتونه، لذتونه او محبتونه د وعدی مطابق نازلوی. قرآن کښی د الله ﷻ اعلان

Maktaba Tul Ishaat.com

دی "فقلت استغفروا ربکم انه کان غفارا، یرسل السماء علیکم مدرارا، ویمددکم باموال وبنین ویجعل لکم جنت ویجعل لکم انهارا"
ای خلقو د الله ﷻ نه مغفرت وغواړی هغه ډیر معاف کونکی ذات دی.
هغه به تاسو ته د بارانونو، د مال او اولاد او جنتونو غوندی انعامات درکړی. ای د توبی نه غافل انسانه! بیدار شه او توبه وباسه.
الله ﷻ دِ مونږ ته د توبه نصوحه توفیق راکړی. او د توبی اهمیت دِ زمونږ په زړونو کښی پیدا کړی او دا دِ زمونږ طریقه جوړه کړی آمین
"وما علینا الا البلغ المبین"

# دِ بزمِ
# تقریرونه
## دویمه حصه
## پښتوترجمه: مولانا نیکزاده حقانی
## فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه

Maktaba Tul Ishaat.com

# د مرتب عرض

ټول تعریفونه د هغه ذات دپاره دي چې هغه د هر یو څیز پیدا کونکی دی او درود او سلام د وی په هغه پاکه هستی باندی چی هغه منبع او سرچشمه رحمت ده.

وروسته له دی چې د بزم د تقریرونو د کتاب لومړی حصه د طالبانو خوښه شوه او د بیابیا د دویمې حصې غوښتلو مطالبې یې کولې دا ډېره د خوشحالی خبره ده چې دا حصه هم ستاسو په خدمت کې حاضره شوه؛

د قاسم د باغ بلبلانو! تاسو به یقیناً ښکلي تقریرونه کوي لیکن کچیری تاسو د هغې سره سره د یو څونورو خبر وخیال وساتی نو دا به ډیره ښه وي

(۱) د ټولونه مخکې د تقریر موضوع تباکلو نه بعد خپل استاد ته یو ځل واوروي او د الفاظو د ادا کولو او د وقف دا ځایونه په غور سره واوروي

(۲) بیا به د الله ﷻ په نوم سره یا دول شروع کړی چی کله ئې ښه یاد کړی نو ملګری ته ئې واوروې بیا د هغې نه بعدئې استاد یاد بزم امیر باندې هم اصلاح وکړي او دا خبره یادساتی چی په کوم ځای کښی ځنګه اشاره کول پکار دی بعض طلباء په هر ځای کښی لاس حوځوي را حوځوي په دې سره د تقریر حیثیت ختمیږي او دا مقرر عجیبه ښکاري نو لهذا د دی وجی نه د دی خبرې خیال ساتل ضروری دې

(۳) د دی نه بعد چې څومره هم ستاسو نه کېدلی شی نو په یواځې ځای کښی ئې ښه مشق وکړی. او په خپل زړه او ذهن کښی خبره کینوی چی هم زړه به د ټولونه ښه تقریر کومه. او دا دعا کوی چی په د تقریر سره به زه او اوریدونکی مستفید شی. په خبرو د عمل کولو سره ان شاء الله تاسو به خان کښی بدلون ومومی.

آخر کښې د هغه دوستانو تذکره نه کول به نامناسب وی چاچی په

سخت وخت کښې زما سره کومك کړی.

الله تعالی د مولانا مفیض الرحمٰن صاحب مدرس مدرسه انوارالعلوم ته جزاء خیر ورکړی چې دوی زما هر ممکن مدد وکړو ذغه شان دي الله تعالی مولانا کلیم الله صاحب مدرس معهد عثمان بن عفان ته علم او عمل کښې برکت ورکړی چاچې د مسودې په تصویب کښې ماسره تعاون وکړو.

محترمو لوستونکو دا تقریرونه مولانا زاهد عالم جابر صاحب د اکابرو د مختلفو کتابونو نه لیکلی دي.

چې د دغه کتابونو مراجع آخر کښې ذکر دي. دا تقریرونه هم مولانا موصوف د مدرسه انوارالعلوم د بزم تقریرونو د طالبانو دپاره لیکلی وو او د هر عام او خاص د خوښولو دوجې نه د مدیر مدرسه انوارالعلوم مولانا حسین علی صاحب په حکم سره طبع کولی شي. یقیناً په دي کتاب کښې به بې شمیره غلطی وي بنده د خپل کم علمی دوجې د هغې د احاطې نه عاجز دی. لهذا که چاته څه غلطی په نظر راشی نو د اصلاح په نیت دي مونږ خبردار کړی ډیره مهربانی به وی.

والسلام

محمدسلیمان رحمانی فاضل جامعه بنوری ټاوُن کراچی مدرس مدرسه انوارالعلوم کورنګی کراچی

Maktaba Tul Ishaat.com

## انتساب

زه دا خپل معمولی شان محنت یعنی د کتاب بزم انور تقریرونه دونمه حصه خپل عزتمندو رور جناب مزمل حسین صاحب او د هغه مهربانو دوستانو په نوم کوم دچا د دعاګانو او د مخلصانه محنتونو دوجې بنده ته حق لاره نصیب شوه.

ابن جابر.

# د کلمې طیبې مقصد

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ (صدق الله العظیم)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ یَا أَیُّهَا النَّاسُ قُولُوا لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ تُفْلِحُوا (او کما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او زما خوږو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "کلمه طیبه"

محترمو اوریدونکو: کلمه طیبه په اسلام کښې د داخلیدو دروازه ده. کوم انسان چې د کفر نه اسلام او شرك نه توحید کښې داخلیدل غواړي. که هغه په صادق زړه سره دا کلمه طیبه ولولي نو مسلمان به شي. د دې مبارکې کلمې دوه (۲) حصې دي. (۱) لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ (۲) مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ

قدرمنو حاضرینو: په اول جزء کښې څلور الفاظ دي لیکن دې کښې د تمام دین ترجماني موجود ده. او که د دې لا اله الا الله حقیقي او اصلي مفهوم باندې مونږ پوه شو نو د هر قسم شرك او بدعت نه به مونږ محفوظ شو. او زمونږ ایمان به مضبوط شي. د لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ معنی ده "د الله تعالی نه علاوه بل څوك د عبادت لائق نشته. او دا هغه کلمه ده چې ددې دعوت یو لاکه څلیرش زره کم وزیات انبیاء ورکړي وو او خپل قومونه ئې دې طرف ته رابللي وو. لهذا نوح علیه السلام نه نیم (۹۵۰) سوه کاله د دې کلمې دعوت ورکړي دی.

هود علیه السلام هم د دې کلمې دعوت ورکړي دی. صالح علیه السلام هم د دې کلمې دعوت ورکړي دی. شعیب علیه السلام هم د دې کلمې دعوت ورکړي دی. ادریس علیه السلام هم ددې کلمې دعوت ورکړي دی. ابراهیم علیه السلام هم ددې کلمې دعوت ورکړي دی

Maktaba Tul Ishaat.com

اسحاق علیه السلام هم ددی کلمی دعوت ورکړی دی. یعقوب علیه السلام هم ددی کلمی دعوت ورکړی دی. یوسف علیه السلام هم د دی کلمی دعوت ورکړی دی. داؤد علیه السلام هم ددې کلمی دعوت ورکړی دی سلیمان علیه السلام هم ددی کلمی دعوت ورکړی دی. موسی علیه السلام هم ددی کلمی دعوت ورکړی دی. عیسی علیه السلام هم ددی کلمی دعوت ورکړی دی. او د ټولونه آخر کښې زمونږ محبوب ﷺ هم د دی کلمی دعوت ورکړی دی.

اوفرمایلي یې دی. "یَآاَیُّهَا النَّاسُ قُوْلُوْا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تُفْلِحُوْا" ای خلقو د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ شاهدي ورکړی کامیاب به شی. معلومه شوه چی تمامو انبیاؤ د دې کلمی محنت کړی دی او دی خبری طرفته ئې ترغیب وکړی وو چی

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك معبود نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك مسجود نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك ماوٰی نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك خالق نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك مشکل کشا نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك حاجت روا نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك د نذر لائق نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك غیب دان نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك حاضر او ناظر نشته.

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك رزاق نشته

د الله ﷻ نه علاوه..... څوك مالك نشته.

الغرض: ددې کلمی د دعوت په نتیجه کښې نبی علیه السلام ډیر مصائب برداشت کړل. غاښونه مبارك ئې شهیدان شول. جسم اطهر ئې زخمی شو. کور ئې پرېښودو لیکن کلمه ئې نه ده پرې ایښې. صحابه رضی الله عنهم ټول په وینو سور شول. لیکن کلمه ئې نه ده پرې ایښې. بلال رضی الله عنه په ګرمو

شکو رابښکلی شو، لیکن کلمه ئې نه ده پرې ایښې. حضرت سمیه رضي الله عنها په نیزه شهیده کړې شوه لیکن کلمه ئې نه ده پرې ایښې. حضرت حذیفه سهمي رضي الله عنه ګرم تیلو ته وغورځول شو، لیکن کلمه ئې نه ده پرې ایښې مسلمه خولاني رحمه الله ګرم اور ته وغورځول شو، لیکن کلمه ئې نهٔ ده پرې ایښې. آخر ولې ئې کلمه نهٔ پریښوده؟

ځکه چې کلمه........د رسول الله ﷺ منشور وو.

ځکه چې کلمه........د رسول الله ﷺ دستور وو.

ځکه چې کلمه........ د صحابه کرامو رضي الله عنهم ایمان وو.

ځکه چې کلمه........ د صحابه کرامو رضي الله عنهم نشان وو.

د کلمې دویمه حصه "مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ" ده. یعنی محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی. کلمه طیبه د نبي ﷺ د رسالت نه بغیر مکمل نهٔ ده.

او دین د نبي ﷺ د رسالت نه بغیر کامل کیدی نه شي. او اسلام د نبي ﷺ د رسالت نه بغیر پوره کیدی نه شي.

بلکه زهٔ وائم......!!

د نبي ﷺ رسالت..... د دین ضامن دی، د اسلام ضامن دی، د ایمان ضامن دی. دنبي ﷺ رسالت..... د عدل او انصاف ضامن دی. د اخوت ضامن دی. د دین او دنیا د کامیابۍ ضامن دی.

"لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ" د الله جل جلاله نه علاوه څوک معبود نشته او د نبي ﷺ نه علاوه څوک رسول نشته. خُدای په خُدائۍ کښې یو دے محمد ﷺ په مصطفیائۍ کښې یو دی.

د الله جل جلاله نه علاوه څوک خُدای نشته او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروستو بل څوک رسول نشته.

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# سیرت النبی المعلم ﷺ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

لَقَدْ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿۱۶۴﴾ سورة (۳) آل عمران: ۱۶۴ (صدق الله العظیم)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا (اوکما قال علیه السلام)

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "سیرت النبی المعلم"

محترمو اوریدونکو! تاریخ په دی خبره شاهد دی چی کله هم دِ لا دینیت اشاعت شروع شو. او د ظلم او ستم رواج شروع شو د شیطانیت او فرعونیت نعره ولګول شوه او انسانان د انسانانو په عبادت مجبور شو. او د ښځو سره د څناورو په شان سلوك وکړی شو او لورګانی ژوندي دفن کړی شوي. او د الله ﷻ په ځمکه دِ الله ﷻ نظام تباه شو. نو دغه وخت الله خپل محبوب ﷺ د انسانیت د رهنمائي دپاره مبعوث کړو.

عزتمندو اوریدونکو! کله چی زه د تاریخ مطالعه کوم نو ګورم چی زما د محبوب د بعثت نه مخکښی دا حالت وو چی هر طرف ته ظلم وو. دشمنی وي ماشومی جینکی به ژوندی دفن کولي شوي عرض دا چی انسان نه څناور جوړ شوی وو.

انسان د تباهي په آخری کناری ولاړ وو. په داسی نازکو حالاتو کښی محمد ﷺ الله ﷻ معلم جوړ کړو او مبعوث ئي کړو.

او د نبی ﷺ تعلیماتو داسی انقلاب راوستلو چی د ظلم خلاف ئي د جهاد بیرغ پورته کړ او جهالت ئي ختم کړو. انسانیت ئي د ظلم د

تيارونه راوويستلو او د هدايت په رڼا کښې ئې داخل کړل.

انسانان ئې د غلامۍ د زنځير نه آزاد کړل. مظلومو ښځو ته ئې د عزت مقام ورکړو. او معاشرې ته ئې امن ورکړو. د علوم او معرفت هر طرف ته فضا جوړه شوه او نبي ﷺ اعلان وکړو. "اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا" زه خود علم او معرفت معلم يم د عقيدت معلم يم. د عباداتو معلم يم. د تجارت معاملاتو معلم يم. د شرافت او صداقت معلم يم. د شجاعت او سخاوت معلم يم. د سياست او روحانيت معلم يم غرض دا چې د هر شئ معلم يم

قدرمنو ملګرو! زما د محبوب ﷺ ښائسته صورت چې حضرت حسان بن ثابت وليدو نو وېې فرمايل......!!!

وَاَحْسَنُ مِنْكَ لَمْ تَرَقَطُّ عَيْنِيْ ... وَاَجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ
خُلِقْتَ مُبَرَّأً مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ... كَاَنَّكَ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ

د نبي ﷺ اخلاق داسې عاليشان وو چې د هغه وړاندې ډير لوی اخلاقو والاهم سر د شرم نه ښکته کړو، او د دوی دا خلاقو دوجې د زمانې ډير لوی لوی فرعونيان اسلام کښې داخل شول. او د دې اخلاقو داثر دوجې ابوبکر ﷛ نه صديق جوړ شو. د عمر ﷛ نه فاروق جوړ شو. د عثمان ﷛ نه ذوالنورين اوغنی جوړ شو او علي ﷛ نه حيدر او اسدالله جوړ شو او د قرآن په ژبه د "اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ" يۀ مرتبې باندې فائز شو.

محترمو اوريدونکو! زما د محبوب ﷺ د سيرت باب دومره وسيع دې چې تر نن پورې يو مؤرخ، مبلغ، مدبر، مفسر، مفکر، مقرر، داسې نۀ دې پيدا شوی چې کما حقه ئې د سيرت ﷺ احاطه کړې وي. بلکې آخر کښې يۀ دې مجبور شو!!!

فکر ستړی شو......مدحه باقي ده.
قلم وچ شو..........مدحه باقي ده.
اوراق ختم شو......... مدحه باقي ده.
عمر ختم شو.......... مدحه باقي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت ختم شو...... مدحه باقی ده.

"وما علینا الا البلغ المبین"

*****

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ (صدق الله العظیم)

سورة (۸) انفال: ۱

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَنْ اَطَاعَنِيْ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ (اوکما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او زما هم سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه په کومه موضوع تقریر کول غواړم هغه "اتباع الرسول صلی الله علیه وسلم" ده.

محترمو اوریدونکو! د الله ﷻ ارشاد دی: "قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ" سورة (۳) آل عمران: ۳۱

ای زما محبوبه ﷺ تاسو خپل اُمت ته ووایئ که چیرې تاسو د الله ﷻ د محبت دعوی کوئ نو زما اتباع وکړی نو الله ﷻ به تاسو خپل محبوب جوړ کړي

دی نه معلومه شوه چې د الله ﷻ سره د محبت کولو او د الله ﷻ د محبوب جوړیدلو دپاره د رسول الله ﷺ اطاعت شرط دی.

لهذا کلمه د حضور ﷺ د نوم نه بغیر نامکمل ده. اذان د حضور ﷺ نه بغیر نامکمل دی. اقامت د حضور ﷺ د نوم نه بغیر نامکمل ده، مونځ د حضور ﷺ د نوم نه بغیر نامکمل دی. جنازه د حضور ﷺ د نوم

نه بغير نامكمل دى. د عادلانو عدالت بغير د اطاعت الرسولﷺ نه نامكمل دى. د بهادرانو شجاعت د اتباع الرسولﷺ نه بغير نامكمل دى. د سخيانو سخاوت بغير د اتباع الرسولﷺ نه نامكمل دى. د امانتدارو امانت بغير د حضورﷺ د اطاعت نه بغير نامكمل دى، بلكى زما او ستا ايمان د اطاعت الرسولﷺ نه بغير هم نامكمل دى.

قدرمنو ملګرو! الله ﷻ په خپل كلام مقدس كښى د رسول اللهﷺ اطاعت د ايمان نښه ګرځولى ده. "وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ" او كله وائى اطاعت الرسول لويه كاميابى ده "وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا" او كله فرمائى د رسول اللهﷺ اطاعت د نزول رحمت ذريعه ده "وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ" او كله فرمائى اطاعت الرسولﷺ د اسلام او كفر په مابين كښى حد فاصل دى "قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿۳۲﴾ سورة (۳) آل عمران: ۳۲" او كله فرمائي چى اطاعت الرسولﷺ جنت ته د داخليدو ذريعه ده. "وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿۱۳﴾ سورة (۴) النساء ۱۳-

قدرمنو ملګرو! غور وكړى! نن مونږ د حُبّ الرسولﷺ او د اطاعت الرسولﷺ نعرى لګوؤ. ليكن زمونږ طريقى ټولى غير اسلامى دي. د سر نه تر خپو پورى داسى لباس ئې اچولى دى. كوم چى د كفارو او فساقو شعار دى.

د ښځو عريانى او بې حيائې على الاعلان ده. په كورونو كښى لوڅ تصويران دي.

د وى.سى.آر، ډش، ټى وى كيبل بازار كورونو كښى ګرم دى. د ګانو غزلو شغل دى

Maktaba Tul Ishaat.com

په کاروبار کښې د دروغو او چل نه کار اخستلې شي. سُود او جوارئ ته څوک بد نه وائي. بغض او حسد، ریاکارئ او منافقت داسې عام دي چې هیڅوک ترې پاك نه دي.

آخر داسې ولې کیږي؟ نو ددې صرف یو (۱) جواب دی. دا ټول هر څه ددې دپاره کیږي چې مونږ د نبي ﷺ اتباع او په تعلیماتو باندې عمل پرې ایښې دی. کوم چې زمونږ د ټولو نه لوئ مرض دی او ددې علاج صرف د نبي ﷺ په سنت باندې عمل کولو کښې دی.

الله ﷻ د مونږ ټولو ته اتباع الرسول نصیب کړي. آمین

"وما علینا الا البلغ المبین"

*****

## اسلامي انقلاب او جهاد

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

اَنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ سورة (۹) توبه: ۴۱

وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "اسلامي انقلاب او جهاد"

محترمو اوریدونکو! دا خبره بالکل واضحه ده چې څنګه ګل ته د خوشبوئي ضرورت دی. سپوږمۍ ته د رڼا ضرورت دی. غوږونو ته د اوریدو ضرورت دی.

زړه ته د درد ضرورت دی. دغه شان د الله ﷻ په ځمکه د الله ﷻ د نظام او اسلامي انقلاب ضرورت دی. چې د اسلامي انقلاب نه بغیر امن

وامان، عدل او انصاف، د ظلم او تشدد ختمول، اخوت او ورورولی مشکل نه بالکل ناممکن دي.

زما غیرتمندو مسلمانانو! زۀ د سیاست د ضرورت نه انکار نه کوم، زه د وعظ او تقریر د ضرورت نه انکار نه کوم، زه د دُعا او ذکر د عظمت نه انکار نه کوم. زه د درس او تدریس ،اصلاح او ارشاد او د تصنیف او تالیف د افادیت نه انکار نه کوم.

لیکن زما دوستانو! لیکن کله چې په دی خمکه عدل او انصاف قائم کړی شوی دی. دا زمکه امن والا ګرځول شوی ده. د الله ﷻ نظام پرې نافذ کړی شوی دی.

نو په هره زمانه کښې مشرکانو او سرکش او ظالمو خلقو ډیر زیات د دې مخالفت کړی دی. او د "یفسدون فی الارض" مصداق ئې ځان جوړ کړی دی. نو الله ﷻ د دغه خلقو د دماغو د صحیح کولو دپاره او د دوی د باطنی خباثت د ختمولو دپاره او د دوی د تکبر د علاج کولو دپاره او د خپل مظلوم بندګانو د ظلم نه د نجات دپاره جهاد پشان انقلابي عمل فرض کړی دی. او قرآن اعلان کړی دی "فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ "سورة (۹)توبه ۱۲) او بل ځای اعلان کوي.

"ٱنفِرُواْ خِفَافٗا وَثِقَالٗا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ" سورۀ (۹)توبه: ۴۱) او بل ځای اعلان کوی.

"وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ"

سورۀ(۸)انفال: ۳۹) یعنی جهاد کوی دوی سره تر دی چې فتنه ختمه شي او دین ټول په ټوله د الله ﷻ لپاره شي.

قدرمنو ملګرو! د ننن نه پنځلس سوه (۱۵۰۰) کاله مخکښې زما محبوب ﷺ کوم انقلاب راوستلي وو. کله چې تاسو په هغې کښې غور

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړی نو تاسو ته به د بدر، احد، حنین، تبوك هغه سخته ګرمی او داشتو کښی د تورو آوازونه محسوسیږی.

زما غیرتمندو مجاهدینو! که زما دا خبره صحیح وی بیا به تاسو دا هم منی چی د جهاد نه بغیر اسلامی انقلاب ناممکن دی بلکې زه خو علی الاعلان وایم که صرف په وعظ او نصیحت سره انقلاب راتلونو د نبیﷺ وعظ ستاسو د وعظونو نه ډیر زیات موثر وو.

او که صرف دُعا سره انقلاب راتلونو د نبیﷺ دُعاګانی ستاسو د دُعا نه زیاتی قبلېدونکي وې.

ای مسلمانانو! غفلت نه بیدار شی او هیر کړی سبق بیا یاد کړی. او دا خبره واوری او په زړه کښی یې محفوظ کړی چی د اسلامی انقلاب صرف یوه لاره ده او هغه جهاد دی هم داوجه ده چی نبیﷺ مدنی ژوند کښې اوویشت (۲۷) واری پخپله په میدان جنګ کښی په نظر راغلی دی.

ای نادان مسلمانه! ته به کله هوش کښی راځی؟ د خپلو مسلمانانو خویندو عظمت به ترکومه پوری تارتار وینی؟ د مساجدو نړول به ترکومی پوری برداشت کوی؟ بیدارشی ددی نه مخکښی چی په مخ د ځمکې د اسلام هیڅ نشان هم پاتی نه شی.

"وما علینا الا البلغ المبین"

# د علم مقام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی فی القرآن المجید: "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ" سورة (۳۹) الزمر: ۹)

وَقَالَ النبی ﷺ اُطْلُبُوا الْعِلْمَ مِنَ الْمَهْدِ الی اللحد (اوکما قال علیه السلام)

محترمو استاذانو او معززو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ده "د علم مقام"

محترمو اوریدونکو! علم د اسلام بنیاد دی. نبی ﷺ علم لره د اسلام ستن ګرځولی دي. د علم دوجې انسان خپل رب پیژنی او حقائق او معارف پری روښنه کیږی.

اولنی وحی چې په نبی ﷺ نازله شوی وه هغه د علم متعلق وه. د الله ﷻ ارشاد د دی "اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ" ای زما محبوبه د خپل رب نوم واخله او ولوله چاچې هرڅه پیدا کړل: "اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ۝ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝" سورة (۹۶) علق: ۳-۴"

ولوله او ستا رب ډیر کریم ذات. هغه ذات چې د قلم په ذریعه ئې علم وښودلو "عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ" او انسان ته ئې هغه څه وښودل کوم چې هغه ته نه وو معلوم.

محترمو اوریدونکو! اسلام د علم والاو د هغه چا چې هغه سره علم نه وي هغوی په د مینځ کښې فرق کړی دی. اسلام د علم والو درجات اوچتوی. د الله تعالی ارشاد دی "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ" ووایه ای محبوبه! آیا علم والاو هغه خلق چې علم ورسره نه وی

Maktaba Tul Ishaat.com

دوی برابر کېدی شی؟

بلکه زه خو وایم......!!

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه کښې علم راغلو.....نو افقه الناس شو.

ابی بن کعب کښې علم راغلو...............نو اقرء الناس شو.

عبدالله بن عباس کښې علم راغلو..........نو امام المفسرین شو.

ابو حنیفه رحمه الله کښې علم راغلو..............نو امام المجتهدین شو.

محمد بن اسمعیل البخاری کښې علم راغلو...نو امام المحدثین شو.

علامه انورشاه کشمیری رحمه الله کښې علم راغلو....نو امام العصر شو.

حضرت مدنی رحمه الله کښې علم راغلو.....نو شیخ العرب و العجم شو.

حضرت تهانوی رحمه الله کښې علم راغلو.....نو حکیم الامت شو

الغرض چاکښې چې علم راغلو هغه روښانه شو د یو عالم وینا دهٔ. کوم انسان کښې چې علم نه وي هغه انسان نه دی بلکې ځناور دی او کوم کور کښې چې عالم نه وی هغه کور نه دی بلکې دځناورو کنډر دی.

او کوم ملك کښې چې د علم رواج نه وی هغه ملك نه دی بلکې ځنګل دی. د نبی ﷺ ارشاد دی. علم حاصلوی ځکه د الله ﷻ د رضا دپاره علم حاصلول خشیت دی. د علم طلب کول عبادت دی. د علم مذاکره تسبیح ده. د علم تلاش کول جهاد دی. جاهلانو ته علم ښودل صدقه ده. مستحقین کښې علم خرچ کول صدقه ده. علم د حلال او حرام علامه ده، علم پهٔ تنهائی کښې ملګری دی. راحت او مصیبت ښودونکی دی. دوست او دشمن سره د هغې موافق سلوك ښودونکی دی

محترمو اوریدونکو! حضور ﷺ د نارینه تعلیم سره سره د زنانه تعلیم هم ضروری ګرځولی دی. دوی فرمایلی دی علم حاصلول په هر مسلمان سړی او ښځی باندی فرض دي.

محترمو دوستانو! دا د قرآن مجید او احادیثو فیضان دی چې مسلمانانو علم سره زړه ولګولو او سائنس او نور علم نې ترقی ته ورسول.

د علم او حکمت دوجې مختلفو قومونو په خپله خپله زمانه کښې په نړیوالو حکومت وکړو. د ترقی په دور کښې یونان والاتقریباً دوه(۲) سوه کاله په علوم او فنون کښې په اول نمبر وو. د رومیانو عروج تقریباً څلور صدو پورې وو. لیکن مسلمانانو تقریباً اووه سوه(۷۰۰) کاله د علم او حکمت په سلطنت باندې حکمرانی کړې ده، په دې اووه سوه کاله کښې په اسلامی نړۍ کښې د سائنس او ټیکنالوجی او دعلوم او فنون په هره شعبه کښې ډیر نامور شخصیات پیدا شو. بغداد، کوفه، بصره، قرطبه او قاهره، سمرقند او بخارا وغیره نور ډیر ښارونه د علم مرکزونه وو. او هر طرف ته د اسلام عظمت او حشمت وو.

لیکن هر کله چې مسلمانانو خپله رشته د علم سره کټ کړه نو مغرب والا په مونږ باندې غالب شو. او زمونږ په علمی او فکری سرمایه ئې د خپل ترقی آغاز شروع کړو. د دې نتیجه کښې مسلمان په زوال او اهل مغرب په عروج باندې شروع شول. هغوی نوی نوی ایجادات وکړل او د زمانې په قیادت ئې قبضه راغله او په ټوله دنیائې غلبه شوه او مسلمانان مغلوب شو.

زما دوستانو: زما خبرې واورې او زړه کښې ئې ځای کړې چې دعلم نه بغیر د اسلامی دنیا قیادت، د مسلمان ملکونو نظامت، د عدل او انصاف قائمول مشکل نه بالکل ناممکن دی.

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د معلم مقام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ. وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ او کما قال علیه السلام.

رَأَيْتُ أَحَقَّ الْحَقِّ حَقَّ الْمُعَلِّمِ
وَأَوْجَبَهُ حِفْظاً عَلَى كُلِّ مُسْلِمِ

محترمو استاذانو او زما د چمنِ انور ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه په کومه موضوع باندې اظهار ما فی الضمیر کول غواړم هغه ده "د معلم مقام"

محترمو اوریدونکو! دا خبره د چا نه پټه نه ده. بلکې هر چاته ښکاره ده چې معلم د تعلیم او تربیت هغه عنصر دی چې د ده نه بغیر د تعلیم او تربیت تصور هم نه شي کولی ګویا چې معلم د معاشرې هغه بنیادي مرکز دی چې د ده نه شاوخوا تمام تعلیمي خبرې ګردش کوي. بلکې معلم هغه هستي ده چې خلق د سنت په لاره روانوي معلم انسان د نیابت د الله ﷻ په درجې فائز کوي.

معلم جاهل لره عالم او بې ادبه لره ادبناک جوړوي. د معلم په وجه یوه (۱) خوشحاله معاشره پیدا کیدې شي.

قدرمنو ملګرو! اسلام معلم لره د روحاني پلار مرتبه ورکړې ده معلم ئې د نبي ﷺ وارث جوړ کړی دی او معلم ئې مربي او مصلح ښودلی دی.

بلکې زما دعوی ده چې څنګه ګل له د خوشبو، لمر له د رڼا، جسم له د روح ضرورت دی. دغسې عالم جوړیدو له د معلم ضرورت دی.

محترمو اوريدونکو! تاسو د معلّم د مرتبې اندازه ددې خبرې نه لګولی شئ چې الله پخپله معلم اول دی. قرآن کښې دي "اَلرَّحْمٰنُ ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ﴿۲﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ﴿۳﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾" سورة﴿۵۵﴾ الرحمن: ۱-۴

بيا الله جل جلاله د انس اوجن د رهنمائۍ دپاره يولاکه څليرش زره کم او وزيات انبياء راوليږل او دا تمام معلمين وو. بيائې آخرکښې زمونږ محبوب ﷺ راوليږلو او هغه خپله پيژند ګلوو پدې الفاظو سره کوي "اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا" او وېې فرمايل: "خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهُ" تاسو کښې غوره سړی هغه دی چې قرآن زده کړي او بل ته ئې وښائي.

قدرمنو حاضرينو! دين چې څنګه د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ احترام سره حاصليږي بعينه دغسې د معلم په احترام سره حاصليږي. او د دوې پيزار څپلې سمونو سره حاصليږي. لهذا دور حاضر کښې د علم د ختميدو لويه وجه دا ده چې طالبان د خپل معلم عزت نه کوي. طلباء استاذ لره صرف يو تنخواه دار او ملازم ګڼې. سفيان بن عيينه رحمة الله عليه فرمائي: زما د والد صاحب نصيحت وو، چې د خپلو استاذانو خدمت واجب ګڼه څکه د علماؤ نه فيض هغه خلق حاصلوی څوك ئې چې خدمت كوي څوك چې خدمت نه كوی هغه نه کاميابيږی.

شاعر وائي..........!!!

اِنَّ الْمُعَلِّمَ وَالطَّبِيْبَ كِلَاهُمَا
لَا يَنْصِحَانِ اِذْهُمَا لَمْ يُكْرَمَا

او د معلمينو به دا مقام ولی نه وی. خپله نبی ﷺ معلمينو ته دُعا کوی "نَضَّرَ اللّٰهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ" الله جل جلاله د هغه انسان تر تازه ساتی چې زمونږ نه څه واوری اوچې څنګه ئې اوريدلی وی هغسې ئې بل ته ورسوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرت علی رضی الله عنه ارشاد دی: "اَنَا عَبْدُ مَنْ عَلَّمَنِیْ حَرْفًا اِنْ شَاءَ بَاعَ وَاِنْ شَاءَ اَعْتَقَ" یعنی ما ته چې چا یو حرف هم ښودلو زۀ د هغه غلام یم که غواړی نو خرڅ مې دِ کړی او که غواړی آزاد مې دی کړی

زما هم مکتب ملګرو! امام ابوحنیفه رحمه الله به دخپلو استاذانو دومره احترام کولو چې خپل کور کښې به ویده کیدو نو هم به ئې پښې د خپل استاذ د کورطرف ته نه کولې او فرمایل به ئې ماچې کله هم مونځ کړی دی خپل والدین او استاذانو ته مې ضرور دُعا کړی ده

الله جل جلاله د مونږ او تاسو ټول دخپلو استاذانو تابعدار جوړ کړی او زمونږ د استاذانو ،علم،عمر، عمل،مال او اولاد کښې دِ الله جل جلاله برکت واچوی آمین

"وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین"

# مسلمان ولې مغلوب دي؟

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. امـابعد! فـاعوذبالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ سورة (۳) آل عمران: ۱۳۹ (صدق الله العظيم)

وَقَالَ النَّبِي ﷺ حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ او كما قال عليه السلام.

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو اوريدونكو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زما د تقرير عنوان دی "مسلمان ولې مغلوب دي؟"

گرانو اوريدونكو: د الله تعالى ارشاد دی "وَلَاتَهِنُوا" تاسو همت مه بايلی د كفارو تعداد او د مشركانو د زياتوالی دوجی او د منافقانو د منافقت ديری آيا تاسو قرآن نه لولی: "كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ الله" لهذا تاسو بدر كښی ۳۱۳ (دری سوه ديارلس وی)....په زرو باندی غالبه شوی

په اُحد كښی اُووه نيم سوه وی....په دری زرو باندی غالبه شوی.

په خندق كښی دری زره وی....په لس زره باندی غالبه شوی

په حُنين كښی شپاړس سوه وی....په شل زره باندی غالبه شوی

په تبوك كښی ديرش زره وی....په شل زره باندی غالبه شوی

مؤته كښی دری زره وی.... په لكونو باندی غالبه شوی.

په يرموك كښی شپيته وی.... په شپيته زره باندی غالبه شوی

وَلَاتَهِنُوا... همت مه بايلی، وَلَا تَحْزَنُوا او پريشانه كيږی مه د كافرو نه د تورونه، د غشونه، د نيزو نه، د كلاشنكوفونو نه، د راكټونه، د ميزائلونه د بمونونه...

ای مسلمانانو! تاسو سره بدر كښی كوم توره وه، پهٔ اُحد كښی

Maktaba Tul Ishaat.com

ځومره غښي وو. په خیبر کښې ځومره اسونه وو.

په حنین کښې ځومره کلاشنکوفې وې په تبوك کښې ځومره راکټې وې. مؤته کښې ځومره میزائیلې وې. یرموك کښې ځومره بمونه وو بیا هم ای مسلمانانو فتح او نصرت تاسو ته ملاؤ شوه. د طاغوت لښکر مغلوب شو حق هر طرف ته خپور شو، د باطل نیزې ختمې شوې.

آخر ډغه وخت کښې مسلمان ولې غالب وو؟ فتح او نصرت ورته ولې ملاویدو؟ قرآن وائي: "وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ" ای مسلمانانو تاسو به په ټولو کائناتو کښې غالب يئ په دې شرط چې تاسو کښې ایمان وي.

د هغه وخت د مسلمانانو زړونه د ایمان په نور سره منور وو. د هغوی په لاسونو کښې د توحید توره وه، د اخلاص غښي وو. د تنظیم میزائل وو. د اطاعت الرسول ایټم بم وو. د نبي ﷺ د سنتو نمونې وې. د ټولو نه لوی صفت هغوی عملي مسلمانان وو.

د دې اوصافو دوجې چې به هغوی کوم طرف ته تلل کامیابه کیدل او شیطاني ډلې به ختمیدې. د قیصر او کسرٰی په ایوانونو کښې به زلزله راتله الغرض اسلام غالب کیدو او کفر به مغلوبه کیدو.

قدرمنو حاضرینو الیکن نن مسلمان ډیر بد حالت کښې دی او مغلوب دی او د دوی هیڅوك مددګار نشته. مادي اسباب ورسره ډیر دي بیا هم ذلیله دي. د مسلمانانو د ښځو عزتونه محفوظ نهٔ دي او د غیر مذهبه حکمرانانو چاپلوسه کوي.

د حضور ﷺ ارشاد دی: په آخری زمانه کښې به کافران په مسلمانانو داسې حمله کوي لکه څنګه چې وږي انسان په دسترخوان باندې حمله کوي. صحابه کرامو پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ ولې مونږ به هغه وخت د تعداد په اعتبار سره کم یو؟ حضور ﷺ وفرمایل نهٔ بلکې ډغه وخت به مسلمانان د سمندر د زګ برابر وي. صحابه کرامو ﷺ عرض

وکړو. یا رسول اللهﷺ! بیا د مغلوبیت څه وجه ده؟ څه سبب به وی؟ نبیﷺ ارشاد وفرمایلو دغه وخت به مسلمانانو کښې د "وهن" مرض او وبا وي.

صحابه کرامو﵃ پوښتنه وکړه وهن څه څیز دی؟ نبیﷺ ارشاد و فرمایلو "حُبُّ الدُّنیا وَکَرَاهِیَةُ الْمَوْت"

"وما علینا الا البلغ المبین"

*****

# د نبی کریم سیرتﷺ

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تبارك وتعالى: اِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ سورة(٦٨) (صدق الله العظیم)

وَقَالَ النَّبِیُّﷺ اِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً اوکما قال علیه السلام.

محترم صدرِ جلسه او معززو سامعینو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو په وړاندی دا هغه مقدس ذات، مطهر، معطر او منور حمد وثناء بیانوم. چی ډیر زیات مکرم محکم. معظم. مزکّی، مجلی او مصفی دی. چی هغه الله تعالی دِ پوره کائناتو دِ پاره زیری ورکونکی یرونکی. تقسیمونکی او رؤف الرحیم رالیږلی دی.

زما اوریدونکو رونړو!

هغه داسی یوه لویه او عزت منده هستی ده. چی د هغه تعریف کونکی پخپله الله تعالی دی. چې په هغه باندی فرښتی شپه او ورځ درود لیږی. چی د هغه د صفاتو بیانونکی قرآن دی. چی هغه ته ونی بوټی او کاڼي سلامونه کوی. چی د هغه د حقانیت شاهدي ده او کاڼي شاهدي چی د هغه په اشاره سپوږمی دوه ټوټې کیږی. چی د هغه په دُعا لمر واپس راخیژی. چی دِ هغه دِ پیدائش د وجی نه وجود د کائنات دی. چی دِ هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

شفاعت دليل د نجات دې. چې د هغه ذات رحمت دی. چې د هغه ذکر سراسر عبادت دې. چې د هغه په تعريف په لکونو صفحات ليکل شوی. او بيا هم صفحې کميږی. چې دا چا په صفت په کروړونو خلق لګيا دی. ليکن بيا ئې هم حق ادا نکړو. چې د چا تذکره د آدم عليه السلام نه شروع شوی ده او د قيامته پورې به جاری وی. چې د اولين او آخرين امام دی. دا نبيانو سردار دی. چې د هغه هستی رڼا او رڼا ده. چې د هغه خبری د شهدو نه زياتی خوږی دې چې د هغه کردار د رښتياؤ آئينه ده. چې د هغه هر حرکت هدايت دی. چې د چا هرکار او فعل قابل اتباع دی. چې د چا مخ مبارك په ليدو سپوږمی هم شرميږی. چې د چا پيدائش وجه د مخلوقاتو پيدائش ده ځوك چې د ابراهيم عليه السلام دعا ده د موسٰی عليه السلام التجاء ده. د عيسٰی عليه السلام پيشن ګوئی ده.

که چيري هغه نه وی نو هيڅ به نه وی. چې راغی نو د ټولو دپاره رحمت دې. چې دا چا راتلل د ټولو کائناتو لپاره سعادت دی. چې د هغه شريعت د ټولو دپاره واجب الاطاعت دی. چې د چا ذات په مخلوقاتو کښې د ټولونه لوی او د الله تعالٰی نه بعد د ټولو نه برتر او اعلی دی. چې د چا په بازار کښې هر وخت د رحمتونو بارن وی. چې د قبرمبارك خاوره د نور دي. چاچې د ذراتو د ملاوولو نه صحرا جوړه کړه. چاچې د قطرو د ملاوولو نه درياب جوړ کړو. چې د چا نوم اخستونکی د مشرق نه تر مغرب پورې موجود دې. چې د چا نوم هر وخت اوچت وې. چاچې د قرآن کريم په شان عظيمه تحفهٔ راوړه چاچې د اسلام غوندی مبارك دين راوړ چاچې د جهاد غوندی د جنت مختصر ترين لار وښودله. چاچې د عرب وحشيانو ته د انسانيت تاج ورپسر کړو. چاچې د ابوبکر رضي الله عنه نه صديق، عمر رضي الله عنه نه فاروق، عثمان رضي الله عنه نه د سخيانو سردار او علی رضي الله عنه نه حيدر کرار جوړ کړو. چاچې د افريقه د حبشيانونه د زمانی امامان جوړ کړل. ځوك چې د عرب او د عجم بادشاه دی. او د دواړو جهانونو تاجدار دی.

ای د شمع رسالت پتنګانو!

زما آقا. نور مجسم فخر دو عالم امام الانبیاء. سید الاتقیاء هادی کُل ختم الرسل. ساقیٔ کوثر شافع محشر. حضرت محمد مُصطفی. احمد مجتبی ﷺ چی الله تبارك و تعالی ورته دا ټول صفات ورکړیدی.

چی کوم یې یو لاکه څلیر ویشت زره پیغمبران ته ځان ځان له ورکړی وو.

لهذا زما په محبوب ﷺ کښی د آدم علیه السلام خلقت د شیث علیه السلام معرفت د نوح علیه السلام جوشِ تبلیغ د ابراهیم علیه السلام ولوله دِ توحید د اسماعیل صبر، د اسحاق علیه السلام او د صالح علیه السلام فصاحت دِ لوط علیه السلام حکمت دِ موسی علیه السلام جلال دِ هارون علیه السلام جمال دِ یعقوب علیه السلام تسلیم او رضا، د داؤد علیه السلام آواز، دِ ایوب علیه السلام صبر، دیونس علیه السلام اطاعت د یوشع علیه السلام جهاد، دِ دانیال علیه السلام محبت، دِ الیاس علیه السلام وقار، دِ یوسف علیه السلام حُسن، دِ یحیی علیه السلام پاکي او دِ عیسی علیه السلام زهُد و تقوی غوندی عظیم الشان او صاف کمالات د نبی کریم ﷺ په ذات مبارکه، مطهره، منوره کي په یو وخت پیدا کړی وو.

خُدای یی مه ګڼه بې شکه چی بشر دی.

نوریی کل واړه صفات دی د مولی

والسلام

"وماعلینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د بدعت حقیقت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَمَا ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ سورة (۵۹) الحشر: ۷

وَقَالَ النبی ﷺ کُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ اوکما قال علیه السلام

عزتمندو اساتذه کرام او زما د توحید دِ چمن ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما دِ بیان موضوع "د بدعت حقیقت"

عزتمندو اوریدونکو!

هسې خو د بدعت دوه معنی دی یوه لغوی او بله اصطلاحی په لغت کښې هر نوی څیز ته بدعت وائی. لهٰذا د لغت په اعتبار سره تاسو بلب ته هم بدعت ویلی شی. بجلی ته هم ویلی شی. ریل ته هم ویلی شی. هوائی جهاز ته هم ویلی شی. لاوډسپیکر ته هم ویلی شی. ټیلی فون ته هم بدعت ویلی شی. ولی ویلی شی د څه وجی ویلی شی. ځکه چی دا ټول زمونږ د زمانې پیداوار دي. ځکه چی د مسلمانانو په اولنی دور کښی د دی وجود بالکل نه وو. لیکن د شریعت په اصطلاح کښې هر شی چې هغه د ثواب په نیت سره په دِین کښې شامل کښی. نو د دی اصطلاحی بدعت رسول الله ﷺ مذمت او منع بیان کړی ده. او د دی نه ئې د بچ کیدو تلقین کړی دي. او د دی سزاګانی یې بیان کړی دي چی "کُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ" یعنی هر بدعت ګمراهی ده او د هری ګمراهی انجام دوزخ دی.

اوریدونکو وروڼو! اوس راشی زه تاسو ته وایم چی څه عمل د بدعت کیدلو نشانه څه ده او علامت څه دی. او سنت او بدعت کښی څه فرق دی. نو ددی معاملې حل آسان دی. که چیری هغه کار هادی اعظم فخرِ مجسم حضرت محمد ﷺ په زمانه کښې نه وی شوی. تابعینو او تبع

تابعینو په دور کښې د هغې نوم و نشان نه وو. زمانه مشهود لهـا بالخیر کښې د هغې څه اصل نه وو نو دا بدعت دی.

زما داقای مدنی ﷺ ارشاد مبارك دی. "مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ" ترجمه: یعنی کوم سړی چې زما په دی دین کښې څه نوی کار راوباسی نو هغه کار رد دی.

عزتمندو ملګرو! د حضرت سیدنا ابوبکر رضی الله عنه فرمان دی "إِنِّي مُتَّبِعٌ وَلَسْتُ بِمُبْتَدِعٍ" یعنی زه د الله تعالی او د الله تعالی د رسول ﷺ د احکامو تابعدار یم او بدعتی نه یم. علامه شاطبی غوناطحا رحمة الله علیه فرمائی: كُلُّ مُبْتَدِعٍ يَدَّعِي أَنَّهُ هُوَ صَاحِبُ السُّنَّةِ دُوْنَ مَنْ يُخَالِفُهُ" یعنی هر بدعتی دا دعوی کوی چې بس زه سُنی یم او چې څوك خلاف کوی هغه اهل سنت نه دي.

حضرت شیخ احمد سرهندی مجدد الف ثانی رحمة الله علیه فرمائی: چې هیڅ یو بدعت حسنه نشته. بلکې هر بدعت ګمراهی ده. چې د هغه نه ځان ساتل ډیر ضروری دی.

زما عزتمندو مسلمانانو! د نن بدعتیان هم دا شور کوی چې سُنیان هم دوی دی او د هغوی په مقابله کښې ټول وهابیان دی. تر دی چې اهل مکه او مدینه چې دا چشمه ده چې د هغې نه اسلام خپور شوی دي. هغوی ته هم خلق وهابیان او بد دینه وائي.

چې ستاسو مخې ته د بدعت حقیقت واضح شو. نو زه او تاسو په ښکاره ویلی شو. چې د ایصال ثواب دپاره دریمه ورځ لازمول بدعت دی. دریمهٔ لسمه او څلویښتمه بدعت دی. دا غټه ګوته لازمول بدعت دي. حاضر او ناظر عقیدی سره یا رسول الله ﷺ ویل بدعت دی. په قبرونو څادرونه اچول بدعت دی. د جنازی نه بعد دعا لازمول بدعت دی. په قبرونو شمعی بلول بدعت دي. شنه پګړي او شین رنګ خپل لباس جوړول بدعت دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د آذان نه وړاندی درود شریف ویلو اهتمام کول بدعت دی. د جمعی د مونځ نه وروستو درود او سلام ویل بدعت دی. د یوو لسمی ثواب ګڼل بدعت دی. عرس کول او هغه د ثواب کار ګڼل بدعت دی.

حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه "يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ" په تفسیر کښي فرمائی: چی د قیامت په ورځ به د اهل سُنت والجماعت مخونه به سپین وي. او د اهل بدعت مخونه به تور وي.

د الله تعالی نه دُعا غواړو چی مونږ د شرك او بدعت نه وساتی او د توحید او سنت ښائسته ژوند راکړي؟

او د محبوب حضرت محمد ﷺ په نقش قدم باندی د تلو توفیق را نصیب کړي.آمین

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين"

# په سُنتو عمل وکړی

الحمد لله رب العٰلمین، والعاقبة للمتقین، والصلوٰة والسلام علی سید الانبیاء و خاتم المرسلین. وعلیٰ اله وصحبه اجمعین. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمٰن الرحیم.

قال الله تعالی: وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا سورة (۳۳) الاحزاب: ۷۱

وَقَالَ النبی ﷺ من تمسك بسنتی عند فساد امتی فله اجر مائة شهید او کما قال علیه السلام.

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو سامعینو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو د وړاندی په دی با برکت محفل کښي د رسول الله ﷺ په سنتو خبری اتری کول غواړم.

اوریدونکو ورونو! د نبی کریم ﷺ ارشاد دی چی زه تاسو ته دوه څیزونه پریږدم تر کومی چی تاسو دا په مضبوطی سره نیولی وی نو تاسو به ګمراه نه شی. یو د الله تعالی کتاب او دویم زما سنت دی. لهذا په دی وخت کښي د مسلمانانو په دنیا کښی د خپل محسن رسول الله ﷺ دا فرمان پټوی. چی د هغی دوجی نه امت مسلمه د بدعت او د ګمراهی په خنګلو کښي بند دی. مسلمانان چی د بادشاهی حقدار وو نو د مظلومیت په بد ترین درجه کښي ګیر دي.د ترك سُنت د نحوست دوجی نه نن مسلمانان په خپلو کښي په جنګ اخته دی. مسلمانان د داخلي او خارجي سازشونو ښکار دي. خبره دي حد ته ورسیده چی د نبی کریم ﷺ اُمتیان چی د دوی دپاره خپله پیغمبر ﷺ د احد په میدان کښي غاښونه مبارك شهیدان کړل. په سر مبارك ئی کوری وخوړلي. په ملا مبارکه یی (لری) "أجری" وغورځول شول. مکه مکرمه نه وویستل شو.د نبی کریم ﷺ تره حمزه ﷺ شهید شو. د طائف په میدان کښي په

Maktaba Tul Ishaat.com

کانو وويشتل شو. لورګانو ته يې طلاقونه ورکړل شول. د بدن مبارک زورنې به ورکولی شوې، اوس ماته جواب راکړی. دا هغه پيغمبر ﷺ دی چې دنيا ته راتلو سره د اُمتي اُمتي آوازونه کول د دنيا نه د تلو په وخت کښې د اُمتي اُمتي آوازونه ئې کول. نو افسوس صد افسوس نن هغه اُمتي نن د هغه پيغمبر ﷺ نوم اخستونکی د هغه سنتو او د هغه د طريقو مزاق کوي. سنت نبوی ته زړې خبرې وائی. او د نبی سنتو ته د ترقی په دور کښې رکاوټ وائی. حتی چې بعض مسلمانان سنت ژوندی کول شوم او عام ګڼي.

ګرانو اوريدونکو! د تاريخ کتابونو ليکلی دي. چې مشرکين مکه به صحابه کرامو ﷺ ته راتلل او فرمائش به ئې کولو. چې مونږ ته هغه کتاب وښائی چې په نبی کريم ﷺ نازليږی. نو صحابه کرامو ﷺ خپل ملګری ته اشاره وکړه چې دا قرآن را روان دې. هغه قرآن را روان دی. سبحان الله يعنی چې قرآن کريم کوم احکام راوړی دي. نو هغه په دوی کښې من و عن موجود دې. غرض دا چې هغوی عملی قرآن وه.

حضرت حذيفه ﷺ چې کله د خپل وخت نام نهاد او سُپرپاور ته د مذاکراتو د دعوت دپاره دهغوی محل ته لاړو. نو د کسری شوری د عاجزی په طور ډوډی پيش کړه. لهذا د ډوډی د خوراك په دوران کښې د حضرت حذيفه ﷺ د لاسونونه يوه نوړی "لقمه" پريوته. د حضور ﷺ سنت اوتعليم دا دې که چيری د چانه نوړی پريوځي نو هغه مه ضايع کوی. که چيری هغه حاوروکښې ګنده شی نو صفائی يې وکړی او ويې خوری. حضرت حذيفه ﷺ د نوړی دراخستلو دپاره لاس لاندی کړو. يو ملګری ورسره ناست وو. په څنګل يې ووهلو. چې دا څه کوي دا خو د دنيا د سُپرپاور کسری محل دی کيري دی په دې مانې کې دا مړی وخوړله نو د دی خلقو د وړاندی به زمونږ هيڅ

حیثیت پاتی نه شی. دا اوس پریږده. دی خبرو اوریدو سره فوراً حضرت حذیفه ﷺ اوفرمایل چی "أ اترك سنة رسول الله ﷺ بهؤلاء الحمقی" د دی کم عقلو دپاره زه د خپل خوږ نبی اکرم ﷺ سنت مبارك پریږدم. دانشی کیدی. ختونه کټ کیدلی شی. ښځی کونډی کیدلی شی. بچی یتیمان کیدلی شی. لیکن د نبی اکرم ﷺ سنت هرگز نه شی پریښودلی.

عزتمندو! دا نبی اکرم ﷺ ارشاد دی: چی کوم کس د فتنو په دور کښی زما یو سنت ژوندی کړی هغه ته به دسلو شهیدانو اجر او ثواب ملاویږی.

د الله تعالی نه دعا غواړو چی مونږ ته د نبی اکرم ﷺ حقیقی محبت را نصیب کړی او د حضور ﷺ په طرز او طریقو مطابق د ژوند تیرلو توفیق را نصیب کړی. آمین

"وما علينا الا البلغ المبين"

Maktaba Tul Ishaat.com

## حقوق العباد

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم.
بسم الله الرحمٰن الرحیم
لَا تَسْتَوِی الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِيْمٌ (صدق الله العظیم)

محترمو استاذانو او خوږو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه په کومه خبره بیان کول غواړم نو هغه حقوق العباد دي.

ګرانو وروڼو! دین اسلام یو مکمل دین او د ژوند پیمانه ده. چونکې په دی کښې عقائد هم داخل دي. اخلاق هم داخل دي. معاشیات هم داخل دی. اقتصادیات هم داخل دي. مساوات هم داخل دي. مداراث هم عبادات هم، تجارت هم. اعمال هم، حقوق الله هم، او حقوق العباد هم داخل دي.

ای حاضرینو! په انسان باندی دوه ډوله ذمه واری راځي. یو د الله تعالی حقوق ادا کول دویم د بندګانو حقوق ادا کول. کوم سړی چې دا دواړه قسمه حقوق ادا کوي نو هغه د نورو لپاره یو مثال جوړیږی. د الله ﷻ محبوب پیغمبر ﷺ ساقی کوثر، شافع محشر زما او ستاسو پیغمبر ﷺ په خپله زندګی کښې دا دواړه قسمه حقوق ادا کړل.

لهذا د حضور ﷺ خواه د جمات زندګی وه یا د کور یا څان له زندګی وه یا د نورو سره دا ټولو حقوق ادا کړی دي. لیکن په دې وخت کښې څیني خلق خو عبادت ته ډیره توجه ورکوی خو دی ته خیال نه کوی چې زما دوجې نه خلقو ته تکلیف ورسي. چې زما د خبرونه خلقو ته تکلیف دي. زړونه خرابیږي، زما د عمل نه خلقو ته تکلیف دي. ذلت او امت ورته وي. او څه خلق داسی دی چې هغوی خو د خوش اخلاقی چغی وهی. لیکن دِ مونځ اودس فرصت ورته نه ملاویږی تلاوت د پاره وخت

نشته د حقوق العباد خیال نه ساتي او نه د حقوق الله لحاظ ساتي.

د سرور کائنات ﷺ ارشاد دي. چې د قیامت په ورځ به الله تعالی و فرمائي. چې زه منصف او عادل بادشاه یم. جنتي به جنت او جهنمي به جنهم ته هغه وخت پورې به نه داخلیږي چې ترڅو اهل حقوق حق ورنکړې شي.

اوریدونکو ورونو! نبی اکرم ﷺ فرمائي. حدیث "حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ" یعنی د یو مسلمان په بل مسلمان پنځه حقوق دي. دسلام جواب ورکول. د خپل مریض ورور عیادت کول. جنازې سره تلل، دعوت قبلول. او د خپل مسلمان ورور د انتروشی په جواب کښې یرحمك الله ویل.

زما خوږو مسلمانانو! د دې حدیث مطلب دا دي چې صرف دا حقوق نه دي بلکې د دې نه علاوه هم ډیر حقوق په قرآن او حدیث کښې ښودل شوي دي. لهذا د یو مسلمان ورور حفاظت کول د هغه د مال حفاظت کول د دویم مسلمان ذمه داري ده.

قدرمنو دوستانو! توجه وکړې یوځل نبی کریم ﷺ د صحابه کرامو ﷺ نه پوښتنه وکړه. چې غریب څوك دی. صحابو ﷺ عرض وکړو دی د الله ﷻ رسول ﷺ چې د چاسره مال نه وي. نبی ﷺ وفرمایل داسې نه ده. صحابو ﷺ عرض وکړو ای الله ﷻ رسول ﷺ تاسو اوفرمایی څوك دی. نبی اکرم ﷺ اوفرمایل غریب هغه دی. چې په دنیا کښې خو ډیرې نیکی وکړي. مګر دچایې بې عزتي کړې وي، چا ته یې کمینه وئیلی وي. د چایې مال خوړلی وي. د قیامت په ورځ به په دې حالت کې ولاړ وي. چې حق والا به ترې خپل حقوق غواړي. الله تعالی به د هغوی د حقوق په بدله کښې د ده نیکی ورکوي. تر دې چې نیکی به یې ختمې شي. لیکن حق والا به اوس هم باقي وي. هغوی به وایي ای الله ﷻ زمونږ حق دې هم راکړې. الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

به د هغوی ګناهونه د دی کس په اعمال نامه کښې واچوی. چی کوم سړی د حقوق العباد خیال نه ساتی.

الله تعالی نه دعا غواړو چی مونږ ټولو ته د حقوق العباد د پوره پوره حق ادا کولو توفیق را نصیب کړی. او زمونږ دپاره د نبی اکرم ﷺ په سنتو طریقو تلل آسان کړي.آمین یارب العالمین.

"وما علینا الا البلغ المبین"

❊❊❊❊❊

## حقوق الوالدین

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

۞ وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَـٰنًا ۚ سورة (۱۷)الاسراء:۲۳

وَقَالَ النَّبِی ﷺ رِضَی الرَّبِّ فِی رِضَی الْوَالِدِ، وَسَخَطُ الرَّبِّ فِی سَخَطِ الْوَالِدِ (اوکما قال علیه السلام)

قدرمنو اساتذه کرامو او زما د بزم تکړه ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

په دې روښانه مجلس کښې به نن زه ستاسو مخې ته د والدینو په حقوقو باندې څه خبره کول غواړم. الله تعالی دې پرې ما او تاسو ټولو ته د عمل کولو توفیق راکړې.

محترمو اوریدونکو! کله چی زه د قرآن او د حدیث مطالعه کوم نو زه ګورم چی الله تعالی د خپل نبی کریم ﷺ د اطاعت نه بعد د مور او پلار د اطاعت حکم کړی دی.لهذا سوره بنی اسرائیل کښې الله تعالی د شپږو خبرو حکم کړی دی.

(۱)الاتعبدوا الا ایاه......د خدای نه علاوه د بل چا عبادت مکوی.

(۲) وبالوالدين احسانا.......مور او پلار سره ښه سلوك او معامله كوی.

(۳) فلا تقل لهما افّ......والدين ته اف قدرې مه كوي.

(۴) ولاتنهرهما.......والدين مه رټي.

(۵) وقل لهما قولاً كريماً...... والدين سره نرمې او ادب سره خبري كوی.

(۶) واخفض لهما جناح الذل من الرحمة...... والدين دپاره لاس د محبت وركوی

او دا دعا غواړی. رب ارحمهما كما ربّيني صغيراً. ای الله تعالی په هغه دواړو رحم وکړی لکه څنګه چې هغوی په ما باندی په وړوکوالی کښې رحم کړی ؤ.

بلکې زه خو دا هم ویل غواړم:

| | | |
|---|---|---|
| وړی کیدم به زه | او | رحم به والدینو کوو. |
| تږی کیدم به زه | او | رحم به والدینو کوو. |
| یخني به زما کیده | او | رحم والدینو کوو. |
| ګرمی به زما کیده | او | رحم به والدینو کوو. |
| بیماریدم به زه | او | رحم به والدینو کوو. |
| زخم به په ما راتلو | او | درد به والدینو محسوسولو |

درنو ملګرو! توجه غواړم مور به مونږ دوه نیم کاله څنګ کښې ګرځولو د خپلو سینونه به یې موږ ته شیدې راکولې. زمونږ ژانګو ګانو له به ئی تالی ورکولی زمونږ نازونه او اداګانې به ئی منلی. د یخنی په شپو کښې باربار پاڅېدل او په مونږ به یې کمبله اچول. زمونږ د مرداریو په لوندځای به خپله څملا سته او وچه بستره به یې موږ ته غوړوله د ګرمی په شپو کې به یې غټې تکلیفونه برداشت کول.

لیکن افسوس صد افسوس زما طالب علمانو ورونو. نن مونږه د والدینو هغه قربانی مشقتونه او د هغوی هغه ناقابل فراموش احسانانو بدله څنګه ادا کوو. دا نه بلکې مونږ نن د هغوی خبری منلو ته تیار نه یو.

Maktaba Tul Ishaat.com

د نورو د وړاندی د هغوی بې عزتی کوو. دین او تعلیم حاصلولو د پاره به یې موږ سکول یا مدرسې ته لیږلو خو مونږ واپس د تښتېدولو کوشش کولو. او د هغوی ارمانونه د خاورو سره ملاوؤ. سی،ډی، وی،سی،آر او ویډیو ګیم نه مو منعه کوی نو مونږ ورسره ضد کوو. او د والدینو په نصیحت باندی د بد اخلاقی مظاهره کوؤ. حتی چې ځینې ملګري خو کنزل هم کوي. خپل دنیا او دین برباد وو. خپل مستقبل خرابوؤ پخپله په خپل ځان جنت حراموو. او الله تعالی او رسول اللهﷺ پریشانه کوؤ.

د سرور کائناتﷺ ارشاد دی چی د مور پلار نافرمان به جنت ته نه داخلیږی. او په یو حدیث کی دې "هما جنتك و نارك" ترجمه: مور او پلار د اولاد دپاره جنت هم دی او جهنم هم دی

لهذا په دی حدیث کښی نبی اکرمﷺ جنت او جنهم سبب د مور او پلار خوشحالی او خفګان وګرځوو.

راځی. نن مونږ یو پوخ عزم او اراده وکړو چی د آئنده دپاره به د مور او پلار زړه نه نا راضه کوو. او هغوی بهٔ خوشحالوو. او هغوی ته به د شکایت موقع نه ورکوؤ. او د هغوی خبره به منو. پخپل شوق سره به تعلیم او دین حاصلوؤ.

علم باعمل او په حفظ کامل باندی به د هغوی سترګی پخوؤ. او همیشه دپاره به دا دُعا غواړو چی رب ارحمهما کما ربینی صغیراً آمین.

"وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین"

# د نبي آخرزمان ﷺ سیرت

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

لقد کان لکم في رسول الله اسوة حسنة (صدق الله العظیم)

محترمو استاذانو او خوږو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه په کومه موضوع باندې اظهار مافي الضمیر کول غواړم. هغه ده "د نبي آخرزمان ﷺ سیرت."

محترمو اوریدونکو! تاسو ته معلومه ده چې د هر انسان د زندګۍ درې مرحلې دي. (۱) وړوکولی. (۲) ځواني. (۳) بوډا والی. او دا هم د سیرت والو مقررینو، خطباؤ، دانشورانو او ادباء اصول دي. چې کله د یو سړي سوانح عمر لیکي یا بیانوي یې نو د هغې شروع د وړوکوالي نه کوي او په بوډا والي یې ختموي. لیکن زما د آقا محمد ﷺ ابتداء او انتهاء څه دواړه عجیب دي. د سیرت مُصطفی ابتداء د عالم ارواح نه کیږي. او اختتام یې په عالم حشر ونشر کیږي.

دغه وجه ده چې چا د حضرت عائشه ﷺ نه پوښتنه وکړه چې د حضور ﷺ څه سیرت او اخلاق دي. نو هغې ﷺ ورته وفرمایل چې آیا تا قرآن نه دی ویلی. پوره قرآن زما د محبوب ﷺ سیرت او اخلاق دي. لهذا د حضور ﷺ یو سیرت هغه دی چې انبیاؤ بیان کړی دی. یو سیرت هغه دی چې اولیاؤ بیان کړی دی. یو سیرت هغه دی چې اصفیاؤ او اتقیاؤ بیان کړی دی. یو سیرت هغه دی چې عالم او خطیب یې بیانوي یو سیرت هغه دی چې پیران ئې بیانوي. او یو سیرت هغه دی چې هغه عرش والا یې بذات خود بیانوي. زمونږ د ژبو به څه اثر وي. اثر خو د قرآن کریم دی. راځئ چې قرآن و ګورو چې هغه څه وائي.

Maktaba Tul Ishaat.com

قرآن کښې د نبی اکرم ﷺ د مخ مبارك ذكر دی. "قدنرٰی تقلب وجهك" کله چې د حضور اقدس ﷺ د رخسار اقدس ذكر راغی نو قرآن کریم فرمائی "والضحٰی" کله چې د حضور ﷺ د زلفو بحث راغی نو قرآن کریم فرمائی "واللیل" چې کله د حضور ﷺ د تندی مبارك بحث راغی نو قرآن فرمائی "عبس وتولّٰی" کله چې د حضور اکرم ﷺ د غاښونو مبارکو ذکر راغی نو قرآن مجید فرمائی "یٰس" کله چې د حضور اکرم ﷺ د سترګو مبارکو ذکر راغی نو قرآن فرمائی "مازاغ البصر وما طغٰی" کله چې د حضور ﷺ د ژبی مبارکي ذکر راغی نو قرآن کریم فرمائی "لاتحرك به لسانك" کله چې د نبی کریم ﷺ د سینې مبارکې ذکر راغی نو قرآن مجید فرمایی "الم نشرح لك صدرك" کله چې د حضور ﷺ د زړه مبارك ذکر راغی نو قرآن کریم فرمائی "فانه نزله علی قلبك باذن الله" کله چې د نبی اکرم ﷺ د عمر مبارك ذکر راغی نو قرآن مجید فرمائی "لعمرك" کله چې د حضور ﷺ د خبرو ذکر راغی نو قرآن کریم فرمائی "وما ینطق عن الهوٰی" کله چې د حضور ﷺ دعبادت ذکر راغی نو قرآن مجید فرمائی "یا ایها المزمل، قم الیل الاقلیلا" کله چې د حضور ﷺ د عوت او تبلیغ ذکر راغی نو قرآن کریم فرمائی "یا ایها المدثر، قم فانذر" کله چې د حضور ﷺ د جهاد ذکر راغی نو قرآن کریم فرمائی "ومارمیت اذرمیت ولکن الله رمٰی" کله چې د حضور ﷺ د اخلاقو ذکر راغی نو قرآن مجید فرمائی "وانك لعلی خلق عظیم" کله چې د حضور ﷺ د معراج ذکر راغی نو قرآن مجید فرمائی "سبحٰن الذی اسرٰی بعبده لیلاً من المسجد الحرام الی المسجد الاقصٰی" کله چې د حضور ﷺ د یار غار ذکر راغی نو قرآن کریم فرمائی "ثانی اثنین اذهما فی الغار" کله چې د حضور ﷺ د جانثارو ذکر

راځی نو قرآن کریم فرمائی "والذین معه اشداء علی الکفار رحماء بینهم" کله چی د حضور ﷺ د امت ذکر راځی نو قرآن مجید فرمائی "أمة وسطا" کله چی د حضور ﷺ د رحمت ذکر راځی نو قرآن کریم فرمائی "وما ارسلناك الا رحمة للعلمين" کله چی د حضور ﷺ د رسالت ذکر راځی نو قرآن کریم فرمائی "وما ارسلناك الا كافة للناس بشيرا" او کله چی د حضور ﷺ د اخلاقو ذکر راځی نو قرآن کریم فرمائی لقد كان لكم في رسول الله اسوة حسنة.

عزتمندو ملګرو! زمونږ د نبی اکرم ﷺ اخلاق هم کامل ؤ، علم هم پوره ؤ. حلم هم کامل ؤ. صداقت هم کامل ؤ. عدالت هم کامل ؤ. امانت هم کامل ؤ. سخاوت هم کامل ؤ. رسالت هم کامل ؤ. سیرت هم کامل ؤ.

بلکې زما خو دا دعوې ده چی زما محبوب پیغمبر ﷺ ساقی کوثر شافع محشر سیرت عالم چی یی ځنګه ګنړي. نو هغه به د سرکارِ دو عالم ﷺ په تعریف کولو مجبور شی. لهذا د وخت د کمی دوجی نه زه خپل تقریر ختمول غواړم. والسلام

"وما علينا الا البلغ المبين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# عظمت صحابه رضي الله عنهم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

''محمد رسول الله والذین معه اشداء علی الکفار رحماء بینهم'' صدق الله العظیم.
وقال النبی ﷺ اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم اوکما قال علیه السلام.

محترمو استاذانو او زما د بزم د تقریرونو تکړه ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع ډیره لویه اهمه، اکرمه، اعظمه، افضله، اعلي او بالاده. چې دا موضوع د "عظمت صحابه رضي الله عنهم " ده.

اوریدونکو ورونړو! تاسو ډیر ښه پیژنئ چې کومو خلقو د نبی اکرم ﷺ فخر دو عالم فخر مجسم شافع محشر، ساقی کوثر صحبت اختیار کړیدی، ایمان راوړی دی نیک اعمال یې کړیدی او د ایمان په حالت کښې ورته مرګ راغلی دي. نو داکس صحابی رسول دي. او دا خبره هم د ورځ په شان واضحه ده. چې صحابه کرام رضي الله عنهم د دین بنیاد دي. د دین خورونکي وه. هغوی د حضور ﷺ نه براه راست دین حاصل کړو.

او مونږ ته یې راورساوه دا هغه مبارك جماعت دی. چې رب کائنات د خپل محبوب ﷺ د محبت دپاره خوښ کړ چې هغوی ښکه د دی اُمت افضل ترین جماعت وه. زړونه یې پاك وو. علم ئې ډېر وه. د وحی انور نه یې وجودونه منور وه. چې په حقیقت کښې عملی قرآن وه. تکلف او تصنع به پکښې نه وه جذبه اسلام به په کښې موجود وه. د اُمت محمدیه انتهائی غمخوار وه. هر وخت په سنت نبوی مامور وه.

ایمانونه یې دا یو مضبوط کانې هم کلك وه. چې د هغه پخه ډله وه چې د هغې استاد رسول الله ﷺ وه. د هغوی نصاب کتاب الله وه. درسګاه یې بیت الله وه او طریقه یې سنت نبی الله وه.

قدرمنو ملګرو! دا وجه ده چې الله تعالی د صحابه کرامو رضی الله عنهم دې مقدس ټولګی ته کله په قرآن مجید کښې اولٰئك هم المفلحون فرمائی کله اولٰئك هم المؤمنون حقًا فرمائی. کله د هم الراشدون صفت ورکوی. او کله د اولٰئك الذين امتحن الله قلوبهم للتقوٰی. فرمائیلو سره د هغوی د تقوٰي شاهدي ورکوی. کله د هغوی تعریف په اولٰئك هم الفائزون سره ورکوی. او کله ورته د رضی الله عنهم سند جاری کوي. آخر داسې ولې؟ دا هغه صحابه دی چې د وعدې پوره کونکی او د قول رښتیا کونکی وه. د حیا جامه او د عصمت تصریرونه وه. کومو چې د خپل نبی د عزت د خاطره اسلام د عزت د خاطره د الله جل جلاله د پوره دین پوره دنیا کښې خپرولو د خاطره بیبیانی کونډې کړی. اولاد یې یتیمان کړل کوره نه بې کوره وطن نه بې وطنه دوی په پوره دنیا کې د اسلام بیرغ اوچت کړ.

زما محبوب ﷺ فرمایلی دی چې زما صحابه رضی الله عنهم د ستورو په شان دي. چا چې د کوم یو اقتداء وکړه هدایت به ومومي.

یو بل ځای کښې فرمائی: چا چې زما دصحابه ؤ سره محبت وکړه ګویا هغه زما سره محبت وکړ، او چا چې د دوی سره دشمنی وکړه نو هغه زما سره دشمنی وکړه.

زما خوږو مسلمانانو ورونو! سوچ وکړی غور وکړی چې زما د نبی دی جانثارو ته دا مقام څنګه حاصل شو، د الله تعالی رضامندی ددوی ته څنګه ملاو شوه. نو د تاریخ کتابونه وګوری چې صحابه کرامو رضی الله عنهم د دین اسلام دپاره څومره قربانی ورکړي. او د دین دپاره یې کوم تکالیف برداشت کړل. چونکې حضرت بلال رضی الله عنه په ګرمو شګو څملولی شو. حضرت خبیب رضی الله عنه به په انګارونو څملولی شو. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خاندان پرېښودلو مجبوره کړی شو. حضرت عثمان رضی الله عنه په حجره کښې قید کړی شوی وؤ. حضرت سمیه رضی الله عنها او حضرت یاسر رضی الله عنه په ډیر ظلم سره شهیدان کړی شول. حضرت ابو ذرغفاری رضی الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com

ووهل شو. حضرت عمیرؓ په بیړو کښې قیدی کړی شوی وه. حضرت حذیفه سهمیؓ به په اوبو کښې ډوبولی شو. لیکن دا خبره محال ده. چې د هغوی په استقامت کې څه فرق راغلی وه. ناممکن ده چې د هغوی په ایمان کښې څه تبدیلی راغلی وه. بلکې د دی تکلیفونو سره به د هغوی په ایمان کښې نور هم زیاتی راتلو او د هغوی د ایمانی قوت نه به کفریه طاقتونه لړځېدل. ایوان قیصر و کسرٰی کښې به یو شور جوړ شو.

د اللهﷻ په ځمکه به د اللهﷻ نظام جوړېده. او د دغه صحابه کرامو ؓ دوجی نه به ټوله دنیا کښې اسلام خپرېدو.

اوریدونکو وزونو! بلکې زه خو وایم چې د تمام قرآن خلاصه صحابهؓ دی تمامو انبیاؑ د ژوند خلاصه صحابهؓ وه. پیغمبرﷺ د مکی او مدنی ژوند خلاصه صحابهؓ وه. د نبی اکرمﷺ د وینا خلاصه صحابهؓ وه. دا نبیﷺ دا افعالو نچوړ صحابه وه.

د نبیﷺ د اخلاقو خلاصه صحابهؓ وه. بلکې زه یو قدم مخکښې ځم، چې زما د محبوبﷺ د رب د ربوبیت خلاصه صحابه دي او زما صحابه کرامؓ د نبی اکرمﷺ د پیغمبری خلاصه وه. والسلام.

"وما علینا الا البلغ المبین"

# د تمامو پريشانو حل لمونځ

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم
بسم الله الرحمن الرحيم
وامر اهلك بالصلوة، (صدق الله العظيم) وَقَالَ النبي من فاتته صلاة فكانما تراهله وماله، اوكما قال عليه السلام.

محترمو استاذانو او زما د بزم ملګرو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن چې ما ته په کومو خبرو د کولو حکم راکړل شوی دی، نو هغه د تمامو پريشانو حل مونځ دی.

اوريدونکو وروڼو! مونځ د دين ستن ده. افضل جهاد دی. د مؤمن نور دی. د سترګو يخوالی دی. د روح غذا ده. د دشمن دپاره اسلحه ده. قبر کښې رڼا ده. منکرنکير د سوال جواب دی. د قيامت د ګرمی سايهٔ ده. د اعمالو د تلی وزن دی. د جهنم دپاره شپول دي. د جنت د دروازو کنجی ده.

محترمو اوريدنکو: د حضور ﷺ ارشاد پاك دی. چې زما په امت باندی الله جل شانه د ټولو نه لومړی مونځ فرض کړی دی او د قيامت په ورځ به د ټولونه مخکښې د مونځ په اړه سوال کولی شی. د کوم سړی چې مونځ صحيح راووته د هغه به باقی اعمال هم درست وی. او د چا چې مونځ خراب راووته د هغه به پاتي اعمال هم خراب وی.

محترمو اوريدونکو! مونځ هغه اهم عبادت دی چې د دنيا او آخرت د خوشحالو ضامن دی. او مونځ هغه کامل رياضت دی، چې د روزی رابښکونکی دی. رحمت محافظ دی د ناروغيو ختمونکی دی. زړه ته تقويت ورکونکی دی، مخ ته نور ورکونکی دی. اعضاء کښې چُستی پيدا کونکی دی. لبون توب لره ختمونکی دی. عذاب الهی دفع کونکی دی. بلکی زه خو وايم چې مونځ هغه افضل نعمت دی چې د شيطان نه

Maktaba Tul Ishaat.com

لري والي او د رحمان سره نزديکت پيدا کونکی دی.

د نبی اکرم ﷺ راشاد دی: "من فَاتَتْهُ صَلَاةٌ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ" يعني چې د کوم سړی نه يو مونځ هم پاتې شو. هغه داسې دی چې د هغه د کور خلق او مال ټول تباه و برباد شوه.

حاضرينو! که چيري تاسو روحاني او جسماني ناروغيو نه د معيشت د تنګۍ نه کاروبار تاوان نه دشمنانو د دشمنۍ نه، اهل عيال نه نافرمانۍ نه او د ټولونه لوی د آخرت د عذاب نه بچ کيدل غواړی اود ځان صحت غواړی نو بيا دا خبره ضروری ده چې د لمونځ پابندی شروع کړی. پدی کښې د ټولو پريشانيو علاج دی.

"وما علينا الا البلغ المبين"

# مُشکل کُشا څوک

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.
بسم الله الرحمن الرحیم
ایاك نعبد وایاك نستعین. (صدق الله العظیم) وَقَالَ النبی ﷺ إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ او کما قال علیه السلام.

محترمو استاذانو او زما د ګلشن توحید شاه ځلمیو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه په کومه موضوع تاسو سره مخامخ شوی یم. هغه ده مُشکل کشا څوك دی.

محترمو اوریدونکو! کله چې زه د لغت کتابونه راواخلم و ګورم نو په هغی کښې ماته د مشکل کشا معنی، ورکونکی، تکلیف لرې کونکی په نظر راشی چې د خالق رب السموات و الارض صفت دی. لیکن کله چې زه د ځان نه شاوخوا نظر واچوم نو ماته د الله تعالی صفات په بندګانو کښې هم ملاؤ شی.

او نن چې مسلمان د الله ﷻ ځینې صفات په بندګانو کښې وګوری نو بغیر د ویرې د هغوی نه مدد غواړی. او د ضرورت او مُصیبت په وخت کښې بغیر د څه شك شبه نه د هغوی نه د حاجت پوره کولو سوالونه کوی. او د یارسول الله یاغوث چغې وهی. او د الله ﷻ نیك بندګان د الله تعالی سره په نظام قدرت کښې شاملوي. او خپل ایمان خرابوي او خپل نوم د کفارو په لسټ کې لیکی.

لهذا ولی کامل شیخ فرید الدین رحمة الله علیه فرمائی: چې مصیبت او پریشانی کښې د الله ﷻ نه علاوه د بل چا نه مدد مه غواړی. ځکه چې مددګار صرف الله پاك دی. کوم سړی چې د الله ﷻ نه علاوه د بل چا نه مدد غواړی. د هغه نه بل لوی ګمراه نشته دی.

قدرمنو اوریدونکو! ما قرآن کریم خلاص کړو نو د لومړی صفحې

Maktaba Tul Ishaat.com

نه دا آواز راغلو. ایاك نعبد و ایاك نستعین. ای زما بنده ته به عبادت صرف زما کوې، او مدد به صرف مانه غواړې. ای زما محبوب پیغمبر ﷺ هسې نه چې داسې وشې چې زما بندګان ماهیر کړې. او ای زما محبوبه په خپل امت باندې د هر مونځ په هر رکعت کښې دا آیت ضروري کړه.

او هغوی ته قرآن کریم ووایه. چې آدم علیه السلام د جنتي جامو په لرې کیدو باندې چاته اواز وکړو. نوح علیه اسلام د طوفان په چپو کښې چا نه مدد وغوښتلو. یونس علیه السلام د ماهي په خېټه کښې د چانه مدد وغوښتلو. زکریا علیه السلام د نوی کال په ژوند کښې د اولاد سوال د چا نه وکړو. ایوب علیه السلام د ناروغیو شکایت چا ته وکړو. ابراهیم علیه السلام د نمرود په اور کښې د چا نه مدد وغوښتلو. یوسف علیه السلام د کنعان په کوهي او دعزیز مصر په جیل کښې د چا نه مدد وغوښتلو.

بلکې زما دعوی ده که چیرې د الله تعالی نه سوا د بل چا نه مدد غوښتلی شوی نو محمد مصطفی احمد مُجتبیٰ ﷺ نه به غوښتلی شو. ځکه چې د هغوی د ذات په باره کښې پخپله الله تعالی فرمائي: "لولاك لما خلقتُ الافلاك" لیکن کله چې زه دغه محمد ﷺ ته وګورم نو هغه د مدینې په کوڅو کښې د چا نه مدد غواړې. د اُحد په میدان کښې د چا نه مدد غواړې. د بدر په ورځ کښې سر په سجده پروت د چا نه مدد غواړې

د اور په هغه سختو کانو کښې یې چا ته لاس اوچت کړی دی. د کعبې غلاف نیولی د چا نه مدد غواړې. او پوره ژوند کښې خپل اُمت ته إِذَاسَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ- درس ولی ورکوي.

سامعینو ورونو! اوس لږ په زړه لاس کیږدی او په انصاف سره ووایې چې مونږ له د چا نه مدد غوښتل پکار دی چا تا مُشکل کُشا ویل پکار دی. چا ته خپل حاجت روا ویل پکار دی. بلکې زه

يو قدم مخکښې تلل غواړم. چې الله خالق دی ګواه پرې تول پيغمبران دی. الله ﷻ مالك دی ګواه پرې تول نبيان دی. الله ﷻ مُشکل کُشا دی. ګواه پرې تول رسولان دی. خدای پاك ورکونکی دی ګواه پرې تول انسانان دی. الله ﷻ غوث دی ګواه یې تول انسانان دی.

ليکن کاش مسلمانانو! چې په تاسو آخر څه وشو تاسو ولی نورو ته داتا او مُشکل کُشا وائی. تاسو څنګه موحدين ئی تاسو خو د الله تعالى بندګان د الله پاك په صفاتو کښې شريکوی. او د اسلام اصول د خمکې د لاندی کوی. لهذا دا بالکل ناانصافی دی. والسلام

"وما علينا الا البلغ المبين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د جهاد د پريښودو سزا

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وعسى ان تكرهوا شيئا وهو خيرلكم وعسى ان تحبوا شيئا وهو شرلكم. وَقَالَ النَّبِي ﷺ اَلْجِهَادُ مُخْتَصَرُ طَرِيْقٍ اِلَى الْجَنَّةِ.

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو اوريدونکو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زه ستاسو په وړاندې د جهاد د پريښودلو په موضوع د خپلو ناقصو خيالاتو اظهار کوم.

محترمو اوريدونکو! جهاد في سبيل الله ته په اسلامي تعليماتو کښې يو خاص بنيادي حيثيت حاصل دی. او ددې په سر باندې د قرآن او حديث يو مضبوط غر ولاړ دی.

او دا د جهاد منکر بېشکه کافر دی. او په دېکښې کوتاهي کول يو بدفعل او نامناسب کار دی. د رب کريم اعلان دی. كتب عليكم القتال. په تاسو جهاد فرض دی. زما نبي ﷺ فرماني. "اِذَا تَرَكْتُمُ الْجِهَادَ فَسَلَّطَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الذِّلَّةَ" يعني چې کله تاسو جهاد پرېږدي نو الله تعالى به په تاسو عذاب مقرر کړي.

محترمو ورونو! اوس راشئ لږه جائزه اخلو چې دا فريضه زمونږ په زندګی کښې هم شته او که نه، په مسلمانانو کښې دجهاد جذبه شته او که نه مسلمانانو ځوانانو کښې د شهادت شوق شته او که نه د مسلمانانو په دنيا کښې د جهاد ولوله شته او که نه کچېرته وی نو يقين وکړه چې په دی وخت کښې په مسلمانانو څومره سزاګاني دی نو هغه ټول صرف او صرف د ترك جهاد دوجی نه دي.

محترمو اوريدونکو! نن زمونږ د وړاندې د بابري مسجد غونډی

مقدس جماعت شهید کړی شو. کشمیر کښې د عزت څادرونه تارتار شول. د اسلام سرفروش هر طرفته شهیدان کیږي. د اسلام د توحید بچې اور ته حواله کیږي. د اسلام لورګاني په قیدونو کښې اچول کیږي. ماشومان بچي د نیزو په سرونو کښې اوچتیږي. په زرګونو میندې د خپلو بچو خراب حشر ویني. د علماء طلباء ږیرې په زور زور په موټو ویستل کیږي. اهل حق علماء پانسي کولی شي. او د رب په کلمه ویونکو باندې بمونه ورولی شي.

ای مسلمانانو! په چیچنیا کښې د رب د نوم اخستونکي دړ پدړ او خاورې په سر دي. د توحید په چیغو وهونکو څمکه تنګه شوه. د پیوښبونکي بچې په هوا کښې الوزولی شي. په عراق کښې هم په مسلمانانو د ظلمونو حد وشو. شیرخوار بچې د لوږې نه چغې وهي. د دنیا بدترین کافر امریکه د مسلمانانو عزتونه ختموي. بې یارو مددګار فلسطینیان په اورونو سوزولی شي. د مسلمانانو لورګاني مشرکان په خپله پنجه کښې راوستل غواړي. او د ټولې دنیا کفار په یو فلیټ فارم را جمع شوي دي.

لیکن افسوس صد افسوس. بیا هم مونږ د غفلت په خوب ویده یو. زمونږ ایماني غیرت نه بیداره کیږي. په مونږ کښې اوس هم د جهاد جذبه نه راځي. ای د الله ﷻ بندګانو مؤمن خو بهادر ؤ مؤمن خو د الله ﷻ نه سوا د هیچا نه نه یریږي. مؤمن خو د توری او چړې کلک عاشق و. مؤمن خو د شهادت غوښتونکی ؤ.

زما غیرتمنو ورونو! زما خبره واورئ اوځانی پوهه کړئ. او په زړه کښې یې واچوئ چې د کامل مسلمان جوړیدو دپاره او د شوق شهادت دپاره دومره ضروری ده. څنګه چې د جسم دپاره روح، او جسم دپاره رڼا سپوږمی دپاره وفک، ګلونو دپاره خوشبو، مرغو دپاره چغې حسن دپاره ښائست، وریځو لپاره جوځیدل زړونو دپاره ذرد چې په کښې چمك نه وه

Maktaba Tul-Ishaat.com

نو څه لمر چې په کښې دمك نه وه نو څه سپوږمۍ چې په کښې درد نه وي نو څه زړه چې په کښې روح نه وي نو څه بدن چې په کښې جذبه د جهاد نه وي نو څه مسلمانی.

زما د نبی کریم ﷺ ارشاد مبارك دی. "من مات ولم یغزو لم یحدث به نفسه مات علی شعبة من نفاق."

ای مسلمانانو! ای دا خالد بن ولید رضی الله عنه بچو لاړشی او څی او ایمانی توره واخلی جهاد ته لاړ شی او د شیطانی طاقتونو خلاف د یهود او نصاری د سازشونو خلاف د قادیانیت خلاف ظالم حکمرانانو خلاف د جهاد اعلان اوچت کړی. او عالم ته یو باور ورکړی. والسلام

"وما علینا الا البلغ المبین"

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

## د نبی کریم ﷺ بعثت یو لوی نعمت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِینَ إِذۡ بَعَثَ فِیهِمۡ رَسُولاً مِّنۡ أَنفُسِهِمۡ سورة (۳) آل عمران: ۱٦۴

وَقَالَ النبی ﷺ إِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً. (اوکما قال علیه السلام)

محترم صدر جلسه او عزتمنو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه د دی محفل بابرکت دوجی نه چی کومه موضوع ستاسو د وړاندی بیانوم هغه د بعثت نبی اکرم ﷺ.

اوریدونکو ورونو! د الله تعالی ارشاد پاك دی: وان تعدوا نعمة الله لاتحصوها. لهذا د الله تعالی نعمتونه دومره زیات دی چی د هغی شمار ل نا ممکن دي. محال دي. کچېرته د کائناتو د اول نه تر آخره پورې انسانان

په دې کوشش وکړي. چې د الله تعالی نعمتونه و شماري. نو د انسانانو سلسلې خو به ختم شي. جنات به هم عاجز شي. دریابونه او سمندرونه به وچ شي. ونې او کانې به فناشي، لیکن بیا به هم د الله تعالی نعمتونه باقي دي.

عزتمنو ملګرو! د الله تعالی په دې بې شماره نعمتونو کښې د ټولونه لوی نعمت د آقاء نامدار سرور کائنات فخر موجودات محمد عربي ﷺ ذات پاك مقدس منور دی. چې هغه الله تعالی د نعمت په توګه دنیا ته رالیږلی ؤ. بیا دا هم پوخ حقیقت دی چې رب لم یزال په خپل یو نعمت څه احسان نه ګڼل لیکن قربان دې شم. د محبوب ﷺ نه چې د هغه په بعثت بې موږ ته و فرمایل. لقدمن الله علی المؤمنین اذابعث فیهم رسولًا زما بندګانو په تاسو ډیر لوی احسان وکړ چې خپل محبوب ﷺ تاسو ته راولیږه. او په یو حدیث قدسي کښې الله پاك فرمائي. ای زما محبوب که چیرې ته یې نه پیدا کولی نو دا ځمکې آسمانونه او ددې په درمیان کښې چې څه دي خواه هغه د آسمان سره خبرې کونکی غرونه ولې نه دي. هغه پړکېدونکي ستورې سیارې ولې نه دي په دې هر وخت په خپله مستې کښې راتلونکی سمندرونه ولې نه دي. او دا ټول کانې ونې بوټې ولې نه دی دا یه یې نه وای پیدا کړې.

ای زما نیازبینه پیغمبره ﷺ د ا اعلان وکه قل یاایها الناس انی رسول الله الیکم جمیعًا. ای انسانانو خواه عرب یې یا عجم مشرق والا یې یا مغرب والا نن والا بې یا آئنده د قیامت پورې ټولو د پاره زه رسول رالیږل شوی یم.

حاضرینو قدرمنو! زما محبوب پیغمبر ﷺ ساقي کوثر، شافع محشر، د راتلو دوجې نه د دنیا انسانانو ته شعور ملاؤ شو. د تعلیماتو نور ورته ملاؤ شو. د هدایت دستور ورته ملاؤ شو. د عدل او انصاف منشور ورته ملاؤ شو. ښځو ته حقوق ملاؤ شول. او بچوته شفیق او

Maktaba Tul Ishaat.com

رحمت ملاؤ شو.

سرورِ کائنات ﷺ فرمایلي دي. انما بعثت معلماً. زه استاذ رالیږل شوی یم. دپاره د دې چې تاسو ته علم درکړم او یو ځای کښې فرمائي: انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق. زه دې دپاره رالیږل شوي یم چې تاسو ته پاکیزه اخلاق مکمل پیش کړم، او ستاسو دنیا ښائسته کړم.

لهذا د حضور ﷺ دې تعلیمي او تربیتي انقلاب دنیا بدله کړه. داسې انقلاب چې د هغه مثال په ټوله دنیا کښې نه ملاویږي. کوم انقلاب چې بازارونه بدل کړل کلي بدل کړل. عقائد بدل کړل. د سوچ انداز بدل کړو لاري یې بدلي کړې. منزلونه یې بدل کړل. معیشت یې بدل کړو. زندګي بدلي کړې. د زندګو رو‌خونه یې بدل کړل ظاهر یې بدل کړو. باطن یې بدل کړو. او تمام انسانیت یې بدل کړو.

زما هم سبق ملګرو! که چیرې زه دا ووایم چې الله تعالی دوه قرآنه نازل کړي دي. نو دا به غلطه نه وي. یو علمي قرآن دویم عملي قرآن. علمي قرآن هغه دی چې په کاغذاتو کښې موجود دی او عملي قرآن کښې څه دي کوم څیزونه په علمي قرآن کښې د اقوالو په شکل کښې موجود دي. نو هغه څیزونه په عملي قرآن کښې د حالت په انداز کښې موجود دي.

دغه وجه ده چې کله د مور عائشه ﷺ نه پوښتنه وشوه. چې د حضور ﷺ اخلاق او سیرت څه شی وه. نو ورته یې وفرمایل "کان خلقهُ القرآن" که چیرې د حضور ﷺ سیرت کتل غواړې نو د اول نه تر آخره پورې قرآن و لولئ. او زما د محبوب ﷺ سیرت په کښې مطالعه کوي

که چیرې ته پلار یې نو وګوره چې د حضرت فاطمة الزهرا ﷺ پلار څه کول. که چیرې ته خاوند یې نو وګوره چې د حضرت عائشه ﷺ او د حضرت خدیجه ﷺ خاوند څه کول. کچیرته حاکم او بادشاه یې نو وګوره چې د مدینې حاکم څنګه ؤ, کچیرته ته مزدور

يې نو وګوره چې د مکې مکرمې په غرونو کښې بيزې څرونکې مزدور څوك ؤ. كه چيرې ته تاجر يې نو وګوره چې سركار دوعالم ﷺ به د شام په تجارت كښي څه كول. حضور ﷺ به عبادت هم كوو. تجارت هم، ذراعت هم. سياست هم. معيشت هم. مزدوري هم. تبليغ هم.جهادهم. د زندګی يوه شعبه يې هم نه ده پريښودې. چې په هغې كښې د نبی اكرم ﷺ ذات مبارك د نمونه په طور نه وي موجود. لهذا علمی قرآن دې طرف ته اشاره كولو سره وفرمايل: چې لقد كان لكم فی رسول الله اسوة حسنة.

د الله تعالى نه دعا غواړو چې مونږ د نبی اكرم ﷺ په نقش قدم روان كړی. او د داسې اتباع توفيق راكړی. چې څنګه صحابه كرامو ﷺ يې اتباع كړې وه.آمين

"وما علينا الا البلغ المبين"

Maktaba Tul Ishaat.com

# اسلام په توره خپور شوي يا په اخلاق

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

لَآ إِكْرَاهَ فِي ٱلدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَيِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾ سورة (۲) البقره: ۲۵۶

وَقَالَ النبي ﷺ فتحتُ المدينة بالاخلاق. اوكما قال عليه السلام.

محترم صدرِ جلسه او حاضرينو ورونو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زه ستاسو په وړاندې په دې با بركت مجلس او محفل كښې چې په كومه موضوع يو څو الفاظ د خلۀ نه ويستل غواړم. نو هغه دا ده چې آيا اسلام په توره خپور شوى دى يا په اخلاقو!

محترمو اوريدونكو! لفظ د اسلام د سلامۍ نه راوتلى دى. چې هغه د امن وامان او ورورولئ يوه ظاهره چشمه ده. چې د هغې نه صرف مسلمانان نه بلكې كفار هم خبر دى.

لهذا زمونږ نبى كريم ﷺ په مكه معظمه كښې يواځې د اسلام دعوت شروع كړو. چې د هغې د حقانيت د وړاندې د وخت لوى لوى فرعونيانو سر كيښودلو ته تيا شول. د دين اسلام د دعوت والو سرونه وهونكي پخپله په دين اسلام سر وركونكي جوړ شول. د دين حق ورانونكي پخپله د دين حق داعيان او خورونكى جوړ شول. غرض دا چې د نبى اكرم ﷺ د اخلاق حسنه په بركت سره د "يدخلون في دين الله افواجًا" مصداق وګرځيدل

محترمو اوريدونكو! نن يورپ ډير په زور و شور سره دى. د هغوى په وړاندې ډير ښه ښه عقلونه مايوس شول. د كفارو ميډيا په خپلو

جذباتو کښې بې قابو شوه. کوم خلق چې د اسلام د سیلاب نه مدهوش وه. د کفر او د دروغو شیطاني جالونو کښې پراته وه. هغوی دا پروپیګنډه راوویستل، چې اسلام د تورې په زور خپور شوی دی. نو هغوی د دین اسلام دعوت تبلیغ د خپو لاندې کول غواړي.

لیکن زما خوږو رونړو! دا د هغوی سوچ او خیال دی. د تاریخ یو وړوکې او لږ شان پیژوندونکې هم دا منې چې اسلام د اخلاقو دوجې خپور شوی دی د تورې دوجې نه دی خپور شوی. بالفرض که مونږ ومنو چې اسلام د تورې په زور خور شوی دی. نو ما ته ووایې چې نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته کومه توره ښودلې ده. عمرفاروق رضی الله عنه غوندې بهادر ته کومه توره ښودلې وه. د عثمان غني رضی الله عنه غوندې سخي انسان کومه توره په اسلام کښې داخل کړی وه. حضرت علي رضی الله عنه کومه توره په اسلام کې داخل کړی وه. د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه غوندې جرنیل د چا توره یرولی شو. د ابو دجانه رضی الله عنه غوندې مردمیدان د چا تورې د نبی اکرم ﷺ په قدمونو کښې کینوو. زید بن حارث رضی الله عنه چا په غلامې مجبور کړو. د ابوعبیده رضی الله عنه په شان جرار جرنیل د چا تورې اسلام ته داخل کړو. حضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه د چا تورې مسلمان کړو. د اسلام د ابتداء نه تر فتح مکه پورې د مسلمانانو د ټولو نه لوی دشمن ابو سفیان رضی الله عنه چا مسلمان کړی وه. غرض دا چې یولاك خلیریشت زره صحابه کرام رضی الله عنهم چې ډیر لوی جنګجووه هغوی د چا تورې مسلمانان کړل. بلکې زه یو قدم نور هم مخکښې ځم. چې په هر دور کښې د اسلام د ورانولو کوشش کیږي.

لهذا حضرت بلال رضی الله عنه باندې د اسلام په پرینښودلو د تورې زور شوی وه. لیکن هغه دین پرې نه ښودو. حضرت خباب بن ارت رضی الله عنه به په انګارونو کینولی شو. لیکن دین اسلام یې پرینښودو. حضرت سمیه رضی الله عنها په نیزه ووهلی شوه. لیکن دین یې پرینښودو. حضر خبیب رضی الله عنه پانسي کړی شو. لیکن دین یې پرینښودو. حضرت حذیفه سهمي رضی الله عنه په اوبو کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

ډوب کړی شو. لیکن دین اسلام یې پرېنښودو.

د اسلام ورونو! تاریخ شاهد دی چې جهاد په مدینه منوره کښې شروع شوی دی. او اهل مدینه د رسول اللهﷺ د هجرت نه مخکښې مسلمانان شوی وه. آخر دوی کومې تورې په مسلمانیدو مجبوره کړی وه. او په مکه معظمه کښې په سوونو کسان اخر کومی توری مسلمانان کړی وه. بیا د هجرت مدینه نه مخکښې څه صحابه کرامو﷢ حبشې ته هجرت کړی وه هلته ده قریشو سره د مسلمانانو مناظره وشوه. لهذا نجاشی بادشاه د حضرت جعفر بن ابی طالب﷛ د ژبې نه قرآن لوستلو سره په ژړه شو.او د رسول اکرمﷺ د رسالت او د الله تعالی د وحدانیت اقرار کول او ایمان راوړل آخر په کومه توره شوی وه.

ای ما ته خبر راکړی. هغه کومه توره وه چې هغې د روم نه حضرت صهیب رومی﷛ اسلام ته راوسته. د فارس نه یې حضرت سلمان فارسی﷛ راوسته د یمن نه یې ابوهریره﷛ راوسته روس نه یې حضرت طفیل دوسی﷛ راوسته قبیله غفار نه یې ابوذرغفاری﷛ راوسته او د حبشه نه ئې حضرت بلال﷛ راوسته.

عزتمندو ورونو! شاید ستاسو په ذهن کښې به دا سوال وی. چې که چیری اسلام د توری سره نه وی خپور شوی نو بیا مسلمانانو جهاد ولې کوی. نو زه تاسو ته وایم. د جهاد مثال د اپریشن غوندی دی. ځکه چې مرض دوه قسمه وی یو متعدی دویم غیرمتعدی لهذا چې کوم مرض غیر متعدی یعنی خوریدو والانه وی نو هغه په دوایانو سره صحیح کیږی. یا په پټی کولو سره صحیح کیږی. یا مالش کولو سره صحیح کیږی. لیکن د متعدی مرض دپاره دپریشن ضرورت وی. چې هغه مرض تری وویستل شی. دغه شان داسلام دشمنانو کښې دوه قسمه مرضونه دی. بعض هغه دی چې د هغی سره صلحه کولی شی. یعنی هغه مرض د صلحه په مرهم سره صحیح کولی شی. لیکن بعضی کافران داسی مفسد

وی. چی د هغوی علاج بغیر د اپریشن نه ممکن نه وی.

او د دغه اپریشن نوم جهاد دي. نو د جهاد نه خلق مسلمانول مقصود نه دی. بلکی د مسلمانانو حفاظت مقصود دی. لهذا مونږ ټولو ته اخلاق خپلول پکار دی. و السلام

"وما علینا الا البلغ المبین"

❋❋❋❋❋

## دَ تقوىٰ ثمرات

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿۱۰۲﴾ سورۀ (۳) آل عمران: ۱۰۲

وَقَالَ النبی ﷺ اِنّ اولیاءهم المتقون. اوکما قال علیه السلام.

محترمو استاذانو او زما د یو سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چی زه په کومه موضوع باندی شونډی خوځول غواړم نو هغه ده د تقوىٰ ثمرات.

ګرانو اوریدونکو! په دی وخت کښي کچیری تاسو د مسلمانانو د حالاتو جائزه واخلئ. نو په هر ځای کښي مسلمان د غربت ښکار جوړ شوی دی او بې برکتی او مصیبتونو کښي راګیر دي. او په مسلمانانو کښي د بدنیتی او د فسق او فجور مار دی. کوم طرف ته چی ګوری نو مسلمان حیران او پریشان په نظر راځي. آخر دا څه وجه ده. نو زه دا وایم چی د دې وجه صرف او صرف د تقوىٰ کمی دی.

حاضرینو ورونو! تقوىٰ هغه نسخه ده چی د ټول عالم دامن ضامن ده. د باطنی خباثت او فساد خاتمه ده. د آخرت د محاسبې نه د نجات

Maktaba Tul Ishaat.com

ذریعه ده. او تقویٰ هغه لوی نعمت دی. چې د رب په اختیارولو سره د نعمتونو دروازې خلاصیږي. ګناهونه معاف کیږي. او الله تعالی بصیرت کامله ورکوی لهذا قرآن مجید کښې الله تعالی اعلان کوي. ومن یتق الله یجعل له مخرجًا. یعنی چې کوم سړی د تقویٰ ژوند اختیار کړی. نو الله تعالی په مشکل او سخت وخت کښې د هغه کفالت کوی. ما د قرآن نه پوښتنه وکړه نور به څه ملاو شی. نو قرآن جواب راکړو. "وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ" سورهٔ (۶۵)اطلق: ۳ یعنی د تقویٰ د انسان دپاره الله تعالی د هغه ځای نه رزق ورکوی چې د هغه په ګمان کښې هم نه وی. ما د قرآن نه پوښتنه وکړه نور به څه ملاوشی. نوقرآن اووی. "وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ" سورهٔ (۶۵)آیت: ۵) الله پاك به د هغه تمام ګناهونه معاف کړی.

ماعرض وکړو نور به څه ملاوشی نو قرآن مجید جواب راکړو. "وَيُعْظِمْ لَهُۥٓ أَجْرًا" الله پاك به د دی اجروثواب ډیر زیات کړي. ای قرآن نور به څه ملاو شی. "يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِن تَتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا" سورهٔ(۸) انفال: ۲۹) ای خلقو که چیری تاسو تقوی اختیار کړی. نو تاسو ته به قوت ملاو شی. چې دهغې په ذریعه سره به د حق او باطل توحید او شرك سنت او بدعت کښې فرق او تمیز کولی شی.

محترمو اوریدونکو! توجه وکړے ما نورې پوښتنې هم د قرآن نه وکړې. لږ اووایه نور به څه ملاو شی. قرآن وفرمایل. "ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ" سورهٔ (۱۰)یونس: ۶۳-۶۴)

ای زما بنده ته تقوی والاژوند اختیار کړه. نو زه به ستا دنیا او آخرت ښائسته کړم، او د دنیا او آخرت د خوشحالو نه به ستا لمن ډکه کړم

زما مسلمانانو ورونو! تقوی هغه خزانه ده چې په دنیا کښې هم پکار راځي قبر کښې هم پکار راځي، حشر کښې هم او جنت کښې هم پکار راځي. د الله تعالی نه دُعا غواړو، چې مونږ ته د تقوی میوې را نصیب کړي. و السلام

"وما علینا الا البلغ المبین"

❊❊❊❊❊

## د پردې اهمیت

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

"یَٰٓأَیُّهَا ٱلنَّبِیُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِینَ یُدۡنِینَ عَلَیۡهِنَّ مِن جَلَٰبِیبِهِنَّ" سورة (۳۳) الاحزاب: ۵۹) صدق الله العظیم

وَقَالَ النبی ﷺ المراة عورةٌ (اوکما قال علیه السلام)

محترم صدرِ جلسه او عزتمندو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې ما ته په کومه موضوع باندې د خلې خوځولو موقع راکړل شوې ده نو هغه ده "د پردې اهمیت"

گرانو حاضرینو! اسلام د دنیا هغه واحد او پاك مذهب دی چې هغې د زندگۍ یوه لمحه هم نه ده پرېښودې. بلکې د هر ځای کښې پوره رهنمائي کوي که عبادت وي، یا سیاست، تجارت وي یا زراعت زمینداري، صحت وي یا بیماري هغه حضر وي یا سفر که هغه واده وي یا غم خواه زندگي وي یا مرگ، معاشري زندگي وي یا ازدواجي زندگي، غرض دا چې په هر ځای کښې اسلام یو منفرد او ځان ته حیثیت لري، چې د هغې نه تمام مذاهب او دینونه ناخبر دي.

اسلام چې د کومو خصوصیاتو په وجه د دنیا لوی افضل، کامل

Maktaba Tul Ishaat.com

او اکمل دين يا مذهب کيدو شرف او عزت ورته حاصل دی. تو په دغه خصوصيات کښې يو دا دی چې اسلام ښځو ته په معاشره کښې نه بلکې په بين الاقوامی سطحه سره چې کوم مقام ورکړ نو د هغی د مثال پيش کولونه دنيا عاجزه او پريشانه ده او حيرانه ده چې د هغی بيان په دې مختصر وخت کښې مشکل نه بلکې ناممکن دی.

محترمو اوريدونکو! ليکن کوم خای چې اسلام ښځو ته دومره لوی او اوچت مقام ورکړی پدی نو د هغوی د فائدو دپاره د هغوی د رهنمائي دپاره د هغوی د حفاظت دپاره د هغوی د عزت او ناموس دپاره او د هغوی د تحفظ دپاره دی پدی مکمل اهتمام کړيدی. چې هغه زمونږ د اسلامی معاشرې يوه شيشه ده. زمونږ د دين يوه ننبه ده. دپا کو ښځو سرمايه ده. زمونږ د ايمانی غيرت معيار دی. او زمونږ د ښځو حفاظت دی.

زما خوږو ورونړو! نن چې مونږ معاشره کښې کوم خواه هم ګورو نو هر طرف بې پردګی ده ډير نام نهاد مسلمانان چې د عصری علومو ماهرين دی نو هغوی د امريکه، يورپ او هغه بد دينه او زنديق ته کتل بلکی د هغوی د ترغيب او تحرير نه متاثره کيږی او د بې پردګی درس درسوي. د خپلو ښځو او لورګانو بې پردګی اخلی. خپل عزت او ناموس په کلبونو کښې ختموی. بازارونو ته خی او خپل عزت غورځوی. د خپلو لورګانو او د ښځو خوبصورتی فخر ګنړي. د علماء په منع کولو باندی علماء ته دقيانوسيت القابات ورکوی. او دې علماؤ ته د ترقی په لاره کښې خنډ جوړيدل ګنړي. دا سراسر ظلم او زياتی دی.

محترمو اوريدونکو! نن ټوله دنيا کښې اغواء کول زنا بالجبر د يری دوجی نه قتلول، او دغه شان نور ډير بد اخلاقی او تباهی پيدا کيږی نو په هغی کښې د ښځو د بې پردګی ته ډير لوی دخل حاصل دی. د دی وجی نه اسلام ښځو ته د پردی غوندی عظيم نعمت او دولت ورکړو. او معاشره يی د تباهی او بربادي نه وساتله او اسلام عالم انسانيت ته د سکون قلبی، حقيقی مسرت او خوشحالی خای ور نصيب کړو. او بيا دا هم يو حقيقت دی چې کوم

شی قیمتی او ګران وی. نو خلق هغه پټ وساتي، لهذا ښځه هم د اسلام یوه لویه قیمتی سرمایه ده دی وجه نه دی لره هم پټ کیښودل پکار دي.

زما ورونو! چی کله الله تعالی او رسول اللهﷺ ددې ډیر تاکیدی حکم وکړو. خو اوس که ټوله دنیا ددې مخالف شی. ټول ډاکټران دی لره د صحت مضر وګرځوی، نام نهاد مفکرین او مبلغین ئی د ترقی د لارې یو خنډ وګرځوی. د یورپ هغه ړوند عقل پدره کول په ښځو ظلم ولی ونه ګڼی. پرنګي حکمرانان زمونږ مخالف شی، د اووه(۷) سمندرونو پوری زمونږ داخله بند ولی نشی. نو مونږ به دا ټول برداشت کوو. خو دا ټول به خفه کوو. لیکن الله تعالی او خپل نبی کریمﷺ به نه ناراضه او نه خفه کوؤ. الله تعالی نه امداد او دُعا غواړو چی مونږ صحیح مسلمانان جوړ کړی. او د یورپ هغه ړوند تقلید پریښودل او د اسلام په تقلید د چلیدلو توفیق را نصیب کړی. آمین والسلام

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د ګانو نقصانات

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

"وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ ٱلْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ" سورة (۳۱) لقمان: ۶) صدق الله العظیم.

وَقَالَ النبی ﷺ بُعِثتُ بکسر المزامیر.

محترمو استاذانو او زما د بزم د تقریرونو خوږو ملګرو:

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې ما ته ستاسو د وړاندې په کومه موضوع باندې د ظهار ما فی المضیر حکم را کړل شوی دی نو د هغې عنوان دی "د ګانو نقصانات"

ګرانو اوریدونکو! د حضور ﷺ ارشاد دی: ګانې اوریدل په زړه کښې داسې نفاق پیدا کوی لکه چې اوبه فصل ته پیداوار ورکوی. او بل ځای فرمائی آخری زمانه کښې به څه خلق د دې اُمت داسې وي چې شکلونه به یې مسخه کولی شی او شادوګان او خنزیران به تری جوړیږی. صحابه کرامو ؓ عرض وکړو: یا رسول الله ﷺ! آیا هغه خلق به د دې خبرې شاهدی نه ورکوی چې د الله تعالی نه سوا بل معبود نشته او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول ﷺ او بنده دی. حضور ﷺ وفرمایل: ولې نه بلکې هغوی به مونځ هم کوی. روژې به هم نیسی او حج به هم ادا کوی صحابه کرامو ؓ عرض وکړ نو آخر دې خلقو سره به دا معامله ولې کیږي. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه خلق به د ګانو بجانو آلات خپل کړی.

ای د مجلس حاضرینو! چې ګانا او میوزک هغه زهر قاتل دی چې د مسلمان بنده د مخ نه نور د سترګو نه حیا د ژبې نه ذکر الله د زړونو نه خوف الله د غوږونو نه پاکی د ذهنونو نه صفائی د خبرو او عمل نه نفاست

او معاشرې ته هدايت غوندې قيمتي سرمايه لرې کوي.

لهذا کوم خلق چې د ګانو او بې کاره غزلو اوربدلو کې مشغول وي، نو هغوی ته زما د محبوب ﷺ په دې قول غور کول په کار دی. رسول الله ﷺ فرمايلي دي. ګانې اوريدل ګناه ده او دې سره ناسته فسق او فجور دی. او د دې نه لذت حاصلول کفر دی.

او په يوه موقع باندې رسول الله ﷺ د خپل بعثت او دنيا ته راتللو مقصد بيان کړی دی. او فرمايلي يې دي چې بُعِثْتُ بکسر المزامير. يعنی زه د ګانو بجانو د آلو د ماتولو دپاره راليږلی شوی يم.

الله تعالی ته دعا غواړو چې څه مو وويل او واوريدل په دې باندې د عمل کولو توفيق راکړي او د ګانو بجانو اوريدلو نه حفاظت را نصيب کړي. آمين والسلام

وما علينا الا البلغ المبين

Maktaba Tul Ishaat.com

# ښکلی اخلاق

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ سورة (۳۳) الاحزاب: ۲۱

وَقَالَ النَّبِي ﷺ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا (اوكما قال عليه السلام).

محترم صدرِ جلسه او زما اوریدونکو ورونو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن چې ماته په کومه موضوع باندې د شونډو خوځولو موقع ملاؤ شوې ده نو هغه اخلاق حسنه دي

ګرانو اوریدونکو! انسان طبعي طور سره ضدي دی. نوراني هم دی او ظلماني هم دی. رحماني هم دی او شیطاني هم دی. عالم هم دی جاهل هم. عادل هم دی ظالم هم عامل هم دی غافل هم دی. سیعد هم دی شقي هم دی. متقي هم دی فاسق هم دی نافع د دی مضر هم دی. قانع هم دی او حریص هم، صابر او شکر ګزار هم دی او شریر او ناشکرا هم دی. رؤف او کریم هم دی لیکن قسي ولئیم هم دی. غرض دا چې تمام صفات کریمه او بد صفاتونه ډك دی. او دا هم د انسان په اختیارِ کښې ده چې دی په دې ضریفو کښې په هر يو باندې عمل وکړي

محترمو اوریدونکو! حضور اکرم ﷺ چې خپل امت ته په اخلاقو ډیر زور ورکړی دی نو د هغه د مطالعه کولو نه پس دا خبره په دعوی سره انسان کولی شي. چې د مذهب اسلام ټول تعلیم که په لفظ سره بیانولی شي نو هغه لفظ به اخلاق وي. ځکه چې ښه اخلاق د سړي عزت شرافت او د بزرګۍ علامت دی. د انسان چې د اخلاقو معیار څومره اوچت وي دومره هغه انسان په خلقو کښې محبوب وي. خلقو ته د هغه د خبرو کارونو ،معاملاتو نه فائده رسي او دارنګې د زړه اطمینان ملاویږي. په

انسانانو کښې فخر مجسم محبوب دوعالم ﷺ اخلاق په ټولو انسانانو کښې اوچت دی. چې د هغې شاهدي قرآن کریم په خپله په دے الفاظو سره بیان کړی ده. چې "وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ" یعنی اې دلبره ستاسو اخلاق په یوه لویه مرتبه باندی دي. او حضرت انس رضی الله عنه فرمائی، چې "كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا" یعنی آقا نبی کریم ﷺ خلقو کښې د ټولونه زیات بهترین اخلاقو والاوه. بیشکه دا وجه ده چې د سخت نه سخت دشمن به هم د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د حاضری نه پس سر کیښودو. او د نبی اکرم ﷺ قتل کولو والا به د خپل سر قتل کولو ته تیار یده.

اوریدونکو! د حضور اکرم ﷺ خپل تشریف دنیا ته د راتلو مقصد هم ده بیان کړیدی چې "اِنَّمَا بُعِثْتُ لِاُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْاَخْلَاقِ" یعنی زه د اخلاق حسنه د پوره کولو د پاره دنیا ته رالیږل شوی یم او دایې هم فرمایلي دي چې کامل ایمان والا هغه کس دی چې د هغه اخلاق ښه وی او یو بل ځای کښې فرمائی چې بیشکه په تاسو کښې زما محبوب او خوښ او د قیامت په ورځ د ټولو نه نزدی ماته هغه سړی دی چې د هغه اخلاق ښه وی.

دُعا غواړم چې الله تعالی مونږ ټولو ته د حضور ﷺ په طرز زندگی محبت او عقیدت را نصیب کړي. او مونږ ټولو ته بهترین او ښکلی اخلاق راکړی. آمین والسلام

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# صفائی او پاکیزګی

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تبارك وتعالي "وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ" سورة (۲) البقره: ۲۲۲،
وَقَالَ النبی الطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ (اوكما قال علیه السلام).
محترمو استاذانو او ګرانو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چی ما ته په کومه موضوع باندی د خلهٔ خوخولو موقع ملاو شویده نو د هغه عنوان دی. په اسلام کښې صفائی او پاکیزګی

اوریدونکو ورونو! په اسلام کښې صفائی او پاکیزګی ته ډیر لوی اهمیت حاصل دي. لهذا دین اسلام چی څنګه په پاکی باندی زور راوړی دي چی "وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ" ای محبوب ﷺ خپلی جامې پاکی ساتی.

لهذا نبی اکرم ﷺ به په خپله هم د صفائی ډیر خیال ساته او صحابه کرامو ﷺ ته به ئی هم د هغی تلقین کولو. او نبی کریم ﷺ به د ظاهری او باطنی صفائی ډیر خیال ساته او خپل اُمت ته ئی هم د دی ډیر تقلین کړی دی.

رسول الله ﷺ به همیشه د صفائی خیال ساتهٔ. د ډوډی خوړلو نه مخکښې او وروستو به یی لاس وینځل. مسواك به ئی فرمایهٔ. سر او ږیره به ئی ږمنځ کوله او هغه به یی خلاص نه پریښودل. سرکښې به یی د تیلو استعمال هم کولو. د جمعې په ورځ به ئی د غسل تلقین کولو. که څوک چا وېښته به حراب وه یا نوکونه به ئی لوی وه نو نبی اکرم ﷺ به د ډیر زیات ناراضتیا اظهار فرمایهٔ او صفائی ئی نیم ایمان ښودلی ده.

محترمو اوردیدونکو! یاد ساتی. صفائی او پاکیزګی د دین اسلام یو اهم جُز دي. او د مسلمانانو صفت دی. د الله تعالی د قرب او نزدیکت ذریعه ده. د مخلوق خدا د محبوبیت سبب دی د ناروغیو نه د

حفاظت دوائی ده. د ټولو نه لویه د رسول اللهﷺ طریقه ده. چی د هغی نه بغیر د مومنځ غوندی عظیم الشان عبادت هم ناقابل قبول دی. د حج غوندی لوی سعادت نامنظور دی. د قرآن غوندی عظیم الشان کتاب راخستل ممنوع دی.او دا د لایمسه الاالمطهرون اعلان دی.

دی وجی نه هر مسلمان نر او ښځه باندی فرض دی چی هر وخت ظاهر وی او که باطن خوان وی او که بچی کور وی او که لار پاك ساتل په کار دي.

الله تعالی دی مونږ ټولو ته د حضور اکرمﷺ د طریقو مطابق ژوند تیرول را نصیب کړی. آمین

وما علینا الا البلغ المبین

Maktaba Tul Ishaat.com

# پیغمبر صلی الله علیه وسلم رحمة للعالمین

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

"وَمَا ارسلناك الا رحمة للعلمین" سورة (۲۱) آیت: ۱۰۷ صدق الله العظیم

وَقَالَ النبی ﷺ انا رحمة مُهداة او کما قال علیه السلام.

جناب صدرِ جلسه او محترمو اوریدونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زما د تقریر موضوع د رحمة للعالمین ﷺ په نوم مبارك باندی ده.

اوریدونکو ورونو! د حضور ﷺ ذات مبارك یو بې انتها کمالات لری. د حضور ﷺ عزت او عظمت هم لامحدود دی. او هم دغه رنګی د حضور ﷺ د تعریفاتو او مدحې هم څه انتهاء نشته. د قرآن کریم په هره صفحه باندی هره رکوع کښې زما د آقا نورمجسم محمد عربی ﷺ عالی شان تذکره ده. کوم آیت چې ما تلاوت کړ په دیکښې الله تعالی د نبی اکرم ﷺ د شان نوی او عجیبه بیان کړی دی. قرآن فرمائی "وَمَا ارسلناك الا رحمة للعلمین" ای پیغمبر ﷺ مونږ ته د ټولو جهانونو دپاره رحمت لیږلی ئې. ای دلبره مونږ ته دیوی علاقې د پاره نه د یو کلی دپاره نه د یو محلی دپاره نه د یو بازار دپاره نه د یو ملك دپاره نه د یو قوم دپاره نه د یوه قبیلی دپاره نه د یو دور دپاره نه بلکې په دنیا کښې چې څومره خلق کوم ځای دی. دهر جهان دپاره د هر عالم دپاره رحمت ئې. د عالم آخرت دپاره هم ته رحمت ئې. د عالم حیوانات دپاره هم ته رحمت ئې. د عالم انسانیت دپاره هم ته رحمت ئې. تحت الثرٰی دپاره هم ته رحمت ئې. عرش معلی دپاره هم ته رحمت ئې. فرشتو دپاره هم ته رحمت ئې. ځوانانو دپاره هم جینکو دپاره هم د تمام کائنات دیوی یوی ذری دپاره ته رحمت رالیږل

شوی ئي. د یوې یوې علاقې دپاره یویو کلی دپاره یو یو کس دپاره هم رحمت راغلی ئي.

ای محترمو اوریدونکو! ما دی وئیلو ته پریږدی چې په نوری رنړا زما د نبی رحمت ده. سپوږمۍ کښې نور زما د نبی اکرمﷺ رحمت دی. ګلونو کښې خوشبو زما د نبیﷺ رحمت دی. دګلاب په غوټو کښې خوبصورتی زما د نبیﷺ رحمت دی. د تمامو نبیانو نبوت زما د نبی رحمت دی. د صحابه ؤ او چتوالی زما د نبی رحمت دی. د اولیاؤ ولایت زما د نبی رحمت دی. د علومو وراثت زما د نبی رحمت دی. د ابوبکرؓ صداقت زما د نبیﷺ رحمت دي. دعمرؓ عدالت زما د نبی رحمت دی. د عثمانؓ سخاوت زما د نبی رحمت دی. د علیؓ بهادری زما د نبی رحمت دی. د خالدؓ جرات زما د نبی رحمت دی. د سعدیؒ فصاحت زما د نبی رحمت دی. د بخاری ذهانت زما د نبی رحمت دي. د انور شاه فطانت زما د نبی رحمت دی. د عطاء الله شاه بخاریؒ خطابت زما د نبی رحمت دی. د حُسین احمد مدنیؒ سیاست زما د نبی رحمت دی. د تهانویؒ حکمت زما د نبی رحمت دي. د دنیا دهر قسم دوائی اثر زما د نبی رحمت دي. د هری بې چینۍ علاج زما د نبی رحمت دی. دهر کفر علاج زما د نبی رحمت دی. ددی کائنات وجود زما د نبی رحمت دی. زما او ستا وجود زما د نبی کریمﷺ رحمت دی.

بلکې زه یو قدم مخکښې تلل غواړم چې الله رب العٰلمین دی نو زما آقا رحمة للعلمین دی. والسلام

"وماعلینا الا البلغ المبین."

Maktaba Tul Ishaat.com

# د نبی اکرم ﷺ عزت او ناموس

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

"اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ" سورة (۳۳) الاحزاب: ۶،
وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ (اوکما قال علیه السلام).

محترم صدرِ جلسه او اوریدونکو ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن زه ستاسو خیالات، فکرونه، سوچونه، ذهنونه پنځلس صدی وړاندی واپس بوتلل غواړم راشی د تاریخ هغه پاڼې راواړوی. او وګوری چی دنیا کښې څه ؤ. تیارې تیارې وی ظلم و ستم وه. چل ول ؤ شرابونه او زنا کاری به شرم نه شوګڼلی په غلا او ډاکو به فخر کولی شو. انسان دبل انسان د وینی تږی وه. ماشومانی جنیکۍ به ژوندی ښخولی شوی. ښځې به د ځناورو غوندی ګڼلی شوی. د کمزورو او ضعیفانو په حال به چا رحم نه کولو. چی د چا زور د هغه شور والا قانون وه. د هر څیز د بدلی او انتقام سلسله به جاری وه. افراتفری وه ځان والی وه. د ګناهونو رواج وه. د بې حیائی غلبه وه. د انسانیت هغه بله ډیوه مړه شوی وه. هغه الله چی په خزان کی بهار راولی هغه رب چی د قحط په وخت کښې به وړی انسانانو چغېدونکو مارغانو او کمزورو حضراتو باندی د رحم بارانونه کوي. هغه الله جل جلاله چی زما او ستاسو او د هر څیز مالك دي نو د هغی الله تعالی په اشرف المخلوقات چی د هغوی د ځناورو نه هم بد حالت ؤ رحم وکړو او تاجدار ختم نبوت آقائے دوجهان سید الجن والانس، فخر موجودات سرور کائنات محبوب رب الارض والسماء خاتم انبیاء هادی حق امام الرُسل رشك ملائك، صاحب لولاك د حضرت آمنه رضی الله عنها لښت جګر د حضرت عبدالله نور نظر د شیر خدا وروړ د عمر رضی الله عنه او عثمان رضی الله عنه وروړ د

ابوبکر ﷛ رفیق او ملګری حضرت محمد ﷺ د کائنات دپاره أستاد. داعی او رحمت راولیږه.

اوریدونکو ورونو! زما د تقریر موضوع ښو ډیره لویه ده. لیکن وخت د ټولو دپاره متعین دی. د ساعت ستن هم ډیره بې وفا ده نو ماعرض کوو. چې د نبی اکرم ﷺ په راتلو دنیا کښې یو انقلاب راغی.

قدرمنو اوریدونکو! دا خبره خو د رڼا ورځ په څېر ظاهره ده. چې په کوم ځای کښې حق وی نو هلته باطل هم چکرونه لګوي. چې کوم ځای انصاف وی نو هلته ناانصافی کونکو ته هم ډیر درد محسوسیږی. کوم ځای چې انسانیت ښودل کیږی نو هلته د انسان په شکل کښې شیطانانو ته هم درد رسي. نو هم دا رنګې زما او ستاسو د محبوب خوبیانی ورځ تر ورځ د اسلام ترقی ته کتل او د هغه حاسدین به سوځیدل. رسول الله ﷺ ته به ئې کنځل کول. د رسول الله ﷺ صحابه وُ ﷢ ته به ئې قسماقسم تکلیفونه رسول. تردې چې د نبی اکرم ﷺ د قتل او شهادت منصوبه ئې جوړه کړه. د شان رسالت ګستاخی ئې شروع کړی.

لیکن مسلمانانو واوری زما د نبی کریم ﷺ صحابه اګر چې یواځې وه. کمزوري وه. مال او اسبابونه محروم وه. لیکن د هغوی زړونه د نبی اکرم ﷺ د محبت نه ډک وه. د هغوی دپاره د نبی اکرم ﷺ د عزت او عظمت د خاطره سرونه کټ کول. بچی یتیمان کول. ښځی کونډول آسان وه. لیکن د نبی ﷺ عزت او ناموس خلاف یو هم تکلیف نه شو برداشت کولی. ای زما د نبی اکرم ﷺ سره د محبت دعوی کونکو!

کله چې زه د تاریخ مطالعه کوم نو زه ګورم په هر دور کښې هر د معاشره کښې داسی ناسور پیدا کیږی چې هغوی په شان رسالت کښې د ختی پیدا کولو دپاره مختلفې حربې استعمال کړی. لیکن قربان شم د خپل رب په قانون چې د هر «فرعون دپاره موسیٰ»

چې کله ابوجهل زما د آقا ﷺ په شان کښې ګستاخی کوي. نو د

Maktaba Tul Ishaat.com

معاذ رضی الله عنه او معوذ رضی الله عنه په نوم ماشومان د دغی ګستاخ اعظم علاج کوی کله چی کعب بن اشرف د نبی کریم ﷺ په شان کښي ګستاخی نو دقبیله اُوس محمد بن مسلمه رضی الله عنه غوندی زمری دغه ګستاخ رسول جهنم ته رسوي .ای ما پریږدی. کله چی په معاشره کښي ابو رافع عبدالله غوندی ناسور پیدا کیږی او د نبی ﷺ په عزت باندی حروف لولی نو هلته د قبیله خزرج عبدالله بن عتیق غوندی عاشق رسول هم پیدا کیږی. کله چی د اسماء شاعره غوندی حسینه ښځه په خپله ناپاکه ژبه د نبی کریم ﷺ په شان کښي ګستاخی کوی. نو د حضرت عمیر بن عدی رضی الله عنه غوندی ړوند صحابی دهغې علاج کوی کله چی ابوعفك د شان رسالت ګستاخی کوی

او د مسلمانانو د ایمان امتحان اخلی نو د حضرت سالم بن عمیر رضی الله عنه غوندی فدائی د هغه علاج کوي کله چی ابن حطل د مسلمانانو ایمانونه ګوری نو هلته د زبیر بن عوام رضی الله عنه ایمان جوش وښیي. کله چی هندو فاج رال رنګیلا رسول شایع کولو کښي د نبی ﷺ په رسالت کښي لاس اوچتوی. نوبل خواه د غازی علم الدین غوندی فدائی د تحفظ رسالت ناموس دپاره میدان ته راځی. کله چی د ډنمارك هغه ګنده یهودیان اخبار جیلنډ پوسټن کښي دیو منظم سازش دلاندی د توهین رسالت ارتکاب کوی. او د دنیا د یونیم ارب مسلمانانو زړه آزاری کوی. نو د مسلمانانو په زړونو کښي د ایمان سکروټي چی په هغې د کروړونو ګناهونو پردې پرتي وی. نو هغه یو برك ووهي او په جوش راشی نو بیا تمام مصنوعات په ډیرانونو په نظر راځی. په سړکونو احتجاجات کیږی. او د غازی عامر چیمه شهید رحمة الله علیه غوندی عظیم مجاهد د آقا د حرمت دپاره خپل سر په تلی کښي ږدی. او د زمری غوندی حملی په شکل کښي د خپل نبی کریم صلی صلی الله علیه وسلم عزت بچ کوی.

سلام دی وی په هغه خلقو چی د اسلام د خاطر د نبی ﷺ د

ناموس د خاطره خپل سر په تلی کښي کيږدی او سرونه ورکوی خانونه قربانوی او دا اعلان کوی چې اوس هم مسلمانان ټول مجاهدين دي.

ای د شمع رسالت پتنګانو! زه د مسلمانانو په زړونو کښي د پټ محبت الله ﷻ او د رسول ﷺ انکار نه کوم. ليکن نن ماته د هغو ځوانانو ضرورت دی. چې هغه صحابی رسول ﷺ سيدنا ابوايوب انصاری رضی الله عنه د قبر د دفاع دپاره د وخت کماندر ته ووايی چې ای د سُپرپاور دعوی داره د زما د نبی اکرم ﷺ د خوږو او خوښ ملګری قبر دی که دی ته نقصان ورسيده نو زه به د ټولو عيسايانو قبرونه ختم کړم.

د الله تعالی نه دعا غواړو چې هغه مونږ ته د ختم نبوت او ناموس رسالت عظيم فکر را نصيب کړی. والسلام

"وما علينا الا البلغ المبين."

Maktaba Tul Ishaat.com

# د عمر فاروق رضي الله عنه سيرت

نحمده ونصلي على رسوله الكريم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تبارك وتعالى واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى. وقال الله تبارك وتعالى ايضاً "وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾" سورة (۲) البقره: ۱۵۴)

وَقَالَ النبي ﷺ: اول من اسلم عمر، اول من فتح باب الكعبة عمر، اول من هاجر علانية عمر. اوكما قال عليه السلام

محترم صدرِ جلسه او معززو اوريدونكو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

نن زما د تقرير موضوع ډيره اهمه اكرمه لويه اشرفيه افضله اعلى وبالاده. كوم چې د پيغمبر ﷺ مراد وه. د نبي اكرم ﷺ د دعا ثمره او ميوه ده. پروردگار انتخاب ؤ د سيد الابرار خسرؤ د حيدر كرار زوم ؤ د انسانانو انتهائي غمخوار د الله ﷻ په خمكه د الله ﷻ نظام قائم كونكى انتهائي خوش قسمت او عزت والاد خپلي وعدې پوره كونكى. امام المسلمين. امير المؤمنين راس المتقين سيدنا عمر فاروق رضي الله عنه په سيرت مباركه په نوم دى.

ګرانو اوريدونكو! عمر فاروق رضي الله عنه هغه واحد سړى دى چې راغى نو هم قرآن ويونكى اوچې تلونو هم قرآن ويونكى د قدرت عجيبه كرشمه ده. چې يو طرف ته نبي اكرم ﷺ د عمر فاروق رضي الله عنه دپاره دعا غوارې. او دويم طرفته عمر رضي الله عنه د نبي اكرم ﷺ د قتل او شهادت دپاره روانيگى. او رب عليم د عرش په كرسى ناست اوخاندې چې اى عمر رضي الله عنه ته خو زما د خوږ نبي اكرم ﷺ د قتل نه بلكې پخپله د هغه دپاره قتل كيدو ته روانيږې

محترمو اوريدونكو! رسول الله ﷺ دعا غوارې اللهم اعز الاسلام

باحد العمرین. ای الله ﷻ ته انتخاب وکه.

ابوجهل مسلمان که یا ابن خطاب زه دا پیژنم چی زما نبی کریم صلی الله علیه وسلم عمر نه ؤ غوښتی. د اسلام طاقت ئي غوښتی وه. اللهم اعزالاسلام. ای عرش والا اسلام ته عزت ورکه. زما محبوب دعا وکړه ای مولا انتخاب ستا ذمه دی جواب هم ستا ذمه داری ده او غوښتل زما ذمه داري ده ای مولی! ابوجهل مسلمان کړه یا عمرآسمان وخوځېد، فرشتې په چیغو شوی. پروردګار وفرمایل: ای زما خوږه پیغمبره ﷺ ای زما نیازبینه پیغمبره. ستا دعا عرش نه بره راغله وس به زه انتخاب کوم ما د ابوجهل زړه وکتبه هغه مړ مردار زندیق، بددین، بدترین لعین دی هغه ستا دشمن دی، زه په ابوجهل د سپی په مرګ مړکوم. د ماشومانو په لاس به ئي مړکوم. ستا په دعا به زه عمر رضی الله عنه ستا دروازی له راولم استقبال به یی کوم. نعره تکبیر به وهم خوشحالی به کوم عمر ته به کلمه وایم. د هغه لور به ستا کور ته را غواړم هغه به دا ستا سره یو ځای لیږم او دمسجد حرام دروازه به پرې خلاصوم کوم. هغه به فاروق اعظم رضی الله عنه جوړوم ستا خلیفه به ئي جوړوم. ای محمد ﷺ! ستا نه بعد به د هغه په لاس د دین بیرغ پورته کوم په تمامه دنیا کښي به د اسلام بیرغ د هغه په لاس ځلوم. د قیامت د ورځی پوري به یی ستا د روضې خواکی څملوم، ستا سره به یی د قیامت په ورځ د قبر نه اوچتوم او جنت ته به ئي داخلوم خکه عمر رضی الله عنه انتخاب د الله ﷻ دي.

سامعینو لږه توجه غواړم: خلیل دعا وکړه حضور ﷺ تشریف راوړه. زما دلبر دعا وکړه نو عمر رضی الله عنه تشریف راوړه. د خلیل دعا زما حضور ﷺ او زما د پیغمبر ﷺ مدعا عمر رضی الله عنه کوم چی خلیل غوښتو پنځه زره کاله وروسته راغی او مصطفی چی کوم سحر وغوښتو هغه ماښام راغی کوم چی خلیل وغوښتو نو د هغه سره یی ملاقات په معراج کښي وشو کوم چی دلبر وغوښتو نو داسی ملاقات وشو چی د قیامت پوری جدائی نه راځي

Maktaba Tul Ishaat.com

حاضرینو اوریدونکو! د حضرت عمرفاروقؓ په دور خلافت کښې اسلام هغه ترقی کړیده او هغه په داسې جذبه او ولولې سره د اسلام خدمات وکړل چې ترننه پورې دنیا د هغې د مثال پیش کولو نه عاجزه ده. دا هغه فاروق دی چې تراویح یې د جماعت سره مقرر کړلې. شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چې څومره حفاظ قرآن څومره قاریان او څومره چې د رمضان رزاګانې دی. نو په ټول اُمت د عمرؓ اِحسان دی. په دور فاروقی کښې پنځه زره(۵۰۰۰) واړه جماعتونه او نهه سوه(۹۰۰) لوی جماعتونه جوړ شوی وه. هر جماعت کښې د قرآن قاری او مدرس مقرر شوی وه. صرف دمشق کښې د فاروق اعظمؓ په دور کښې چې به حضرت ابو درداءؓ د قرآن درس کوو نو اتلس زره کسانو به د قرآن درس اوریده فاروقی دور کښې دری سوه فوجیان د قرآن حافظان شوی اولس زره صحابه کرامؓ د اهل بیتؓ حافظان شوی وه دا صحیح ده جامع قرآن عثمانؓ دی. لیکن د دی مُحرك فاروقؓ دی. د فاروقؓ د قرآن سره محبت وه.دخور نه ئي قرآن واوریده نو انقلاب راغی عمر ابن خطاب او د مصطفیﷺ د دعا جواب راغی.

اوس راشی. لږ د دی صحابی شوق شهادت هم ګورو. کوم چا چې په خپلو وینو د اسلام تاریخ ښکلی کړو. د خپلی زندګی په سرمایه باندی د اسلام ګلشن ښکلی کولو والاخوك وه. دا هغه فاروق اعظمؓ ؤ چې دا دعا یی غوښتل: اللهم ارزقنی شهادة في سبيلك واجعل موتي في بلد رسولك. کوم فاروق اعظمؓ هغه فاروق اعظمؓ چې د هغه د نوم نه به ټوله دنیا یریده. او نن څوارلس سوه کاله بعد هم چغې وهی چې د عمرؓ دور خلافت راتلل نه دی پکار. هغوی نن هم په خپلو محلاتو کښې د عمرؓ د توری ګزار دغشی ویشتل او د قدمونو چاپ اواز ورکوی. د هغوی د زړه درد نن هم د حضرت عمرؓ د یری نه بې اعتداله دی.

مجترمو اوریدونکو! لیکن آخر د سترګو تور هغه بده ورځ هم

ولیده چې عمر ؓ د نبی ﷺ په مصلی باندی مونځ کولو. او د قرآن تلاوت یې کولو. لیکن ناڅاپه د عمر هغې دعا رنګ راوړلو. او ابو لؤلؤ مجوسی په عمر ؓ حمله وکړه. او هغوی د شهادت هغه عظیمه مرتبه حاصله کړه او په تلوتلو کښې یې عبدالرحمن ؓ خلیفه جوړ کړو. او د عشق اومحبت هغه بې مثاله سبق یې خلقو ته ورکړو. چې د عمر ؓ جان خو دي لاړشی خو دنبی مصلی دی لاړه نشی.

ای د نبی اکرم ﷺ د اصحابو ؓ پتنګانو د قیامت په ورځ چې کله د شهداء کرامو حاضری کیږی نو د هر شهید د شهادت شاهد به مختلف مختلف وی د چا ګواه به قرآن وی. د چا شاهد به اُحد وی. د چا شاهد به بدر وی. د چا په حق کښې به د مدینی کوڅې شاهدې وی. د چا دپاره به دشتې او بیابانونه شاهد وی. زه دي قربان شم په سیدنا عمر فاروق ؓ چې کله د هغوی نمبر راشی نو د مسجد نبوی محراب به و فرمائی چې مولای کریم د فاروق ؓ نه پوښتنه مکوه ما نه پوښتنه وکړه زه ستا د آخری نبی اکرم ﷺ د سجدو او د صداقت شاهد یم، چې د فاروق اعظم ؓ د سوز قرآن او شهادت شاهد هم زه یم.

دعظیم شهادت د بخت سکندري دلیل دی ای عمر ؓ ستانه علاوه د دی خوش قسمتئ څوك مستحق کیدی شی. آخر به ولی داسی نه کیده.څکه دعا یې هم دغه کړیده چې ای الله ﷻ ما ته د خپل نبی ﷺ په وطن کښې شهادت را نصیب کړی.

محترمو اوریدونکو! نن چې د څلور واړو طرفونو نه په اسلام ډزی کیږی قایرونه کیږی او هر طرفته د اسلام د ختمیدو کوششونه کیږی نو ما ته عمر ؓ یادیږی.

د الله تعالی نه دعا غواړو چې الله تعالی مونږ تولو ته د حضرت عمر ؓ په نقش قدم تلل را نصیب کړی. آمین والسلام

"وما علینا الا البلغ المبین"

Maktaba Tul Ishaat.com

# د ژبې حفاظت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. اما بعد! فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

قال الله تعالی: "وَالَّذِینَ هُمۡ عَنِ اللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ۝۳

سورة(۲۳)المؤمنون:۳" وَقَالَ النبی ﷺ مَنۡ صَمَتَ نجا. اوکماقال علیه السلام

محترم صدرِ جلسه او معززو سامعینو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې په دې مجلس او محفل سعید اوِ بابرکت کښې ما ته کومه موضوع راکړل شویده د هغې عنوان دی د ژبې حفاظت

اوریدونکو ورونو! د الله ﷻ ارشاد دی "قَدۡ اَفۡلَحَ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ

سورة(۲۳)المؤمنون:۱" یقیناً ایمان والا کامیاب شول. ای قرآنه د ایمان والو نشانی څه ده. "اَلَّذِینَ هُمۡ فِی صَلَاتِهِمۡ خٰشِعُونَ ۝۲ وَالَّذِینَ هُمۡ عَنِ اللَّغۡوِ مُعۡرِضُونَ ۝۳ سورة(۲۳)المؤمنون:۲-۳" هغه خلق دې چې په خپل مونځونو کښې خشوع او خضوع پیدا کوي. او د فضول او لغویاتو نه خان ساتي. او ناکاره قول او فعل ته رجحان نه کوي

دسیدنا امام المرسلین فخرالاولین والآخرین محبوب "ذی القوة المتین" رحمة اللعالمین ﷺ ارشاد دی چې کوم سړي په الله ﷻ او آخرت باندې ایمان لري هغه له په کار دی چې د خپلې ژبې حفاظت وکړي

محترمو اوریدونکو! دا ژبه چې مونږ ته الله تعالی راکړې ده څومره لوی نعمت دی. څومره لوی انعام دی. بلکې په حقیقت کښې خالق کون مکان مونږ ته داسې مشین راکړی دی. چې د پیدائش نه تر مرګه پورې به زمونږ سره وی. هغه خپله ذمه داری پوره کوی. لیکن اوس چونکې د دې مشین په حاصلولو کښې مونږ محنت او مشقت نه دی برداشت کړی. جان ،مال او وخت په کښې نه دی لګیدلی. نو د دی عظیم نعمت قدر او منزله مونږ. نه دی پیژندلی. چې څه په

ژبه راځي بس هغه وایو. د حضور ﷺ ارشاد دی: چې په جهنم کښې به اکثریت د هغه خلقو وي. چې د ژبې د فضولیاتو د وجې نه به په جهنم کښې پړمخې وغورځول شي.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو واری خپله ژبه په لاس کښې ونیوله او راکش یې کړه حضرت عمر رضی الله عنه ولیده نو ویې وفرمایل ای د محبوب پیغمبر ﷺ نائب ای افضل البشر بعد الانبیاء دا ته څه کوي. ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل ای عمره! اِنَّ هٰذَا اَوْرَدَنِی الموارد، دې ژبې زه په ډیر لویو هلاکتونو کښې اچولی یم.

دې وجې نه زه د دې د قابو کولو کوشش کوم. چې په دې کښې ښه والی خو وی لیکن بدوالی نه وی. نصیحت خو وی لیکن غیبت نه وی. خوږې خبرې خو وی لیکن کنځل نه وی نرمه خو وی لیکن ګرمه خبره نه وی عدل خو وی لیکن ظلم نه وی. اجر خو وی لیکن زجر نه وی. خیر خو وی. لیکن شر نه وی. قدرمنو اوریدونکو! د نبی اکرم ﷺ فرمان دی کوم سړی چې ما ته د دووه څیزونو ضمانت راکړی نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم. یو د ژبې او دویم د شرمګاه.

حضرت علامه شیخ فرید الدین رحمة الله علیه فرمائی چې کوم سړی زیاتې خبرې کوی. نو د هغه په سینه کښې د زړه ناروغي وي. روحانیت نه وی مخ کې انوارات نه وی. بیا داسې سړی د ژبې د افتونو او بلاګانو کښې ګرفتار وي. کله خطاء او دروغ کله غیبت او بهتان کله ریاء او نفاق کله تکرار او خصومت جنګ جګړې کله خبرې کمې زیاتې کولو سره کله مخلوق ته په نقصان رسولو کښې کله سب و شتم کله ظلم و جور کله د لعنت او ملامتیا الغرض دا چې خاموشی کښې نجات او کثرت کلام کښې هلاکت پروت دی. دعا کوی چې الله تعالی مونږ ته زمونږ په خبرو کښې کارونو کښې ګفتار کښې کردار کښې فکرونو کښې عادتونو کښې تاثراتو کښې جذباتو کښې او په هر حال کښې د حضور اقدس ﷺ اتباع را نصیب کړی. آمین والسلام

وما علینا الا البلاغ المبین

Maktaba Tul Ishaat.com

# دَ والدینو مرتبه دِ قرآن او حدیث په رڼا کښې

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم. امابعد! فأعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم

قَالَ اللهُ تَعَالٰی: "وَبِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا" (سورۃ ۲، البقرہ: ۸۳)

وَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ من ارضٰی والدیه فقد ارضٰی خالقه اوکما قال علیه السلام.

محترمو اُستاذانو، صدرِ جلسه او زما د سفر ملګرو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

نن چې زه په کومو خبرو باندې شوندې خوځول غواړم نو د هغې عنوان دی د والدینو قدر کول د قرآن او د حدیث په رڼا کښې

ګرانو اوریدونکو! دین اسلام چې په اولاد باندې دَ والدینو دپاره څه څیزونه لازم کړیدي. نو دَ هغې نه مخ اړول او روګرداني کول ده بد بختې علامه ده. ده دې وجې نه چې څومره هم دَ والدینو خدمت وکړې شي دا هم کم دی.

لهذا د الله تعالی ارشاد دی: "چې مور پلار یا په دې دواړو کښې یو ستا په زندګی کښې بوډا شی نو بیا هم د هغوی د وړاندې (اُف) مه کوی" او نه هم په تیزه خبره کوی. هغوی سره په ادب ملاویږي. او د هغوی د وړاندې په شفقت عاجزی، او انکساری سره مخی ته راځی.

حضرت مجاهد رحمة الله علیه د دې آیت مذکوره په تفسیر کښې لیکی: چې کچیرې د یو کس والدین بوډا ګان شی، او دی انسان ته مور او پلار متیازی (پیشاب)، وینځل او صفا کول راپېښ شی. نو دا انسان به ترې نه مخ نه اړوی. ځکه چې والدینو د ده دپاره دا سختی په وړوکوالی کښې برداشت کړیدی.

او حضرت حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی: کچیرې د دی (اُف) کلمې نه لاندې بله کلمه وای نو الله تعالی به هغه هم حرامه کړې دی.

تفسیر ابن کثیر لیکلی دی. چې یو سړی خپله مور په ملا باندې اوچته کړې وه. او طواف ئې کولو. نو حضور ﷺ ته ئې عرض وکړو. چې آیا ما دخپلې مور حق ادا کړو. حضور ﷺ ورته و فرمایل چې دیوې ساه حق دې هم نه دې ادا کړې. اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيرًا.

زما ملګرو ماویلو ته پرېږدی. دَ مور غیږه (لمن) د انسان اولنې درسګاه ده. مور ده ستړګو رڼا او ده زړه سکون دی. ده مور سوری (سایه) یخه هوا ده. مور د تکلیفونو یوه خزانه ده. مور د تیارو په ژوند کښې د رڼا یوه مُنَاره ده. د مور دُعا ده کامیابی راز دی، ده مور د پښو لاندې جنت دی. مور د دنیا خوږه هستی ده. د مور نه بغیر دنیا نیمګړې ده.

اوریدونکو وروڼو! حضور ﷺ د والدینو د حقوقو په بارد کښې ارشاد فرمایلی دی. چې د مور پلار رضا د الله رضا ده.

والدین د جنت او د جهنم یوه ذریعه ده، والدین ته غوریدل نافرمانی د، ده والدینو ته تکلیف رسَوُنکی به جنت ته نه داخلیږی، والدینو سره اخلاق لرل د رزق او د عمر د ډیر والی ذریعه ده، والدینو ته د رحمت په نظر کتل د مقبول حج برابر دی. د والدینو خدمت د نفلی حج او عمری برابر دی.

الله تعالی نه دُعا غواړو چې مونږ ته په حقیقی معنو کښې د مور او پلار قدردانی نصیب کړی. و السلام.

وَمَا عَلَيْنَا اِلَّا الْبَلٰغ، وَآخِرُ دَعْوٰنَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِين

Maktaba Tul Ishaat.com

# تاسي کولی لاندي کتابونه د ورکړ شوی لینکونو څخه ښکته ( ډانلوډ ) کړی

| د ښکته کولو تړونی | کتابونو نوملړ | شمیره |
|---|---|---|
| https://bawar.net/download/index/1170 | غیر مقلدینو اعتراضونه د هغوي جوابونه د احنافو دلایلو سره | 1 |
| https://bawar.net/download/index/1371 | مد لل لمونځ ( مولانا فیض احمد ملتانی) | 2 |
| https://bawar.net/download/index/1567 | دخالد بن ولید رضي الله عنه جهادي کارنامي | 3 |
| https://bawar.net/download/index/1592 | نبوي او سپیځلي ویناوې | 4 |
| https://bawar.net/download/index/1652 | احقاق الحق څلور ټوک | 5 |
| https://bawar.net/download/index/1677 | زبدة التحقیق في الجهاد وتقلید | 6 |
| https://bawar.net/download/index/1685 | داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنیفه (رح) | 7 |
| https://bawar.net/download/index/1847 | تفسیر معارف القران لس ټوکه | 8 |
| https://bawar.net/download/index/1587 | لس مشهوري ناروغۍ | 9 |
| https://bawar.net/download/index/1904 | د افغانستان تاریخ له راشده خلافته تر اسلامی امارته | 10 |
| https://bawar.net/download/index/1916 | د مذهب په جامه کې د استعمار مزدوران | 11 |
| https://bawar.net/download/index/1922 | علم النحو پښتو | 12 |
| https://bawar.net/download/index/1978 | دغیر مقلدینو دامام بخاري سره اختلاف | 13 |
| https://bawar.net/download/index/1979 | داسلامي معلوماتو ذخیره پښتو | 14 |
| https://bawar.net/download/index/1980 | دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه حیرت انګیز واقعات | 15 |
| https://bawar.net/download/index/2025 | صفوة التفاسیر پښتو | 16 |
| https://bawar.net/download/index/2034 | احسن التعبیر في المسئلة الجبر وتقدیر | 17 |
| https://bawar.net/download/index/2035 | د همجنس بازي بربادی او دهغه علاج | 18 |
| https://bawar.net/download/index/2036 | تحقیقات حماسي | 19 |
| https://bawar.net/download/index/2037 | جوامع الکلم څلویښت احادیث مفتي محمد شفیع | 20 |
| https://bawar.net/download/index/2066 | المهند المفند عقاید اهل سنت والجماعت علماء دیوبند | 21 |
| https://bawar.net/download/index/2067 | انسان او شیطان(ناول) | 22 |
| https://bawar.net/download/index/2068 | اتلس ناولي قاتلین جنایي (ناول ) | 23 |
| https://bawar.net/download/index/2073 | تشریحات نابغه | 24 |
| https://bawar.net/download/index/2077 | جنتي ښځه | 25 |
| https://bawar.net/download/index/2078 | د جنت اغزنه لار | 26 |
| https://bawar.net/download/index/2084 | دپیغمبر لمونځ احنافو ته ډالۍ | 27 |
| https://bawar.net/download/index/2085 | تجلیات فردیه پښتو | 28 |
| https://bawar.net/download/index/2086 | بدرالفتو | 29 |
| https://bawar.net/download/index/2087 | دقرباني مسایل احکام ، فضایل،او مسائل مدلل | 30 |
| https://bawar.net/download/index/2088 | دګونتنامو ماتي زولنې | 31 |
| https://bawar.net/download/index/2089 | فن الخطابه (دوینا فن) | 32 |
| https://bawar.net/download/index/2090 | نشر الطیب في ذکر النبي الحبیب | 33 |
| https://bawar.net/download/index/2091 | اصول حدیث (شهید شیخ الاسلام مولانا غلام حضرت الحنفی ) | 34 |
| https://bawar.net/download/index/2092 | تنبه الغافلین پښتو | 35 |
| https://bawar.net/download/index/2093 | وا مدني یاره نعتیه غورچاڼ | 36 |
| https://bawar.net/download/index/2095 | تفسیر ایوبی حنفي | 37 |
| https://bawar.net/download/index/2096 | په یو کلیمي سره د طلاقو واقع کیدل | 38 |
| https://bawar.net/download/index/2097 | ارشاد الطالبین دزادالطالبین شرح پښتو | 39 |
| https://bawar.net/download/index/2101 | البصایر پښتو | 40 |
| https://bawar.net/download/index/2103 | ۳۰۰ ذهني پوښتني او ځوابونه | 41 |
| https://bawar.net/download/index/2104 | جامع الوظایف | 42 |
| https://bawar.net/download/index/2106 | داحنافو دلایل | 43 |
| https://bawar.net/download/index/2107 | د کلیساه د پردو ترشاه پټ لاسونه | 44 |
| https://bawar.net/download/index/2108 | د دعوت فنون | 45 |

که د کوم کتاب په ډانلوډ کولو کي ستونزه لري مهرباني وکړي زمونږ سره آړیکه ټینګه کړی.

https://www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai
WhatsApp: 0093706912702
https://T.me/Ezatullah_sultanzai

# فتاوىٰ يوسفيه

مشهوره په

## ستاسو جديد مسائل
## اودهغې حل

سره دحوالو او تخريجه

**مؤلف**

حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوى شهيد

مفتى اعظم كراچى

**تقريظونه**

شيخ الحديث حضرت مولانا **سيدشيرعلى شاه** مدنى مدظله

شيخ الحديث دارالعلوم حقانيه اكوړه ختك

شيخ الحديث حضرت مولانا **محمدادريس** صاحب مدظله

شيخ الحديث دارالعلوم نعمانيه اتمانزئى


مكتبه رشيديه

جی ٹی روڈ سردار پلازہ [illegible] اکوڑہ خٹک 0344-9084693



Maktaba Tul Ishaat.com